خوارہ تراخہ

دویم جلد ۱۹۷۰

عبداللہ جان مغموم
(مرحوم)

(SECOND TIME PRINT 1970)

فاروق میڈیکل سٹور خیبر بازار پیښور ښار



عبداللہ جان مغموم (مرحوم)

c

په شکریه
د ریډیو پاکستان پېښور

خوږه ترخه

دویمه برخه

عبدالله جان مغموم
(مرحوم)

فاروق میډیکل سټور خیبر بازار پېښور ښار
عظیم پبلشنګ هاؤس خیبر بازار پېښور ښار
یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار- پېښور ښار

D

ټول حقوق مصنف سره دي

طابع و ناشر:

مصنف عبدالله جان مغموم

مطبع .... منظور عام پریس پېښور

پرومبے ځل .... مارچ ۱۹۷۰ء

شمیر .... یو زر (۱۰۰۰)

قیمت .... څلور روپۍ

F

مَنَنه

ما چه "خوارهٔ تراخهٔ" اول جلد چاپ کولو نو خدائے شته چه وارم خطا وو. ځکه چه تراوسه پورے چه د پښتو هر شاعر او ادیب خپل کتاب چاپ کړے دے نو بیا هم داګیله کوی چه کتاب څوک نهٔ اخلي، د پښتنو سره د پښتو قدر نشته. نو ځکه زهٔ هم د "خوږو ترخو" په چاپ کولو داسے زړهٔ ور نه راتلم. خو دا م لوئے ارمان وو چه "خوارهٔ تراخهٔ" د چاپ شي. ارمان دے که څوک اخلي او که نه. لنډه دا چه "خوارهٔ تراخهٔ" اول جلد چاپ شو، او تاسو یقین اوکړئ چه پښتنو دا کتاب دومره په مینه واخستو چه دادے زهٔ ئے د دے کتاب دوېم جلد چاپ کولو ته تیار کړم. د "خوږو ترخو" سره پښتنو د خپلے مینے او خپلے پښتو ثبوت ورکړو هر چا کتاب واخستو، هر چا اولوستو، او په دے شان ځما د زړهٔ دا ارمان پوره شو چه خوارهٔ تراخهٔ دے هر څوک اولولی او ځما خبرے د په زړهٔ واچوی. دا نه شم ویلے چه څومره کسانو به ځما خبرے په زړهٔ اچولی وی، خو زهٔ په دے خوشحاله یم چه "خوږو ترخو" له د تاخ په ځائے پښتنو په خپلو زړونو کښے ځائے ورکړو۔

د پښتو لویو لویو ادیبانو، شاعرانو، مشرانو او لوستونکو

G

دَ "خوږ و ترخو" په حقله ماته بے شمیره دَ ستائینے ډک خطونه راولیږل شول او ستاسو دے ستائینے زما حوصله او چته کړه - زهٔ دَ دے مشرانو او قدردانانو دَ دے ستائینے مشکوریم.

څما دَ پاره دا هم دَ فخر خبره ده چه پاکستان رائټرز ګلډ دَ کتابونو په مقابله کښے "خوږ و ترخو" له اول انعام ورکړو. او دائے دَ نثر دَ بهترو کتابونو په فهرست کښے اوشمیرلو او زهٔ ئے دَ دے جوګه کړم چه نن دَ دے سلسلے دویم جلد ستاسو په خدمت کښے پیش کړم.

څما دا ایمان دے چه که زمونږ دَ معاشرے نه دا بدعادتونه غلط رسمونه رواجونه او داخامئ لرے شی نو پښتون قوم به دَ عزت مقام ته اورسی - پښتون به یو سپیڅلے قام شی او هم دَ دے غرض او مقصد دَ پاره زهٔ خپلو رونړو ته نقصونه او خامئ په ګوته کوم، دَ هغې علاج ورته بنایم چه دا بنهٔ دی دا خراب دی - دا کوئ - دا مهٔ کوئ - او دا ټولے خبرے ما دَ عوامو سره په عوامی ژبه کښے کړی دی ځکه چه عوام به هم دَ عوامو ژبه کښے پوهه ویل غواړی - "خوږهٔ ترخهٔ" دویم جلد هم دَ معاشرے په ناړامو او خامیو دَ تنقیدی مضامینو مجموعه ده - زهٔ طمعه لرم چه لکه دَ اول جلد به دا دویم جلد هم پښتانهٔ رونړه په مینے سره واخلی څما حوصله افزائی به اوکړی او په دے شان به دَ "خوږ و ترخو" دَ دریم جلد چاپ کولو دَ پاره څما ملا مضبوطه کړی - په خدائے مو سپارم!

عبد الله جان مغموم

(مرحبکی)

پېژندګلو

د ورسک د سړک په نمرختیزه غاړه د پېښور نه په څلورم میل د خلیلو په علاقه کښې د ارمنګی نومې یو وړوکی شان کلی دېره د پخوانه آباد دے. په دے کلی کښې د کال ۱۹۲۸ء د اکتوبر په ۲۸ تاریخ په یوه درنه او علمی کورنۍ کښې یو ماشوم پیدا شو چې مور پلار ورله نوم عبدالله جان کېښودو. په ماشومتوب کښې به دۀ ته خلقو د ډېرے مینې له کبله ککے ویلو دغه ککے عبدالله جان چې د خپلو سوا او غوزرزو پوزو نه راغونډ شو نو د اتو کالو په عمر کښې والد محترم د پېښور ښار په سکول کښې داخل کړو. وائی چې دے د هغه دوران وو چې استاد به ورته د اور لمبه ویله. چې کال ۱۹۴۳ء راتلو نو ککی عبدالله جان لسم پاس کړے وو. او دغه وخت دغه سره لمبه به یادیو روښانه رڼا په شکل کښې بدله شوے وه. لسم پاس کولو سره سمدستی په ریډیو پاکستان پېښور کښې (چې هغه وخت آل انډیا ریډیو بللے شو) د سټوډیو کلرک په حیثیت ملازم شو. د نشریاتو سره ئے د اول نه دلچسپی وه. ځکه چې د سکول په زمانه کښې به ئے کله د بچو پروګرام کښې حصه اخستله. د نشریاتو سره

معذرتی دَ عبدالله جان په ذهن داسې خوروو چې دَ تعلیم نه فارغیدو سره سمدستی ئې دَ ریډیو ملازمت خپل کړو۔ دَ دغه ملازمت په دوران کښې به ئې کله کله په ډرامواو فیچرونو کښې حصه اخستله۔ او چې لږه موده تیریده۔ نو عبدالله جان دَ پښتو پروګرامونو مېلي شوے اناؤنسر او دَ ډرامو دومره اوچت اداکار شو چې په جذباتی او رومانی اداکارئ کښې دَ ده په شان مرکزی کردار ریډیو پاکستان ترننه پورے پیدا نکړے شو۔ او بیا دَ ده دَ اداکارئ دَ عروج مرحله دَ "قاضی صیب او هدایت خان" دَ دوؤ دوستانو خبرو اترو کښې دَ "هدایت خان" دَ کردار په شکل کښې سرته اورسیده۔ دَ دغې ورځې نه عبدالله جان ګکی نه هدآیت خان شو۔ دَ "هدایت خان" کردار دومره مقبول شو چې دَ دے پروګرام په وخت به په حجرو کښې ریډیوګانو ته دَ پښتنې اینورو ځائے نهٔ وو۔ دے دَ اولس په زړونو کښې تردے حده ځائے شو۔ چې دَ دهٔ ملاقات له به دَ لرے لرے ځائے نه خلق راتلل او دَ دهٔ یو نظر لیدل به ئے دَ ژوندیوه نه هیریدونکے واقعه ګڼړله۔

دَ ریډیو په شان ادبی ماحول کښې دَ فنکار عبدالله جان هغه ادبی صلاحیتونه کوم چې دَ موده راسے دَ اظهار دَپاره ناقلاره وو، څنډونے اوکړے۔ او دغه ادبی مینې دَ عبدالله جان نوم سره دَ یو بل نکی اضافه اوکړه۔ او دَ دغې نه پس دغه نکے "مغموم" دَ ده دَ نامه یو جزو اوګرځیدو۔ او دَ دے نه روستو مغموم دَ غزل په

او نوي کردار کښې آورېدونکو ته پیش کړے شو. هدایت خان لوم ترے لرے کړے شو او "پېنده خان". نوم ورله کېښودے شو. دا پروګرام هم په عوامو کښې ډېر مقبول دے. دا پروګرام ترننه پورے د پېښور ریډیو نه باقاعده نشر کېږي. او عبدالله جان مغموم د پېنده خان په آواز اورېدونکو ته مخاطب کېږي. آورېدونکي هره ورځ د دهٔ خبرے آوري خو مړېږي پرے نه. د دې وجه داده چه د دهٔ په اداکارۍ کښې تصنّع نشته. او د خپل کردار په اصل شکل کښې د اداکولو ملکه خدائے پاک ور بخښلے ده.

د آزادۍ نه پس تر د نوو آزادو قامونو زمونږ په ژوند کښې هم بے شمیره واقعات، حالات او حادثے راپېښے شوے دي او په دغه حادثو کښې د ټولو نه اهمه حادثه د کال ۱۹۶۵ء د ستمبر د هندوستان او پاکستان ترمینځه جنګ وو. په دے جنګ کښې هرچا خپل خپل کردار په ډېر ښهٔ شان سره اداکړے وو. که یو خوا ته د پاکستان شاهینان او نور توریالے فوځ د دښمن توپو مشین ګنونو او جهازونو سره په میدان او فضا کښې په جنګ وو. نو بل خوا ته ریډیو پاکستان هم د دشمن خلاف د جنګ یو ځان له محاذ پرانستے وو. او په دغه محاذ ئے دشمن له زبردسته ماتے ورکړے وه. د جنګ

په دې ورځو شپو کښې به عبد الله جان مغموم هره شپه پاؤ کم نهه بجې د ریډیو پاکستان پېښور نه "د پاکستان غزا" په نوم (چه خلقو به ورته د شاسنړی پروګرام ویلو) یو پروګرام نشر کولو. د دې پروګرام د مقبولیت اندازه د دې نه لګیدے شي چه څهٔ وخت به دا پروګرام شروع شو، نو په بازارونو کښې به تګ راتګ ټپ اودریدو. خلق به د ریډیوګانو نه داسې راټاؤ شول چه په لاره تیریدل به ګران وو. تر څو به چه خلقو "د پاکستان غزا" پروګرام نه وو آوریدلے تر هغې به ئې بل څه کار نهٔ کولو.

حقیقت دا دے چه "د پاکستان غزا" به په مړو وجودونو کښې ساه راپیدا کوله. اوده جذبات به ئې راولړزول. پریوتے حوصلې به ئې راپورته کولے. او د پاکستان د اولس په زړونو کښې به ئې د جهاد یوه نهٔ سړیدونکې جذبه راپیدا کوله. نهٔ پوهیږم چه دا د مغموم د قلم زور وو، که د مغموم د ژبې اثر وو، چه ټول ملت ئې د هر قسم حالاتو د مقابلې د پاره ډال سینه اودرولے وو. نو ځکه زهٔ په یقین سره دا وئیلے شم چه تر کومے پورے د دغه جنګ د نازکې نه نازکه واقعه بیانیږی او چه تر کومے پورے د دغه جنګ نقش زمونږ په ذهنونو کښې موجود دی، "د پاکستان غزا" به ورسره سمه

یادولی شي او دَ مغمومؔ نوم به په عزت او احترام سره آخستے شئ

دَ تاشقند دَ لوظنامے نه پس دا پروګرام بند شو۔ او
په دے رنګ آوریدونکی دَ یو ډیر دلچسپ او جذباتي پروګرام
نه محرومه شول۔ اوریدونکو ډیر شور اوکړو۔ خو دَ حالاتو
او واقعاتو تقاضو دَ اولس په خواهش او جذباتو یخے اوبهٔ
توی کړے۔ وخت تیریدو، دَ خلقو غوښتنه هم هغسے
جاری وه۔ چه کله "دَ پاکستان غږ" نشي نشرکیدے نو نه دِ
نشرکیږی، خو په دغه ډول یو بل پروګرام دِ عبد الله جان
مغمومؔ شروع کړی، چه دَ آوریدونکو پورے تسلي کیږی۔
او آخر مغمومؔ دَ خلقو دَ خواهش احترام اوکړو۔ او
د پاکستان غږا" په ډول یو بل پروګرام "خاوره دَ تراخهٔ" په نوم
ئے لیکل او پیش کول شروع کړل۔ دلته ګلے۔ هدایت خان،
پینده خان او مغمومؔ عبد الله جان دَ مرچکي په نامه دَ
اوریدونکو سره خپله پیژندګلو اوکړه۔ دَ نشریاتو په دنیا
کښے بیا یوه رنګیني راپیدا شوه۔ دَ آوریدونکو بیا دیدیو نه پام
شو۔ خو دے ځل دَ مغمومؔ دَ خوږ د ترخو دَ آوریدونکو دَ پاره
یوه هفته انتظار کول وو۔ دَ یو پیر نه تر بل پیر پورے۔
ډیر اوږد انتظار دے۔ اوتاسو یقین اوکړئ چه دَ پښتو نخوا

نزینجے، ځوانان بوډاګان او ماشومان د کوټو په بندونو
د پیر تر ورځې پورے ورځې شمیری - د پیر ورځ او د ماسختن
پاڅکم نهه بجے د هرچا په ذهن نقش شوی دی - په دے
ورځ د خوږ و ترخو د آوریں و د پاره هر آورین ونګے سم د
سحره لیواله وی - نو دا د عبدالله جان مغموم د قلم زوراو
د ژبے جادو نه دے نو څه دی - زهٔ په یقین سره دا ویلے
شم - چه مغموم په کوم ډول او کوم دلچسپ انداز کښے
موږ ته خپلے خامئ په ګوته کوی، نو د هغ جواب نشته - د
مغموم خبرے که هرڅو ترخے وی - په معاشرے پورے
یو طنز وی - ولے د دے طنزاو دے ترخو نه مغموم د چینو
او شکرو داسے خول چاپیره کړی - چه اوریدونکی ئے په
ترخو هډو پوئے نه شی - او خبره ئے مغزو او زړهٔ ته
ور پریوځی -

نو خبره رم دا کوله چه د جنګ د لړو لړے ګیډونه پس
مغموم صاحب خپل قلم، ذهن او ژبه د خپل قوم د اصلاح
د پاره وقف کړی دی - زموږ په لړے لړے کلو کښے اوسیدونکے
اولس لاتراوسه پورے په تورو تیرو کښے پروت دے، ترقی
یافته قومونه صحراګانے او ځنګلونه خوپریږده چه ستورو
او سپوږمئ ته اورسیدل - ولے موږ نه لاتراوسه پورے

هم په خپل کور کښې چه لږه شپه راخوره شي نو په هر
کوټ پیر او هره ونه کښې راته پیریے ینغ ناست وی۔ ذکور
نه بهر وتل وی، او په مرئ راته د پیری غلی کیدل وی
د پښتون په شان زړهٔ ور، بهادر او غیور قوم په باره کښې
د دے قسمه بزدلئ خیال هم نه وو راوستل پکار۔ دغه
قسما قسم وهمونه زمونږ د لارے خنډان دی۔ او ترڅو
پورے چه د دغه وړو وړو خنډانو د لرے کولو بند وبست
او نشي۔ او زمونږ ذهنونه د دغه فرضی لامخونه اوزګار نه
شي۔ تر هغې پورے مونږ یو قدم هم وړاندے نشو تلے۔
دے سره سره د مذهبی عقائدو مزے مو هم کمزورے
شوے دے۔ او دغه شان بے ځایه شکونو او دروغو روایتونو
زمونږ دین د نورو خلقو د خندا کړے دے۔ نو ترڅو پورے
چه دین ته توجه او نشي او د دین صحیح مفهوم زمونږ
په ذهن کښې کښېنهٔ نولے شي تر هغې پورے مونږه صحیح
مسلمانان هم نه شو جوړیدے۔ ولے دا داسے مسائل دی
چه په ظاهره خو واړهٔ لیدلے شي خو مینځ کښې زمونږ
د معاشرے په وړاندے تګ کښې هم دا حائل دی۔ دغه
باریک او د نظر نه په شمڼه عیبونه د مغموم صاحب د
تجسس نظر ډیر په آسانه بیاموڼی او زمونږ په مخکښې ئے

په عامیانه ژبه کښې په یوه مسّلله طریقه پیش کړی. نو په دے لحاظ سره که مغموم صاحب د قوم د اصلاح دپاره یو لوئے مبلغ اوګنړو، نو بے ځایه به نهٔ وی۔

مغمومؔ صاحب له چه قدرت د لیکلو کومه ملکه ورکړے ده، په خیالاتو کښې ئے څومره سوز، الوت او روانی ایښے ده۔ په قلم کښې ئے څومره خواږهٔ ایښي دی، د هغې مثال د یو خور دور سمندر یا دریاب دے۔ نو تر څو پورے چه ځما په قلم کښې د مغمومؔ صاحب په شان روانی او د هغهٔ په شان د خیالاتو په یوه نکته د مرکوز کولو صفت نه وی نو تر هغې پورے به زهٔ یو لوئے سمندر د قلم په یو څو ټکو کښې څنګه راېند کړے شم۔

دا د مغمومؔ کمال دے، چه که طنز لیکی که مزاح، نو په نقره نقره د اوریدونکو او لوستونکو د ښکے پخپله خوربږی او راټولیږی۔ که جذباتی مضمون وی نو ورسره ورسره د جذباتو او احساساتو د طوفان یوه چپه او چنیږی او بله راپورته کیږی او په قلار به ورخوریږی۔ او بیا په فطری وجدان کښې داسے ورغوپه شی لکه چه دا هم د لوستونکی یا آوریدونکی هم خپل جذبات او احساسات وی۔

"خواږهٔ تراخهٔ" ستاسو د وړاندے دی۔ د دے نه به

تاسو په ښه شان سره اندازه اولګولے شئ چه دا په
پختو ادب کښے کوم مقام لري. په دے کښے چه د ماشومانو
زنانه و او عوامو کومے محاورے دي، دا به د پښتو ادب په
پنګه کښے اضافه هم اوکړي. او د دے د چاپ کيدو سره
به په پښتو ادب کښے د نثر د طرز تحرير يو نوے باب
پرانستي شي.

په هر يو "خوارده ترا خه" کښے زمونږ د مختلفو معاشي
بيمارو يو نه يو نسخه هم موجوده وي. نو پکار دي چه
پختون قوم د "مرچکي" د حکمت حوصله افزائي اوکړي. او
کم از کم د خوږو ترخو يوه يوه نسخه خو د ځان سره اوساتي.
ځما د دے اوږد بيان مقصد د عبد الله مغموم (مرچکي)
پيژندګلو تاسو سره کول وو. د خوږو ترخو په حقله نه
خپله رائے ترڅه حده پورے محفوظ ساتم. او دا خبره لوستونکي
ته پريږدم چه خوږو ترخوله د پښتو ادب په ميدان کښے
مقام درکوي.

عبد الرحمن شباب

۲۵/۳/ ۱۹۶۹ء

يو څو خطونه

دَ "خوږ ترخو" دَ دريمې جلد په حقله يو څو خطونه ستاسو په وړاندې دي. دې نه علاوه ما ته ډيرو ليکوالو او درنو مشرانو دَ ستائنې ترشهٔ و خواږهٔ خطونه رالېږلي دي، چې ځما حوصله ئې پراوچته کړې ده. زهٔ دَ دغې ټولو مشرانو کشرانو په جولو جولو شکريه ادا کوم، او که ځائے کيدے شوے نو ما به دغه ټول خطونه هم په دې دوئيم جلد کښې شامل کړي وو. خو ځائے کم دے، نو هيله لرم چې خاطر به نهٔ درنوی.

مغموم

محکمہ قومی تعمیر نو
۸۰، فیروز پور روڈ۔ لاهور
۱۲ر نومبر ۱۹۷۰ء

عزتمنده روره خدائے دِ خوشحاله لره!

السلام علیکم۔ امید دے روغ جوړ به یئ۔ کتاب دِ راورسیدهٔ۔ دَ یادګیرنے دے ډیره ډیره شکریه۔ ځ دے نه اول بل یو جلد هم نه دے رارسیدلے۔ شکریه مې دِ زړ ځکه ادا نکړه۔ چه کتاب مې لوستهٔ، وئیل مې چه دَ لوستو نه پس به خپله رائے هم درادلیږم۔

په نثر کښے په دومره ساده، پسته او خوږه ژبه کښے دَ پښتو ډیر کم کتابونه لیکلی شوی دی۔ ځکه چه آسانه او عام فهمه پښتو لیکل ګران او ګرانه لیکل آسان دی۔ ځما داګمان نه وو، چه کومے خبرے اتره دَ ریډیو دَ پاره او لیکلے شی او صرف غوږ او غوږ سره تعلق لری، هغه به کتابی شکل کښے دا سے دلچسپ وی۔ چه سترګے به ترے بل طرف ته هډو اوړی نه۔ دَ خبر او بصر دا امتزاج ځما ډیر خوښ شو۔ خدائے دِ ژبه کښے اثر او قلم کښے قوت هم دغه رنګ لره۔

دَ کتاب دَ لوستو نه ما ته ذاتی فائده دا حاصله شوه چه ډیر بچی مې تر زده کړل او هیر شوی متلونه را یاد شو۔ حیران یم دَ

یم چه زمونږ دَ محمّد زو او ستاسو دَ داوُدزو علاقه یو بل سره پیوست دهٔ، وړه بیا هم پکښې دَ لفظونو ساخت او تلفّظ بېل بېل دے۔ مثلاً مونږ چمغرق وایو او تاسو چنغړک۔ مونږ سره لړے تبه تاسو سرلړے تبه۔ مونږ چاڼچے پاڼچے تاسو جانجو پانجو وایئ۔ داسے ډیر تکی زه ترنظره راغلل چه تاسو ئے یو شان وایئ، مونږ ئے بل شان۔ په ډیرو تکو خو هیڅ و پوهه نهٔ شوم لکه "بوګلی"۔

وردرم ستا دا فنی او قلمی کوشش ډیر دَ ستائنے دے ځکه چه تهٔ دَ یو مخلص او دردمند مصلح په شان اصلاح کول غواړے دا یو لوئے جهاد دے، یو لوئے تحریک دے چه ډیر ثواب لری. خدائے دِ کړی، چه دا سلسله دغسے روانه وی۔ که دَ پښتو ډه خان دَلاسه وی۔ که دَ مرچکی یا دَ بل چا دَ لاسه۔ دَ پښتنو معاشره چه څو مره دَ خرابو نه پاکیږی هومره به درته ځما غوندے خلق دُعا ګانے کوی۔ دا ستا خوش قسمتی دهٔ، چه دَ خپلو نیکو خیالاتو دَ اظهار دَ پاره درته داسے ذریعه حاصله دهٔ، چه په لږ وخت کښے ئے لکونه خلق آوری او فائده ترے آخستے شی۔

دا ښهٔ دهٔ چه خلق ستا خبرے اوری او ته ئے نهٔ اوره ے ګنی به فضول بحث کښے به ئے درله ډیر وخت ضائع کړے وو۔ یا به ستا کریوان خیرے وو، یا دَ هغوی سرمات۔ دا ځکه اووے چه کس یم ډیر ناپوهه وی تهٔ به دَ هغه دَ فائدے خبره کوے

او هغه به ئې لکه دَ نارامو بدګوته اړ دي - ځینې دے کتاب کښې داسے هیڅ خبره نشته، چه دَ چا زړهٔ به پرې آزار شي - تا دیره پسته ژبه استعمال کړے ده - ما خو پکښې ټول خبرهٔ اولیدله، تراخهٔ راته هیڅ ښکاره نهٔ شو - هسے دِ پړ نرم خبرهٔ تراخهٔ ایښے دے -

زیات خوشحال په دے یم چه تا نهٔ صرف زمونږ کمزورئ ښکاره کړی دی بلکه دَ هغے علاج دِ هم ښودلے دے - څنګه حکیم تشخیص خو کوے نو ورله نسخه نشي لیکلے - تا دَ یو حاذق نبض شناس په شان قوم ته تشخیص او علاج دواړه ښودلے دي - اَللّٰهُمَّ زِدْ فَزِدْ - ما ته دَ کتاب لوستلو نه روحانی خوشحالی هم حاصله شوه - څکه چه تا لکه دَ یو معلّم دَ اخلاقی قدرونو او دَ مذهبی پابندئ درس هم ورکړے دے -

معلومیږی داسے چه ستا زیاته توجه دَ مردان او پیښور ضلع تمدن ته راکښلے ده، او په دے کښې ګرم څکه نهٔ یې چه ته هم دغه ماحول کښې پیدا او لوئے شوے یې - ځینی دَ ختټکو، بنګښو، مروتو، وزیرو، مسعودو ځان ځان له دود دستورونه او رسمونه دي - اګرچه کوم کمزورئ تا په ګوته کړی دی، هغه من حیث القوم ټولو پښتنو کښې عامے دی - لیکن څنګه قبیلو کښې داسے خامئ دی، چه هم هغوی پورے محدودے دی - دَ کنو - پُور - اترے - ګوړی په څائے کله کله دَ میزرو - باجرے - پاستے - بنګړے - او ښانزو لګادرو او دَ صحبت ذکر هم پکار دے -

نو بیا د ملاقات په وخت انشاءالله ـ د خدائے په امان

ستا ورور

فضل حق شیدا

لاهور

۹-۱۰-۶۹

ګران مغموم صاحبه!

السلام علیکم ـ ستاسو مزه ناک او د افادیت نه ډک تصنیف "خاپړه تراخته" ما ښه په شوق مطالعه کړه ـ زه د دے کتاب په لوستو ډیر زیات ځکه خوشحال شوم ـ چه په دے کښے تاسو هغه څه لیکلی دی او په ډیر ښه شان مو لیکلی دی، چه هغه لا خوبل چا لیکلی نه دی او که لیکلی ئے هم دی نو په واعظانه او بے اثره ډول ـ مزاح نګاری په ادب کښے د ټولو نه ګران کار دے ځکه چه په دے کښے څوک د بل چا خیالات نه بلکه خپل خیالات چه تجربے او مشاهدے ورته ښائیلی دی، لیکی ـ زه تاسو ته په دے تخلیقی ادب مبارکی درکوم ـ

ستاسو دا کتاب به نه صرف په پښتو ادب کښے همیشه یو اوچت او ممتاز مقام لری ـ بلکه د دے اصلاحی او تعمیری حیثیت به هم همیشه باقی وی ـ په دے کتاب کښے چه تاسو د کومو ناپسند یده

په طريقه مو پرېکړه کړې دي چه ځما په خيال کښې پښتو خولا پرېښودلې ده چه د نورو ژبو ادب کښې به ئې هم مثال او معيار نه وي. ځما د ډېره زمانې نه دا خواهش وو، چه په دې حقله څوک رښتيا رښتيا خبرې وکړي. ما هم په خپلو کتابونو او مضمونونو کښې د معاشرتي خرابو په حقله ډېر څه ليکلي دي. ليکن هغه فقط اصلاحي کارکنانو د پاره دي. تاسو خو عوام سره مخامخ خبرې کړېدي او دا طريقه ځما يا د نورو ليکوالو د طريقو نه ډېره غوره او بهتره ده. ځکه چه دا سې خبرې په پوهه کښې راځي او چه هر څوک ئې واوري يا اولولي، هغه به سمدستي په خپلو غلطو آگاه شي. او چه څوک په خپلو غلطو آگاه شي، هغه خپله اصلاح هم ضرور کوي.

خدائے دې اوکړي، چه دا کتاب ټول پښتانه سړي او ښځې اولولي. که بوډا کان وي که بوډئ، که ځلمي وي که جونه. تاسو چه د کومو معاشرتي ناسورونو چيړنه کړې ده د هغو نور هم چيړل ضروري دي. تاسو چه دومره همت کړې دے، نو اوس دومره همت نور اوکړئ چه دا کتاب لکه د رحمان بابا "ديوان" د هر پښتانه په کور کښې پروت وي. پکار ده چه دا کتاب د هلکو او جينو په درسي کتابونو کښې هم شامل شي، او د دے مطالعه دے لازمي اوګڼلے شي. بلکه که ځما

استطاعت وي، نو ماخو به د دې کتاب يو يو مضمون په ريکارډ کښې ډک کړے وے، چه پښتنو په مجرو، په مجلسو او په کورو نو کښې اوريدهٔ.

دا واقعه ده چه پښتانه معاشرتي رنځوران دي او چه ترڅو چه هغوئ معاشرتي تندرستي نکړي حاصله، تر هغه هيڅ ترقي نهٔ شي موندے. تا سو په خپل کتاب کښې د ډيرو مرضونو تفصيل بيان کړے دے. که پښتانهٔ او نور مسلمانان دے ټولو معاشرتي رنځورو نه ځان خلاص کړي، نو هغه به په دنيا کښې د ټولو نه زيات توانا او خوشحال قام جوړشي.

زهٔ اُميد کوم چه تاسو به دا قسم نور معاشرتي او ذهني مرضونه په ګوته کړئ او په دا خپله خوندناکه او مزه داره ژبه کښې به ئے خلقو ته دارو د رمل او ښايئ.

والسلام

ستا ورور :
ميرعبدالصمد خان

د پښتو اکيډيمۍ نه :

برخوردار معصوم !

السلام عليکم. دروغ جوړ او خوشحال اوسے. ستا خوارهٔ تراخهٔ آورم او اوريوازے زهٔ نه هر پښتون ستا پروګرام آوري.

او بې شانه ډیرے خوښوی. حقیقت دا دے چه په کومه ورځ سم ډ ماځیګره ماښومان په ځپلو کښې پس پسی شروع کړی نوزه پوه شم چه نن ډ پیر درځ ده، او خواږه تراخه پروګرام به وی. زه نښتم وېټلے، چه ډیو پیر نه تربل پیر پورے ډ خوږو ترخو ډپاره ډ انتظار دا ورځے څومره درنے وی.

زه چه هرځائے تر تلے یم، ستا ډ خوږو ترخو تعریف او ستائنه م اوریدلے ده، او په دے کامیابۍ زه تاله ډ زړه تاله مبارکی درکوم. ستا دغه پروګرام هوښه خو ډ مقصد په لحاظ دومره ښه او ډ اوچت معیار دی چه ډ انسان ډ خلګے بے واره آفرین اوځی. زه تاله په خوږو ترخو ډ زړه ډ اخلاصه مبارکی درکوم. او دعا کوم چه ستا دا خواری به ځائے راشي او ډ پښتنې معاشرے اصلاح اوشي.

په دے کتابی شکل کښے ډ خوږو ترخو چاپ کول ډ پښتو ادب یو ډیر لوئے خدمت دے او الله پاک دِ تاله ډ دے اجر درکړی. آمین

محمد اسرائیل کان الله لهٔ

پښتو اکیډیمي.

۸۴ - گل بهار کالونی ۲
پېښور - ۱ ر اگست ۱۹۶۹ء

گرانه مرچکیه روره !

السلام علیکم - ستا د دروند سوغات "خوابږهٔ تراخهٔ" ډیره ډیره مننه کوم - او د زړهٔ د اخلاصه درله مبارکي درکوم، چه ښے بسم اللّٰه دِ اوکړه -

خوابږهٔ تراخهٔ چه راواخلم نو یو یو مضمون ئے څو څو ځل اولولم، او په هر ځل ئے د اولنی ځل نه هم خوند زیات وی او هم احساس په زیاتے تیزئ او زورسره چوکه کوی. یعني نه یوازے خوند دے، نهٔ بیخي رنګ دے او نه تش سوے دے. او لا چه ستا د خُلے چا پخپله آورید ے هم وی، نو ناڅاپي ئے د خُلے نه اوخېژی چه ــ

نطق کو سو ناز ہیں تیرے لبِ اعجاز پر شاید مضمون تصدق ہے ترے انداز پر

دعا کوم چه خدائے دِ د دے نه هم زیات ژور نظر. صفا پسند او آواره ژبه او تیرهٔ او کهنډ ے قلم نصیب چه د خوږو تروخو ترسکو نه دوغترو نه ډک کړے او څو څو جلد ونه تصنیف کړے. آمین

والسلام - ستا ورور
خاورے مشتاق احمد مشتاق

قرضدار

(خندل) ..... ته ګوره ورته چه څنګ پټ دَ عقل خاوند سړي هم خدائے پاک لیونے کړو. هسے برناحق زم په ځان پورے خلق اوخندول. خلقو هم راپورے او خندل، او کار هم اونشو. اوس هم راته خدائے شته چه دا ځان دومره سپک او دومره ملامته ښکاري چه تپوس ئے هم کوئ ..... داسے چل دو چه په ګڼي پورے زم قرض ور ډیره موده تو میبنځه تیره شوه. ساه زم ورته راکښلے وه، ما ترے څو ځله تقاضا اوکړه خو هغه به راته څهٔ آنے بهانے اوکړے ..... شته په دنیا کښے ډیر داسے خلق چه دَ قرض آخستو په وخت خوشحاله وي. چه قرض ئے پکار وي نو هر وخت به درته نیغے چیغے کیږي ..... بالکل دَ دور میښه به ډے پرِ ماتیږي ...... او چه څهٔ وخت مطلب ترسره کړي. خپل خرئے دَ چقرو نه اوځي نو بیا ئے سترګے بدلے شي. ...... (خندا) اول به هغه ستا کوځے له هر وخت راروان وو

زاري منتونه به ئې کول، اوس به ته هغه ورځ ورځې او ډ ځلې نه به ورته ډ کابلۍ دروازه جوړه وه...... اول ډ هغه دار وو اوس ستاوار دے...... خو ډ ځلې نه کابلۍ دروازه نه، که کابلۍ، هشتنغرۍ او کوهاټۍ درے واړه يو ځائے کړے او يوه لو...... يه دروازه تړے جوړه کړے، خو چه ډ چا نيت ډ قرض ډ ورکولو نه وى، خدائے شته که ئې درله درکړى...... نو دغسے ګلى هم چه يو ځل قرض يوړو، نو پينځه کاله ئې نزمينځ تير شو، خو ډ نه راکولو نيت ئې وو، نه ئې راکولو نو...... آخر هغه ورځ ډ بدشامته بازار کښے مخے له راغلو......

"هلکه ته به هغه ځنا پيسے کله راکوے"؟

"ستا پيسے ؟ بس څو ورځے صبر اوکړه نو......"

"او دا دومره موده ډم چه درته صبر اوکړو نو دا څه وو؟"

"دا ؟...... داهم صبر وو، خو يو څو ورځے به نور ګورے۔"

"زه نور نه شم کتے۔"

"کمال دے دومره موده دے کتے شول او يو څو ورځے نور نه شے کتے؟"

"درته ډم اووے چه زه نور صبر نه شم کولے۔"

" یه هلکه ! قرضدار چا مړ کړے نهٔ دے ، هسے بد مهٔ خوښوه ، بس یو څو ورځے نور صبر اوکړه نو......"

او دَ نو...... سره چه په ځان پوهیدم پوهیدم نو سړے ږم دَ چنغړک نه ښیولے وو ، درب شو چه په مزکه ږم راسملولو ، او په سینه ورته کینا ستم ...... خو چه په سینه ورته کینا ستم ، او دَ خواؤ شا نه خلق راجمع شول ، نو دلته ږم ځان ته فکر شو - عقل ږم سر له راغلو ، چه مرچکیه سره دَ عقله دِ کار اوکړو خطا...... دا دِ څهٔ اوکړه نوره ورته...... (خندا) خو شوے کار وو ، بیا ترے رو ستو کیدل ګران وو.... ... خیر خلقو مونږ دواړه لګ دَ قلنګی چړګانو دَ یو بل نه جدا کړو...... دَ سترګو په رپ کښے دَری دُنیا راجمع شوه.

.... او دَ خلقو دا خبرے شروع شوے ...... ته ګوره ورته غټ پټ سړے دے او هغه نرے نرو چکے سړے ئے راپرزولے وو ، شرم هم ورله نه ورځی"...... هغه بل تپوس اوکړو چه داولے ؟ ... نو یو ماما ورته اووے چه ...."ولے مُلے ئے څه کوے ، خو په کمزوری باندے هرڅوک چړچړ راځی ، بس کمزورے ورته ښکاره شوے دے ، ګکه خو پرے داسے سُور سُور کیږی کنه"

"یره دا بے سړے خو چه سړے یو څو لګاؤ کړی چه دا

سرتېزي ترې نه هېره کړي"...... لنډه دا چه څومره ځا
هومره څنبرے ...... آخر زه دے خلقو ته څ راواړلو چه
روښو پنځهٔ کاله اوشول چه په دے سړی پورے زه پنځهٔ سوه
روپئ دی. قرض مے ورله آخستی دی. او چه اوس ترے نه
غواړم نو وائی چه یو ورځ صبر اوکړه ...... دا اوس انصاف دے
..... ؟ .... هغهٔ یو راته اووے چه زوره دومره موده دے
صبر اوکړو، نو یو ورځ صبر نور هم اوکړه کنه"

هغهٔ یو بل آواز اوکړو..... "زوره دا قرضونه څوک په
بد معاشئ نهٔ وصولوی اول به دے ورکوے نه، او چه ورډکړے
نو اوس به ورته صبر کوے"

"بل تماشبین اووے...... "قرضدار څوچا وژلی نه
زوره. قرضدار ته خو به صبر کوے"...... (خندا) او خدائے
شته چه زهٔ غلط شوم، قرضدار ته به صبر کول غواړی.....
څومره؟ دَ څومره مے څهٔ اندازه نشته. بس ترهغے پورے
به صبر کوے چه ترڅو پورے دَ قرضدار سره روپئ پیدا شوے
نهٔ وی. او چه ترڅو پورے روپئ نه وی پیدا شوے، نو تهٔ
غېږوه دَ ځُلے رباب او دَ شونډو باجه ...... (خندا) لنډه دا
چه ټولو خلقو زهٔ ملامته کړم ...... دَ ملامتیٔ ډکے ډکے ټوکرئ
وے چه دے خلقو به څما په سر اړه وے، زهٔ ټیټے سترګے ملامته

ولاړ ووم چه لکه ډیر لوټے جُرم ہم کړے وی چه خپلے پیسے ہم
وغو بنتلے ...... او مُلے دا سے ایغ نیغ ولاړ وو، چه لکه هغه
مظلوم وی او زهٔ ظالم .... (خندا) او وے به نهٔ اودریدو
...... دَ ټولو خلقو همدردیٔ هغهٔ سره وے، اوچه دَخلقو
همدردیٔ دَ چا سره وی نو هغه بیا سپین باز وی..... مونږ
لا دا خبرے کولے، خلق لاهم هغسے جمع ولاړ وو..... خلق
خو دِ خدائے او بخښنه، چرته دوه کسان یو ځائے راجمع شوی
ومهٔ وینه، که دوه تنه یو ځائے اودریدل نو دَ سترګو په
رپ کښے به دَ دغه دوؤ تنو سره دوه نیم زره تنان راجمع
شی او هر یو به پوښتنه کوی چه څه چل دے هغهٔ؟..... وے
ولاړیږی هغهٔ؟ دا څه دی هغهٔ؟ (خندا) نو خلق لا دهم
هغسے ولاړ وو- چه په دے کښے سپائی کاکا په دانګو دانګو
راغلو..... "دا څهٔ چل دے هلکو"

"یره دے غټ پټ سړی دا کمزورے غونډے غریب
راګیر کړے وو وهلو ئے"....... په سینه ورته سور شوے وو
دا خو دَ خدائے فضل وو، چه مونږ پرے راغلو ګنی نو وژلے
ئے وو-"

"وے وے، دا څه ستا حکومت دے چه ته به بازار کښے
خلق رانیسے او بے عزته کوے به ئے."

(وارخطا) " نه نه نه ..... سپائی ماما ..... خبره دَ دَ دا سے

نهٔ وه "

(په غصه) " مهٔ قرتیږه - خبره دا سے نه وه، نو زهٔ به اوس

تا ته خبره او ښایم "

(وارخطا) " نه نه نه خُدا .... خبره خو واوره ..... کنه "

(په غصه) " ستا سترگے دَ بد معاشانو دی مخکښے شه تهانړے ته "

(خندا) او دلته په مرچکی باندے خوَلے راماتے شوے - دلته را ته

کاډے خطا شو - زړهٔ مے تړ تړی شوه .... پښے مے دپندی واخستے

...... تهانړے ته؟ یَه خدایه دا په څه بَلا واوړیدم - دا مے خُان

ته څه شر اوکړلو ...... دے معزورے یو چکر او خوړو، دا ټوله

دنیا دا باندے لکه دَ بانړی چغ تاؤ شوه - بس په سترگو مے تیاره

راتله، او په مزکه بوړی بوړی لکه دَ لټ غویئے سملا ستمے ......

چه په دے کښے یو سپین ږیرے سړے را مخکښے شو ..... الله

پاک دِ ورسره ډیر ښهٔ اوکړی دغه سپین ږیری سړی سپائی

کاکا ته اووے چه روره تانړے مانړے ته نے مهٔ بوزه ......

دواړه دَ یو کلی دی - په لین دین کښے دا سے راغی - څهٔ نوره دشمنی

خو نے نشته ...... " هلکه مَلکیه! خوار شے چه قرض دِ آخستے

دے نو ورکوے ولے نه؟ ......" کاکا انکار مے نه دے کړے ورکوم

نے ورله خو دے هیے اور او یو آخستے دے - بس یو څو ورځے صبر

دے اوکړی"

"یَه سړیه ښو ورځے نه ، چه ښومره دے وائی هومره به ورته اوګورم . چه دا پینځه کاله ړم کټے شول ، نو ښو ورځے به نورهم اوګورم" ...... او دلته ګلے نورهم زېړهٔ ورشو :

ګلے : دَ ښو ورځو مطلب دا نه دے چه په ښلو رمه ورځ ړم بیا په بازار کښے راګیر کړے ، ښو بس چه راسره پیداشی دربه ئے ګړم ، ښوړونکے نه یم .

"وه څَه سړیه چه درسره پیداشی راځه کړه بس ؟....

سپائی ماما ته "څَه ستا به کار وی ، بس مونږ فیصله اوکړه".

سپائی : که بیا دِ دا ستے دَ قانون نه خلاف کار اوکړو ، نو ما ښو درته څه اونه ویئل ، که څما په ځائے بل سپائی وے نو نیغ به ئے تهانړے ته بوتلے وے .

"نه نه سړیه ! تهانړه مانړه پریږدهٔ بس غلطی راته اوشوهٔ کنه ، بیا به دا ستے نه کوم".

(خندا) رو نړو ! لوظ ړم اوکړو ، هم دَ ګلی سره او هم دَ سپائی سره . او لوظ څه ښو بس ګلی ته ړم پینځه سوه روپئی ورا و بخښلے . په دے دنیا ترے وصولی ګرانه ده ، په هغه دنیا به سره ګورو .... نو رونړو څما دا یوه خبره په پیسکی پورے غوټه کړئ چه اول چاله قرض درکوی مه - او چه قرض درکړئ

نو دَ غوښتو په وخت به خپله غصه، خپل قهر، خپله کینه دا هرڅه کوم پریږدی او بیا به دَ قرضدارې کور ته ورځئ۔ او چه کور ته ورشئ، نو په کوڅه کښې به په رعب داب کښې آواز نه کوئ۔ نه! پام کوئ ګورئ، قرضداره ډیر نازک مزاجه وی، دَ لږې خبرې نه هم دَ تا ترې غرجوړه وی...... خبرې به ورسره هم تروې ترخې نه کوئ۔ اوَ! هیرې نه چه تاسو په غلط فهمئ کښې یئ، چه قرضداره م دے، او چه هرڅه ورسره کوم دَ به غږ نه کوی۔ نه! ته به نرم ګلې او قرضدارے ګرم...... (خندا) اول خو چه کوڅے له ورشئ نو...... "ګل محمد خانه۔ وه ګل محمد خانه"...... اوَ اوَ که ټوله دنیا ورته ګلے وائی خو ته به ورته ګل محمد خان وائے...... وے نو قرض ډِ نه دے پورے...... او چه څه وخت هغه بهرته راوځی، نو دَ هغهٔ سلام ته به انتظار نه کوے۔ ته به پرے سلام اچوے...... "سلام علیکم ګل محمد خانه۔ ښکنه حال دے۔ جوړ یئ ماشومان ډِ ښکنه دی۔ آوریدلی م ووچه په مدّی شرے راختلے وو، هغه اوس ښکنه دے۔ خدائے شته چه وارم ورېدل نو زړهٔ م ډیر خفه شو، ما وے ځم دَ هغه تپوس به هم اوکړم او...... ما وے که دَ هغه پیسو راله څه بند و بست اوکړے نو...... (خندا) او دلته به ګلے په غصه شی۔" یره مرچکیه خو...... څه به وایم

دوته- زوره ورکا وخت بے وخته خو سرے گوری، داسے بنهٔ سترګي یم ورغلي وے. دَ کچې خوبهٔ دِ رابیدار کړم "...." زهٔ معفی غواړم. ما به تا ته تکلیف نهٔ وو درکړے خو....".... خو مو دِ نهٔ پیژنم. بحهٔ ته اوس لاړ شه، بیا به ګورو"... او بیا؛ بیا، خو چې هغهٔ درته اووے چه بیا به ګورو، نو بیا به بلې خبره نه کوے. خو...... "خوشحالا اوسے ګل محمد خانه سلامٌ علیکم "...... (خندا) نو اے رونړو څه پوئے شوئ، قرض به داسي اسے غواړي بنه، لکه حُما په رنګ نه، چه حُان یم په شرمونو اوشرمولو

اے مسلمانانو! دا زموږ دَ ایمانونو کمزوری ده، دا زموږ احسان فراموشي ده، دا زموږ دَ چا نیکئ له لته ورکول دی، داسے مهٔ کوئ، پردے قرض دَ قبر لړمانان دی. پردے قرض حصارول دَ دوزخ اور په بیعه آخستل دی. را شئ خپل محُسن په خپلی بنیګړے مهٔ پښیمانه کوئ. هغه چه درسره په سخت وخت کے لاس کړے دی نو که په تا سوکښے احساس وی نو دَ هغهٔ دغه امداد به تول عمر هیر نکړئ. قرض چه څنګه واخلئ هم هغسے واپس کړئ. دا دَ انسان اخلاقی فرض دی، دا دَ مسلمان دَ ایمان تخبنه ده او چه څوک داسے نکوی نو پوئے شئ چه ......یره خو صیګ به نه وایم نو ...... (خندا) +

سَبق دَ مَدرسے والئ

(خندا) څه شو هغه کسان، چه هغه پخوا به ئے چغې وهلې چه " سبق دَ مدرسے والئ، دَ پاره دَ پیسے والئ، جنت کښې به ئے ځائے نه وی په دوزخ کښې به غوپے وهی " ....
(خندا) تاسو هغه کسان لږ ماته را مخامخ کړئ، چه زهٔ دَ هغوئ نه لږ تپوس اوکړم ...... ارمان دے څٔمادونږ و، چه مونږ څومره بد قسمته یُو ......

په هلکو زوړ ورو داولے، دا درته چا ویلی وو چه دَ مدرسے سبق سړے دوزخ ته رسوی ...... (خندا) گورئ چه دَ دوزخ نه دومره ویریږئ نو دروغ مهٔ وایئ. چه دَ دے دوزخ نه دومره ویریږئ نو پردی حقونه مهٔ خورئ ...... دَ غریب په مرئ زور مه کوئ ...... دَ یتیم سر مهٔ چخنړی کوئ..... اوکه نه دَ کیږے تنوروته مو دَ پردو مالونو نه ډک وی..... دَ یتیم په مال مو خیټه اچولی وی ..... دَ غریب مسکین حق مو را لاندے کړے وی ..... پردے پوے ته مو سترگے وړے کړے

وی ...... او دَ دے دَ پاسه هم دَ جنت طمع لرئ ۔ نو ځه اووَیم؟
.. خدائے لوئے ذات دے نو ..... هسے دَ عقل په موجب خو
... (خندا) اے رونړو تا سو خدائے او بخښنه دا مونږ چه دَ
ژوند په میدان کښے دومره روستو یُو نو دَ دے وجه صرف
نو مونږ بے تعلیمی ده۔ که مونږ سبق ویلے وے نو یو خو به دَ
خدائے دَ لارے نه خبر وے۔ په ښهٔ بد کښے به مو تمیز کولے
شوی۔ حرام، حلال به مو پیژندلے شوے۔ او چې تعلیم
مو نشته نو دا دے دَ ژوند تیرولو چل نهٔ راځی۔ په محفل کښے
د ناستے جوګه نه یُو۔ چه خبرے کوو نو دا سے بکاری چه
لکه په خُله کښے مو دَ ژبے په ځائے سوبارے وی ...... (خندا)
خاندئ مه رښتیا وایم درته۔ که سوبارے نهٔ وے نو نقصان
ته به مو نسخان نه وے ...... فساد ته به مو پسات نهٔ وے۔
دونق ته به مو نوزق نه وے۔ فضول ته به مو بے پُضوله
نه وے ...... (خندا) خاندئ مه ...... دَ خندا مقام نهٔ
دے، دَ ژړا مقام دے ..... راځئ چه ټول په شریکه کښینو
و بنیه په چغو چغو په دے خپلے بد قسمتئ پورے او ژاړو۔
خو په ژړا به څنګ کار اوشی۔ نه په ژړا کار نهٔ کیږی۔ په انګولا
کار نه کیږی ...... په همت به کار اوشی۔ په حوصلے او محنت
به کار اوشی ...... په فکر او سوچ به کار اوشی .....اے رونړو

راوړاندے شئ. اے ناخبرو انسانانو رامیدان ته شئ، تعلیم ته لاس واچوئ ...... دَ خپلو ماشومانو دَ لاسونو نه دَ سنړا پیزوان واخلئ او تختئ ورته په ترخ کښے ورکړئ......دَ خپلو ماشومانو دَ لاس نه چوکه او غورځوئ، کتاب ورله په لاس کښے ورکړئ...... دَ خپلو ماشومانو دَ وړو وړو لاسونو نه دَ ړنو ے موتیڅے واخلئ، قلم ورله په لاس کښے ورکړئ..... چه مندرسو ته لاړ شی ..... چه هلته سبق اووائی .... چه هلته سړیتوب او انسانیت زده کړی .... چه هلته اخلاق او ښهٔ عادت زده کړی. چه هلته خدائے او پیژنی او دَ خدائے دَ لارے نه خبر شی..... (خندا) زمونږ خو دین او دنیا دواړه خراب دی ... ځکه چه نه دَ دین شو او نه دَ سادین ..... نه مو دَ جمات سبق اووئیلو او نه دَ مدرسے .... ولے ؟.... ځکه" چه سبق دَ مدرسے وائی دَ پاره دَ پیسے وائی".... (خندا) او پیسے خو زمونږ دَ مشرانو ډیرے بدی شوے ...... دَ غریبانو ترے نه ډیره سخت نفرت وو ..... دا بیله خبره ده. چه مالدار سړی ته به ئے سلامونه کول ، مالدار سړی ته به ئے جانجگئے کولے .... دَ مالدار سړی خوشامندے به ئے کولے ..... خو پخپله ئے دَ دولت نه نفرت وو..... (خندا) او خاندم که اوژاړم ؟..... دا پیسه ئکی دومره خراب ښیزدے چه زمونږ مشرانو ترے نه دومره

نفرت کولو...... دَ هند والو نه به ئے په سود ونو آخسته، دَ
یو بل نه په قرض خو به ئے آخسته..... چه ضرورت به ئے
پیښ شو، نو په پردی مال به ئے هم صرفه نهٔ کوله.... وے
بیا ئے هم دَ دولت نه نفرت وو ...... څکه چه دولت ډیر
خراب څیز وو..... دَ اورلمبے وے سیزل ئے کول، او زمونږ
مشران ؟...... هر څهٔ ته تیار وو، خو دَ اور لمبو زغملو ته تیار
نهٔ وو..... (خندا) یه تاسو خدائے په نیکئ واړوه، دولت
خراب څیز نه دے۔ حلال دولت دے خدائے هرچاله ورکړی۔
دولت خراب دے خو چه حرام وی ... دولت دَ اورلمبے دی خو چه
په ناجائزه اوګټلے شی..... دولت سوراورد ے خو چه په غلطه
طریقه خرچ کړے شی..... ګنی په دولت خو دین او دنیا دواړه
ګټلے شی ..... دَ خدائے په نامه ئے ورکړه، خدائے به درنه
خوشحاله شی...... غریب مسکین له ئے ورکړه دُعا به درته
اوکړی۔ لارے کوڅے پرے جوړے کړه ثواب به دے او شی لنډه
دا چه دولت په جائزه طریقه ګټل دَ الله تعالیٰ یو داسے احسان
دے چه انسان ئے هیڅکله بدل نه شی پوره کولے...... نو هرکله
چه دولت دومره ښهٔ څیز شو، نو بیا ترے زمونږ مشرانو
دومره نفرت ولے کولو ؟..... نو د ونړو نړان شئ همت اوکړئ
.... په حلاله او جائزه طریقه دولت موګټئ او بیا داشئ زهٔ به

درله دا سرټيفيکيټ درکړم ، چه دا دولت ذاور لېږې نهٔ دی
بلکه ذخدائے ذبے شمېره نعمتونو نه يو نعمت دے ..... پاتے
شو ذ مدرسے سبق ؟ ..... نو ذ مدرسے سبق هم څهٔ ګناه نهٔ
ده، انسانيت زده کول کنې څه ګناه ده ؟ په ښهٔ بد کښې تميز
کول کنې څه ګناه ده ؟ ذخدائے ذ لارے نه خبرېدل کنې ګناه
ده ؟ .... نو چه دا ګناه نه ده ، نو ذ مدرسے سبق هم ګناه
نه ده بنه ..... (خندا) دا غلط خيال ذ مغزونه اوباسئ دا غلط
نظريه مو پرېږدئ ..... اوراشئ په خپل ژوند کښې دا واړهٔ
واړهٔ ګلان ښيرازه کيد وته پرېږدئ...... دا کچه کچه کلئ
موسيد وته پرېږدئ..... ذ مور پلار مثال ذ مالياردے.....
مالیار ذ ګلونو ښيرازه کيد وته خومره خوشحالېږی .... ذ
ګلو موسيد وته خومره خوشحالېږی ...... زموږ ماشومان
چه ايله پا پلے پل شی ، نو هوښه بچے او هوښ بچے نے په
مغزو کښے کيښی ..... چه ژبه ئے په خبرو شروع اوکړی .....
نو ذ هرڅه نه اول کنځل زده کړی ..... نهٔ کلمه شی او نهٔ ذ
مانځهٔ سبق ..... چه سترګے اوغړی نو لختے په لاس به
ذغوا مېښو په ګوارے پسے روان وی .... اکثر روږه چل
ماشومان سکول ته په دے وجه نهٔ لېږی ، چه که ماشوم به
سکول کښے داخل کړی نو بيا غوا مېښے به ورله څوک څرَ دی.....

ذ تنور ذ پاره پټرئ به ورله څوک راوړی..... چرنډے ته به
اورله غاړه څوک اوړی..... (خندا) یعنی ذ خپلے آسانئ اوخپل
ذام ذ پاره ذ خپلو ماشومانو ژوند تباه کړی...... او څما په
خیال چه ذ مور پلار ذ خپل زوزاد سره ذ دے نه زیات ظلم بل
نشی کیدے....... ماشوم په سبق هیڅکله ذ زمیندارئ ذ
کارونو نه نه اوځی ..... ذ سبق په وئیلو ماشوم هیڅکله نهٔ
پرسمن کیږی..... بلکه سبق خو په انسان کښے ذ خپلو ذمه وارو
حساس راپیدا کړی..... سبق په انسان کښے ذ کارکولو شعور
راپیدا کړی... سبق انسان وِیښ کړی- بیدارئے کړی.....
ذ وخت او حالاتو ذ تقاضو نه ئے خبر کړی...... (خندا) دا
ستاسو هسے وهم دے چه ذ سبق وئیلو نه پس هلک ذ کر
کیلی ذ کار نه اوځی ...... نه تعلیم یافته هلک به کرکیله کوی.
کرونده به کوی.....یوے جغ به کوی.... خو ذ بابادم ذ زمانے
په طریقو نه،..... ستاسو په رنګ نه، چه ذ بابا آدم علیه السلامٔ
ذزمانو راسے ذ دغه یو قسم یوے جوړه لو چل ورته خدائے
بښودلے دے..... (خندا) چه سسپارته ئے کورے لوسری له
خندا ورځی...... سسپارڅهٔ وی خوذ او سپینے یوهٔ ټکړه
موذ کوندے په دغه سرکښے ورته مبلی وی..... او دغه ذ
وسپینے ټکړه به را نه مزکه څنګه واړه وی ؟ اُډوئے خوئے نشی،

البته کروړے نه شي ..... نو په دغه یوه تاسو زمکه اوګروئ ...
... ارت ارت کیلونه به راکاږئ ..... په جریب پنځه کښې خو به
درته شل ځل سربانړے اوشلیږي ..... پنځه ځله خو به درته
موټئ اوځي ..... لس ځله خو به درته غوښه سملي .... (خندا)
مړو خوېږوے ځما وی یوه لویه شرمندګي وی او ستاسو
پرے سر وی ...... ماښام له چه کورته راشئ نو د غوایانو نه
زیات تاسو ستړي یئ ..... ځکه چه اوزار مو خراب وی ..... نو
د غوایانو سره د نیم نه زیات زور خو تاسو کوئ .... (خندا)
په نیک بختانو نوي نوي اوزار راوتلي دي ..... داسے یوے
راوتلے دی چه په یو ځل به درله پنځه په بل ځی وازوی ..... تاسو
لږ د دنیا حال خو اوګورئ ..... (خندا) خو د دنیا حال خو به
تاسو هله اوګورئ چه د یوے جغ نه اوزګار شئ کنه ...... نو
راشئ داما شومان په سکولونو کښې داخل کړئ ..... د هغوئ ژوند
مه خرابوئ ..... داما شومان چه د سکولونو نه راوځي نو د کر
ګروندے نوے نوے طریقے به ئے معلومے کړے وی ..... او په د غه
نوو طریقو چه بیا دوئ کرکرونده کوی ..... نو یو په لس
حاصلات به د مزکے نه حاصل کړی ..... د دے زمیندارئ نه
خو نه زمینداری بنه ده ..... دا هم لاخه زمینداری ده چه د
خپلو خیټو د پاره هم غله نشئ پوره کولے ..... پریږدئ مرد

هسې ځانونه کړُ وئ ..... راشئ په نوې طريقه کړا وکړئ.
.... نوی اوزار واخلئ ... نوی تخمونه او نوې ځرے واخلئ.
راشئ دَ يو بل سره سيالی اوکړئ ..... وه کوره آبادو خرابيږئ
زړے قصے پريږدئ ..... دَ نوی ماحول دَ تقاضو سره روان
شئ ...کنی نو هم دغسے تکړسے به خورو .... په ماشومانو تعليم
اوکړئ .... او چه نن صبا هم څوک دا چغے وهي چه "سبق دَ
مندرسے وئ دَ پاره دَ پيسے وئ" ...... نو يوه دا سے ناتوړقه
ورله په دے بوتاړ ورکړئ چه ديرش واړه غابونه ئے مات
شي ..... (خندا) هسے نه چه رشتيا کورے دا سے اوکړئ.
ناتوړقه مه ورکوئ خير دے ..... خو دَ هغهٔ په دَ ځنبره
عمل مهٔ کوئ .... ځئ خدائے مو او بخښه کورونو ته لاړ
شئ .... او دَ هلکانو ميانه وته حکم ورکړئ چه صباله به
تول ماشومان سکول ته ځی ..... خوښه مو ده ؟ .... (خندا)
ائ ته ايمان مو نصيب شه.

امرُوتان

(خندا) تاسو به وائی چه هلکه مرچکیه داؤ دِ خندل ولے ؟..... نو..... اوږم خندل په دے پورے. چه زه هم شکر دے بنیادم یُم، دَ خندا په خبرو پورے به خندا کوم اوُ دَ ژړا په خبرو به ژاړم..... داسے چل وو چه تلے وم کوهاټ ته ..... اوُ اوُ په لارئ کښے..... نو چه کوهاټ ته لاړم..... چپل کارم اوکړو..... او چه راتلم نو ما وے راشه پنډه تش تور پیښور ته مه ځه..... ځان سره دَ کوهاټ میوهٔ یو سه ..... نو بخت لاړم یو دوکان ته اودریدم، ما وے لږ امروت به واخلم..... په یوے ټوکرئ کښے غټ غټ امروتان پراته وو..... زړهٔ ته ږم خدائے شته چه پریوته..... او نرخ ئے هم ښهٔ وو، اته آنے سیر..... دوکاندار ته ږم وے چه دَ دے ټوکرئ نه یو شلور سیره امروتان اوتله..... ماما تلل راواخستل..... کانړی ئے پکښے واچول..... او چه دوهٔ امروتان ئے راپورته کړه..... چه شلور ئے راپورته کړه..... نو..... (خندا)

دے خلورو غنهتو امروتانو ډلاندے نوْر واړهٔ واړهٔ..... بوټی پچوٹی امروتان پراتهٔ وو.... حق حیران شوم.... په ے زړهٔ کښے م وے، چه مرچکیٔ داجوړے دے غنهتو غنهتو امروتانو به آکښیٔ اچولے وی نو..... (خندا) یره اُکښیٔ خو م چرګے لیدی لے وے. ډ مرغانو م لیدلے وے..... ډکارغانو م لیدلے وے..... خو ډ امروتانو اکښیٔ م خدائے شته که چرے لیدلے وے... خرخره م کتل او دوکاندار ماما وو چه تله ئے ډ امروتانو ډ اُګو نه ډکوله...... آخر صبر نه شوم - ورته م اووے چه اے ماما! زهٔ خو امروتان اخلم - ډ امروتانو اکښیٔ خو نه اخلم.... دوکاندار راته داسے بد بد اوکتل ....ډ ددے علاقے نهٔ یٔ روره ''.....

'' ډ پیښور یمه ''..... '' نوْم دے څهٔ دے ''..... '' نوْم م خاورے مرچکے ''..... (خندا) دوکاندار تق تق په خندا شو... '' لکه چه نوْم دِ ډ بنیادمانو نهٔ دے، داسے درله ستړګے او خوئ هم خدائے پاک ډ بنیادمانو نهٔ دی درکړی..... خو هم تا په دے توکریٔ ګوته کینبوده، او هم ډ دے توکریٔ نه درله امروتان تلم ''..... '' هغه خو دے زهٔ منم چه توکریٔ هم هغه ده، خو امروتان هغه نهٔ دی چه کوم څما خیال .... '' ولے دا امروتان نهٔ دی څهٔ ؟..... نه ماته

خو امروتان نهٔ ښکاري، صوا ییرے راته ښکاري. دا ځکه
ښکاري لکه چه دغه غټو امروتانو اګکئ اچولے وي.... لوزهٔ
خو امروتان اوړم، دَ امروتانو اګکئ نهٔ اوړم.... (خندا) اوُ
دلته دَ دوکاندار ماما سترګے دَ ډیره غصے نه برګے شوے
..... ماوے لاړے مرچکیه په امروت ئے په سوا دو ښیشتے، خو
خدائے پاک خیر کړو...... "څه څه ورک شه، خوارشے، دے
مُشادے ته خودِ اوګوره، ستا په رنګ مُشادے امروتان نهٔ
شي خوړے".....

دَ دوکاندار ماما خبرهٔ خو زاباندے خدائے شسه چه ډیر
ترخه اولګیده.... او بس دارم ورته وئیل چه ورشه شیشه
راوړه، چه دواړه پکښے دا خپلے مُشادے لږے اوګورو، چه
ستا دَ دے کوږ ووږ او توړلی څ نه څُمادا مشاده ښه دهٔ
اوکه نه...... خو په دے کښے لارئ پوُں پوُں اوکړه نو امروتان
مِ ماما ته په تله کښے پریښودهٔ، او ما شَٹ وهلے لارئ ته.....
لارئ غنګ ئے شو چه روانه شوه..... او زهٔ دَ سوچونو او
فکرونو په سمندر لاهو شوم..... اَن تر پیښوره پورے هم
په دے سوچ کښے غرق وم، چه دا مونږ خلق دا سے ولے سپین
سترګی شو..... په غرید لو سترګو کښے خلقو ته خاورے اچوُی
... اول خو غلا او دهوکه سراسر غلط کار دے ، غیر اسلامی کار

کار دے ۔ غیر اخلاق کار دے ۔ او که خا مخا څوک دهوکه کوی نو
کم از کم دهوکه هم داسے پکار ده چه هم په هغه ساعت خو نهٔ
په ډاګه کیږی ...... هلکه لانډے وارهٔ او خراب او دَ پاسه غټ
او خه امروتان وے راپه‌دی ؟ ...... (خندا) دا غټ غټ امروتان
جوړ دَ بلارے کار کوی ..... چه هرڅوک ئے دَلرے نه اووینی نو هم
دغه ټوکرئ له په زامنوپه وهي ..... او بیا ؟ .... بیا به لګه‌ځا
په رنګ دوکاندار سره یو څو تروے ترخے خبرے کوی او لاړئ نه
په ترپ کوی .... ای نه کورے خور کړے ..... نهٔ پوهیږم چه
سړي کوے دنیا نه او تبنتی ..... په هرځه کښے چل ..... په هرځه
که ول .... په هرځه کښے دهوکه ..... مخکښے دهوکه ۔ دوستو
دهوکه .... لانډے دهوکه .... دَ پاسه دهوکه ..... دهوکه ۔ دهوکه
او دهوکه ..... به هلکو یه دَ امروتانو ماماګانو ..... که چرے
تاسو دا غټ غټ، بنه بنه ..... امروتان بیل په یو ټوکرئ کښے
واچوئ ..... او دا دَ غټو امروتانو اګئ وارهٔ او خراب امروتان
په بیله ټوکرئ کښے واچوئ ...... او غټ امروتان دَ اته آنے سیر
په ځائے لس آنے سیر، او وارهٔ امروتان دَ اته آنے سیر په ځائے
شپږ آنے سیر کړئ نو څنګه کور به مو پوره نهٔ شی ؟ ..... وے
به مو پوره نه شی ..... بالکل به پوره شي ..... خو مصیبت دا دے
چه زمونږ په خته کښے دهوکه او چل ول آخلے شوی دی ۔ چی

معامله به مو سپینه او صفا چلوله ..... نهٔ به تاسو ځنګل زره کښې ملامته وئ او نهٔ به درته آخستونکی په زړهٔ زړهٔ کښې خیر خیره آزار کول ..... ګورے مهٔ کوئ ..... په چل ول او دهوکو دهاکه خوګ مړېږے نهٔ شي ..... که څوک مړیدے شوے ، نو دَ امروتانوه دوکاندارن به اوس هم هغه دَ امروتانو ټوکرئ ته نهٔ او ناست ..... څوکه ټول عمرئ په چل ول او دهوکو تېر کړه بیا هم، هم هغه دَ امروتانو ټوکرئ ته ناست دی چرے وهی.. "آنهٔ آنے دَ سیر لالے آنهٔ آنے دَ سیر"..... (خندا)..... خیر سره به سر به مو څه خوږ وم ..... خو په دے کښې لارئ دَ پیښور په اډے رادننه شوه ..... لارئ څنګښے او دَ ټانګو قطار درېدے ..... دوه ټانګے دَ لارئ نه څنګښے روانے وے ..... درے ټانګے دَ لارئ نه بنی طرفته ، درے دَ لارئ ګس اړخ ته ، او څلور په لارئ پسے راخلاصے وے ..... (خندا) تا به وے چه لارئ نه دهٔ دَ ماتمدے ډولئ روانه دهٔ ..... حق حیران وم. چه یهٔ خدایه پاکه دا ټانګے دَ دَ لارئ نه دا سے څنګښے روستو ولے راخلاصے دی ..... په دے کښې لارئ اودرېده ..... او ټانګے والاؤ ماما ګانو دَ لارئ نه ګیر چاپېره دا ټانګے دا سے قطار په قطار اودروے چه دَ لارئ نه دَ کوزېدو لار هم و نه وه ..... مړهٔ خو څه به مو سر خوږ وم څه په شواخون دَ لارئ نه راکوز شوم ..... او چه راکوز شوم ، نو بیا دَ ځان دَ حاله

نهٔ یم خبر.... یو ټانګې وال دَ مټې نه بیولے یو خوا رانیکلم، او بل ټانګې وال دَ بل مټ نه بیولے بل خوا ته راکښلم.... یو ټانګې وال مې لمن بیولے وه...... بل ټانګې وال مې ګریوان بیولے وو.... هر یو خپلے خپلے ټانګې ته راکښلم..... حق حیران وم چه یهٔ خدایه پاکه دا په څهٔ بلا داوریدم.... جامے مې اوشلیدے ـ څټ مې نوکارے.... غوږ مې نوکارے..... او پوزه مې نوکارے..... (خندا) نو ره په څه دومره نه وم خفه..... خو دا څما پوزه میراث مرے چه یو ځل زخمی شی، نو بیا زخم ئے په آسانه نه بنه کیږی.... خیر رونړو په څه شواخون مې ځان دَ ټانګې والو نه راخلاص کړو.... سروپ منکر شوم ورنه چه زهٔ هډو په ټانګه کښے ځم نه.... ما سره، سْره پیسه په جیب کښے نشته نو په ټانګه کښے به څه لاړ شم.... تار تار جامے دَ بسونو اډے نه راوو تم..... په سړک اوودیدم یوه ټانګه راغله..... "صدر ته؟".... "کاکا څو پیسے به واخلے؟"... "څهٔ دِ چه خوښه وی ورکړه روره؟"..... "آخر بیا هم څهٔ خواووایه؟".... "روره تا نه خو څهٔ زیاتے نه اخلم، چه څهٔ لار ده هغه ورکړه".... نو آخر څه لار دَه؟.... "څهٔ یره ته دوه روپئ ورکړه".... (خندا) دَ دے دوه روپئ آواز سره مې په زړهٔ یو دوه درے کانړے پاس دَ آسمان نه راخطا شو، .... دوه روپئ؟ .... تر صدّر پورے؟ دا دوه ګامه ځائے او دوه روپئ؟...."څهٔ یره

ته پوُ کم دوه ورکړه بس"..... نه بابا پاؤ کم دوه هم نه درکوم ...... یوه نیمه ورکوے"...... نه یوه نیمه هم نهٔ درکوم ...... (په عضه) "مفت ځے"...... په شیشه کښے لږ ځ اوکوره نو بیا دٔ تانگے نوم آخله..... " ستا په رنگ مشادے په تانګو کښے نه شی سوریدے" ..... واقعي چه ځما په رنگ مشادے په تانګو کښے نهٔ شی سوریدے .....چه دا تانګے وال وی او دائے حال وی، نو ګخیری ډیر زر به خلق دٔ تانګو نه توبه ګار شی...... تانګے وال ماما ګیا وو، داپیسے په قدم قدم تانګه تاوُله دٔتاوُله، او ما ترے دوه خپلے او دوه پردے کړے را علم دٔ چایو په دوکان ننوتم ... او سوچ م کولو..... چه دا څه چارے دی .... دا څه کانے دی .... دا موږ څه کوو.... دا وے دا تانګے وال دائے په دے لارئ پیسے راخلاص دی....دا وے دوئ سورلئ په زور په خپله تانګه کښے سورَ دی..... آیا دٔ دوئ دا حرکت ګنی سپک نه دے..... دٔ دوئ دا عمل ګنی دٔخندا نه دے ......

اے تانګے والاؤ رونړو۔ دٔ هر چا په قسمت کښے چه څه لیکلی دی هغه وررسیږی۔ که تاسو دا خپلے تانګے په دے لارئ کښے دننه دراوخیژوئ نو ګنی دا توے سورلئ به تاسو سره کینی ...... نه! ستاسو دا بے صبری..... ستاسو دا حرص ستاسو دا سورلئ په زوره مجبوره ول، دا ټول داسے حرکتونه دی چه په دے پانړ کهٔ

تاسو یو خوا ته بد او سپک ښکاري نو بل خوا ته د سورلو په نظر کښې هم تاسو بد لیدے شئ .... او یقین اوکړئ چه اکثر سورلئ هم په دے وجه تاسو سره نه کینی ..... نو دا ښے چل اوکړی چه په دے بسونو پسے دا ښے په ترانټ مه ورخلاصیږئ بښه - او هم سورلئ په زور په تاسو کښې سوریږي و ته مجبوره وئ .... هسې نه که دے سورلو درته چرته اتفاق اوکړو ، نو کورے لوئے شر به ترے جوړ شي ..... (خندا) ✦

دَ بجلئ غلاګرکی

(خندا) پره غلاګرکی خوبه مو په دنیا کښې ډیر لیدلی وی خو دَ بجلئ دَ غلاګرکو نه به اخلاقی لحاظ سره به موکم غلاګرکی نه وی لیدلی ..... ته ګوره ورته چه دا مونږ اولس په اخلاقی لحاظ سوه دومره داپریوتو چه دَ بجلئ غلا هم کوو ...... توبه خدایه توبه... چه دَ کوم قوم افراد دومره داپریوځی .... چه دَ کوم قوم افراد دومره سپک او دومره خوارشی، نو دَ هغه قوم دے خدائے مل شی ..... یه دَ خدائے په قهراوږیدلو خلقو مهٔ کوئ ...... دا غلا ګانے پریږدئ .... ګنی داورئ .... په دوارو غوږو چه ستاسو دَ پاره ..... دَ غلاګرکو دَ پاره دَ الله تعالیٰ اَټله فیصله او اټل قانون " دَ اورسرے لمبے" او دَ دوزخ سوراور دے "... یه ناپوهه مخلوقه که پوهٔ نهٔ یئ نو دَ چانه ځان پوهٔ کړئ ... که خبر نهٔ یئ نو دَ چانه ځان خبر کړئ چه ستاسو انجام به دَ دوزخ عذاب وی.

.... (خندا) دَ بد قسمتئ نه چه زهٔ په کوم محلت کښې اوسیږم نو په دغه مالت کښې ځمانه ګیر چاپیره دَ بجلئ .... دَ محکمے

بابوګان هم اوسیږي ..... تاسو یقین اوکړئ. چه په کومه شپه بجلئ فیل شي، نو دَ دغه غلا ګرکو دَ کورماشومان لګ دَ غشي زموږ په کوځه راخلاص وي..... "ببو مورم وائي چه یو ټیلےخو راکړه"..... "ببو مورم وائي چه لږ ډ بلے خو راکړه"...... "ببو مرر م وائي چه یو سرو ټکه خو راکړه"..... (خندا) نو ببو غریبه بیا ګټیادي چاله ټیلے ، چاله ډ بلے او چاله سرو ټکه ورکوي...... ؟ چه دا دَ بجلئ غلا ګرکی غریبانان دومره غریبانان دي چه یو ماچس قدرله نشي آخستے. او دَ ماچس آخستو څه ضرورت دے. ماچس خو به هغه څوک اخلي چه څوک دَ بجلئ غلا نه کوي ... ماچس خو به هغه څوک اخلي چه څوک غلا حرامه ګنړي... او دَ خدائے دَ قهر نه ویریږي.. بنه نو دَ بجلئ غلا ګرکی ماچس ولے واخلي ؟ آخر هغوئ ته دَ ماچس څه ضرورت دے..... دَ هغوئ خو کمتوئ په بجلئ ، دوتهئ په بجلئ ، چاۓ دیګچل په بجلئ..... اَن تردے پورے چه هغه یو ماما خو چه چلم څښي نو هیټر اولګوي په هیټر باندے څه کنړکے یا خاشه بله کړي او بیا پرے چلم اوڅښي..... دا ماما چه په کومه ورځ اوزګار وي نو ټوله ورځ دَ سیګرټو نو دَ ډ بلو نه نرۓ نرۓ باتئ جوړوي ..... (خندا) او نرئ نرئ باتۓ..... نه نه مړو په غوږ کښے دَ وهلو دَ پاره نه..... وه زورُ ورہ دغه دَ کاغذ باتئ په هیټر

بلډ کړی او دَ چیلم نه پرے لوخړه او باسی ..... تاسو یقین اوکړی چه دغه دَ بجلئ ماما صرف په چیلم باندے هره ورځ دَ حکومت دَ اتو روپو بجلی خرڅ کوی ..... او اوُ دَ اتو روپو څکه ..... چه یو کاپر هیټرئے ساتلے دے ..... او دغه هیټر چه یو ځل دَ چیلم دَ پاره بل شی نو په ګهنټو ګهنټو دَ چیلم دَ خاطره سور لکه انګار پروت وی ..... او نو ماماله ئے څه زور ور رسیږی ..... بجلی دَ حکومت ده ..... او دوئ خو دَ بجلئ په دفتر کښے نوکران دی ..... نو دَ بجلئ دَ دفتر په نوکرانو خو دَ بجلئ دَ محکمے دَ بجلی ګهر بجلی حلاله ده کنه ..... (خندا) ائ ته کورئے خورکړے ..... هم دَ دے غلاګرګو دَ لاسه ړم لاړو نظر خراب شو ..... او او نظر ړم کمزورے شو. ځکه چه ګیر چاپیره را نه غلاګرګو په بجلئ داسے خیټے اچولی وی، چه مونږ کره بجلی نه، بلکه دَ بجلئ ایله زیُم قدرے له را رسی، دا دَ تللو تللو والټونو بلبونو عزیانانو لکه دَ شړ شمو دَ ډیوے په رڼګے زیړه ګونه مخونه بیولی وی ..... او که دغسے حال وی نو ډیر زر به خبر شئ چه لاړو مرچکے شکور شو ..... (خندا) آخر چه یوه ورځ ډیر تنګ شوم نو دَ بجلئ دا غلهٔ ړم راجمع کړل او یو لوئے لیکچر ړم ورته اوکړو- او چه ما ښه ځان سترے کړو نو هغه یو را نه اووے چه مرچکیه ته لیونے ئے لیونے ..... زهٔ ؟ زهٔ لیونے یم ؟ ..... او او ته لیونے ئے، که لیونے نهٔ وے نو دَ

لیونو خبرے به دے نه کولے۔ دَ بجلئ غلا هم لا خدائے روئ او منه غلا ده ؟..... بجلی خو دَ اوبو نه جوړیږی دَ حکومت پرِ کوم لاس پینے سنړی کیږی چه زموږ نه دَ بجلئ بلونه غواړی..... (خندا) څه چلیږه اوس ئے خوند اوکړو..... په دے زړهٔ کښے م وے چه راشه مرچکیه یوه داسے ناتوړقه ترے په دے مخوکه او باسه چه سم برندے ترے جوړ کړے..... خو چه کیر چاپیره م اوکتل نو غلاګرکی کښه سری ډیر وو او زهٔ یوازے..... دَ ناتوړقے دَ پاره اوچت کړی لاس باندے م زد زر ښخ اوګوولو او کور ته راروان شوم..... په عولی کښے مګے پروت وو چه تینډک م پرِ اوخوړو نو داسے بازیګره م واړوله چه هغه سپرغوړی څو مے م راپورے دَ خندا نه کلے شنے کړے..... (خندا) نه نه ړوند نهٔ وم..... خو پیښے خو هم نه یم کنه چه په تیارهٔ کښے به م نظر لګیدو..... دَ بلبو نو قصه خو م درته اوکړه چه دَ غلاګر کو کپره ئے خوړلے ده..... دَ هلکانو مور را له بیا کور کمانو نه او غوړی ګمان سرهٔ کول..... او زهٔ دَ سوچونو او فکرونو په سمندر کښے په لامبو وم..... او سوچ م کولو چه اے مسلمانانو..... دا ولے ستاسو دَ زړونو نه داسے کرکه او وته دا ولے تاسو دومره باغیان شوئ۔ دَ بجلئ غل مجرم دے..... هم دَ حکومت په نزد او هم دَ خدائے تعالی په نزد۔ لکه چه دَ یو ډاکو

دَ پاره کومه سزا ده، هغه سزا ستاسو دَ پاره هم ده۔ لکه دَیو شوکمار چه کومه سزا ده، هغه سزا ستاسو هم ده، لکه دَ یو کنړ کونکی دَ پاره کومه سزا ده، ستاسو دَ پاره هم ده۔ نو اے دَ بجلئ غلا کرکو تاسو ډاکوان شوئ، تاسو شوکمار شوئ تاسو کنړکونکی شوئ..... په دغه حرامه بجلئ چه تاسو کوم پخلے کوئ، په خدائے باور اوکړئ چه دا حرام دے..... په دغه بجلئ چه تاسو کوم انګولے پخوئ، یقین اوکړئ چه دغه حرام دے۔ دغه بجلئ نه ستاسو ملاسته حرامه۔ دغه بجلئ نه ستاسو ناسته حرامه۔ دغه بجلئ نه ستاسو مرغځ دَ قبلیدو نه دَ

......نو اے دَ ځان دشمنانو دَ دے

لږے غونډے فائدے دَ پاره مو خپل هرڅه حرام کړی دی۔ دَ دے لږے غونډے فائدے دَ پاره مو خپل آخرت خوار کړے دَے؟ ... اے ناپوهه عالمه اوویریږئ دَ قیامت دَ هغه ورځے نه، چه دَ تاسو سره به دَیوے یوے ذرے حساب کتاب کولے شی۔ اوویریږئ دَ دوزخ دَ هغه لمبو نه چه پکښے به ستاسو په رنګ غلا کرکی لکه دَ خشاک ترقیږی۔ مهٔ کوئ رونړو دَ خپل ځان سره دشمنی مهٔ کوئ..... په خپل بال بچ ظلم مهٔ کوئ۔ راشئ سم مسلمانان شئ، راشئ سم انسانان شئ، چه دَ خدائے

دقهر او عذاب نه په امان شو..... رونړو یو دوست ته مې ژړا اوکړه - یو دوست ته مې فریاد اوکړو چه دَ بجلئ غلا ډیر پریوتے کار دے، ډیر سپک کار دے - نو هغهٔ راته په جواب کښې اووے چه مرچکیه دا څه په کندوکپرو سر یئ؟.... وهٔ زوزوره توله معاشره خرابه ده، هر څه خراب دی ، لږ دَ بجلئ غلو غریبانانو کومه گناه کړے ده ، چه تا ور پسے ډانګ ډبلئ را واخستل ؟ .... (خندا) نو رونړو زهٔ تاسو نه تپوس کوم چه دا معاشره چرته پیریان دیوان دی څهٔ ؟..... دا قام چرته غیب عالم دی څهٔ؟ ..... خو زهٔ او تهٔ او بل چه را یو ځائے شو نو معاشره ترے نه جوړه شوه - چه زهٔ او تهٔ او بل را یو ځائے شو نو قام ترے جوړ شو .... چه زهٔ ښهٔ شم ، ته ښه شے او بل ښه شی نو معاشره به پخپله ښه شی ...... چه زهٔ ښه شم ، ته ښه شے او بل ښه شی نو قام به پخپله ښه شی .... رونړو که دَ پاکستان دا لس کروړه خلق هر یو هره میاشت دَ حکومت نه دَ پینځو روپو سرې سر بجلي پټه کړی نو دَ میاشتے پنځوس کروړه روپئ شوے ..... لو اسے بد نصیبو دَ خپلو پنځو روپو دَ پاره حکومت له پنځوس کروړه روپئ دَ میاشتے تاوان ورکوی؟.... دا تاسو ځان ته انسانان وایئ؟ دا تاسو ځان ته مسلمانان وایئ؟ دا تاسو ځان ته دَ یو آزاد قوم افراد وایئ؟ ..... (خندا) خپلو پښو له پخپله

تېر را خلاصول څنګه انسانيت دے ؟ خپل کور پخپله وړانول

څنګه شرافت دے ؟ راشئ مه کوئ .... ځما دا خبره په

پيسکي پورے غوږنه کوئ ، چه دَ بجلئ غلا حرامه دَه......

دَ بجلئ غل ، غل دے ..... دَ بجلئ غل مجرم دے ، هم دَحکومت

او هم دَ خدائے ..... دَحکومت دَ نظر نه خو به ځان بچ کړئ ،

دَ بجلئ دَ انسپکټر په سترګو کښې خو به خاورے واچوئ . خو اے ناپوهو

عالمه ! دَ خدائے سترګه به څه چل کوئ ؟ دَ هغهٔ نه به ځانونه

څنګه پټوئ ... خدائے شته چه تاسو له خدائے پاک په دوزخ

کښې هغه تراټونه درکړی چه تاسو هم اووايئ چه شپاړس .

نو څنګه ؟ څه صلاح مووه ، دَ بجلئ دَ غلا نه توبه اوباسئ اوکه نه دَ

دوزخ سرو لمبو ته غاړه بږدئ - ؟ تو په دے خبره سوچ اوکړئ ،

او بيا ماله جواب راکړئ ..... (خندا) پس زګنونو له م دَ عزيزو او

کوزکمان تکور ورکړو ، زهٔ اوس اودهٔ کيږم او تاسو په خدائے

سپارم - خو ګورے دو ښود چه ځما په دے ترخو ترخو خبرو خفه

نه شئ ، ځما دَ دے ترخو خبرو په فائده به تاسو هله پوئے شئ چه

تاسو خو پرے عمل اوکړئ اوکه نه خامخا خفه کيږئ نو خدائے مو

دا سے خفه کړه چه هيچرے خوشحاله نه شئ ځما خو هغه مثال دے

چه : يار له پند ورکړه - او چه پند نه اخلي نو دَ شګو پنډ ورکړه او چه دَ

شګو پنډ ورته په سر کړے نو بيا ورله يو دا آديکه ورکړه چه دَ ملا دا تيږئے ماتئ

ماماڼه

(خندا) يره ...... خو هغه متل دے چه "غم نه دارې بز بخره" يعني چه غم دے نه وي ..... ټوله ورځ اوزګاريږه او ډنډاکولي کوے، نو بيا چيلئ واخله، چه د نا اوزګارتيا په خوند برپوهه شې - د چيلئ عادت دے ورانی کول ..... هرڅه ته خوله اچول ..... هرڅه پسے منډه وهل .... هر وخت کړو وړه کړوپه کول ..... مړو خو چيلئ نه ده بسم سرخوږه دے .....
خلقو چيلئ آخيستے دي او ځان ئے په بلا اخته کړے دے، او ماله خدائے ژبه راکړے ده، چه يو لوئے فساد ئے راته جوړ کړے دے د داده ماماڼه آشنا ناست دے. او پوهيګه په تيګه راته کوي ..
..... (خندا) وے ؟ ..... وے دا هغه ورځ م د ښځو طرفداري نه وه کړے ..... دا هغه ورځ م سړي نه وو ملامته کړي .....
او د ښځو مقابله کښے سړي ملامتول د سړو لويه بے عزتي ده ..... او چه ښځے ملامته کړم نو بيا راله ټولے تورسرے سپين سرے په جنګ راروانے وي. دا د دنيا خبرے وي او خدا پرے سر وي.

څوک راته وائي ....« په خُله خوږګوټک شې مرچکیه ».... (خندا)
اوداۓ څه کوئ چه په ماغونډے غریب مرچکي پورے ئےچاربیته
هم جوړے کړے دي .... اوُ اوُچاربیتے - یقین اوکړئ داسےچاربیتے
ئے جوړے کړي دي چه زهٔ خو ورته حق حیران شوم. داچاربیته
راپورے کلآته ببو جوړه کړے ده : ـ

ډ رنګه توره مرچکے!
لکه ډ سکوره مرچکے
ژبه ئے تیره ده لکه وي تیره پاکي
رب دِ موږ ساتي

ژبه ئے چیچل کوي
چیچل څه چه خوړل کوي
هره یو خبره ئے ډ اغزي په شانے وي
رب دِ موږ ساتي

څو مره کلا نکاره دے
څو مره خو مکاره دے
پِجه نه کِیږُ اوباسي خدائیګو دےلوئے پساتي
رب دِ موږ ساتي

رب خو دِ دےګونګ کړي!
په ستر ګو دِ دے ړوند کړي

حیرانه یُو چه دا شکل به کله خدایه مَری
رب دِ مونږ ساتی!

(خندا) نو دا دَ کلاتې بیو چاربیته وه. خدائے خبر چه نورو بیږکانو به راپورے څومره چاربیتې جوړے کړے وی.... نو رونږو دغه حال دے نو.... چه دَ سړو سرو ینځم نوښځے راپیسے چاربیتې جوړَ وی. او چه دَ ښځو سرو ینځم نو مامدیان ماماګان راله په بلو را روان وی..... دادے مامدے راته ناست دے او وائی چه مرچکیه دا ښځے راته تا په سرا وخیژ وے. هغه ورځ دِ خبرے څرَ کړے دی چه هره یوه ښځه خاوند ته سره مچی شوے وه، دَ خدائے خاطر اوکړه او دَ دے ښځو دا طرفداری پرینږه..... وے په مونږ باندے دا کوروند وراتوے.....

(خندا) خدائے دِ نکړی، چه زهٔ په چا باندے کور وران کړم، خُما مقصد خو دَ ښځے خاوند ته مینځه اتفاق راوستل دی. زهٔ خو وائم چه په هر کور کښے دِ ښځه خاوند دا سے په اتفاق وی لکه دَ ناتو مچئ...... خو مامدے آشنا وائی چه نه اُستادا تولے ښرے غلطے دی.... او چه دغه راته خپله قصه تیره کړه نو خدائے شته چه مامدے غریب ملامنته هم نهٔ دے.. .... تا کوره ورته دا اوس دَ کولو کاروند دی چه دا ښځے نے کوی. سحر وختی چه ماماګان چائے اوڅښی او ډوډے جغ په

اوړه کړی پټو ته لاړ شی نو ببوګانے هرڅه کنډ کنډ بیړه
پریږدی اویوے پلے ته په دیوالونو سورے شی..... "مرجانے!
یه څه کوے؟"..... "یه دا یمه ګلاّنے .... ستړے مشے خورے.
جوړه یئے؟"..... "بوره مشے. دَ بچو دَ غمه دِ خدائے اوساته
ماوے چه نپوس دِ اوکړم چه څنګه یئے".... څنګه یمه خورے
بنه یمه نو. بیګاه م تولـه شپه اَلون بَلون کړے دے"......
(خندا) ببو خپل بیان شروع کړو. لویه قصه قطاره وه-
یولوئے بیان وو..... ببو خپل بیان شروع کړے وو. اوشاته
چرګانو په نوی کښے اتنړ اچولے وو..... په هرڅه کښے به ئے
مخوکه منړله. او خوند وَنه به ئے آخستل..... سپی هم چه
اوکتل چه بی بی په دیوال کپ لګوی نو هغه هم دَ سریخ دَ
سوری نه راپاسیدو، لکئ ئے سنړ وهله او په منړلومنړلو
قدمونو دالان ته راغلو..... هغه هم دَ مستو په کهتوئ کښے
بوتاړ دننه کړو او دَ خُلے خوند ئے ترے بدل کړو. (خندا)
ننړه دا چه شاته دا توړے ناشونے چارے کیدے او ببو دَ هیڅ
نه خبر نه وه...... داخو بنه وه چه منتوګئ ببو په کوځه
کښے مخ رابنکاره کړو کنی نو خدائے خبر چه مرجانه به تر
څو په دیوال ملاسته وه، او ګلاّنه به ورته ترڅو په یوه
پښه ولاړه وه......" کړے کړے.. وه مرجانے مراتئ لوبنی

لړګی درله ټول سپي جوته کړل."

او دلته درپ ئې شو چه سرجانې د دیوال نه راټوپ کړو... (خندا) داخو موشوه یوه..... ما هم دې آشنا ګیله کوه چه زهٔ څنګه یوې جغ په اوږه کړم په کوټه اوځم. د ځینې ډهلکانو مور برقعه په سر کړې ځې لاړه شي، د چم ګاونډ کره ناسته وي ګپونه لګوي. د غرمې روټۍ راله په مازیګر اوډ مازیګر چاې راله په ماښام راليږي..... نو ته اوس ماته اووایه چه د داسې ښځې سره زهٔ څه اوکړم. ته راپاتې د ښځو سرراتهٔ ویښې.... د داسې ښځو سره څوک څهٔ ناکام اوکړي.... (خندا) واقعي چه د داسې ښځو سره ناکام ګران دې. په خوینډو، یه ایمان مو نصیب شه داوې د نهٔ کولو چارې کوئ. ورک، دِ دا ستاسو ډیر ګپونه شي. دې ګپونو له مولږه دمې ورکړئ... د دې ګپونو او غیبتونو د پاره څهٔ وخت مقرر کړئ..... د کور کار روزګار د هرڅهٔ نه آګاهو دې..... ګورې دا سړي په ژوند پورې مسخرې نه کوئ.... یو د عزیزانانو هسې سرتنبې نه لګي. او یو تاسو ترپوزې پورې راوستې دی..... که ډیر مو تنګ کړل نو خدائ شته چه هر څه درته په ډاګه پریږدی. بیا ناستې اوسئ سوړ نغری او یخ تبخې ته..... زهٔ اوګورم چه بیا په ډهره

ګیډه مرجانه بیو دَ ګلاتي بیو سوه دیارلس ګهنټې په دیوال
ګپ اولګوی..... (خندا)

مامدے آشنا وائی چه یو ورځ کور ناست وم.... په
دے کښے ناګهانه تم تړاق شو چه دَ هلکانو مور په کوزه بانډ
تیندک اوخوړو..... "په سترګو ړنده یې څهٔ ؟"....."بیخ دَ
دے کوزے اوځم ـ دا میرات مړے په لاره کښے پرته وه"....
"بیخ دِ ستا اوځي چه ته پرے نیریږے راتیریږے او دَ
لارے نه اخوا کوے نه"..... "بس دے مړه ـ څه ته خو
نهٔ یې راپریوتے ـ خپل ځان م دے ستا را بانډے څه ؟"
.... (خندا) واقعي مامدے چه ستا پرے بانډے څهٔ ـ
پریږده ځے بے همته اوبے پرواه ښځے هم دغسے وی ....
"کړے کړے کړے ... وه ښځے بیخ دِ اوزه ـ چرګانو درله ټول
منګی جوته کړل ـ لاس دِ ماتیږی چه په منګی برغولے کیدے ؟
..... "بس کړه مړه اوبهٔ دی ، څه غوړی خو نه دی ـ ډیرے ښځ
اوکړل چه جوته نے کړل ـ دَ کوئي نه به ئے بیا راډک کړم ـ څه
په تا خوځے نه راډکوم چه دا ښے شور دِ جوړ کړے دے"....
(خندا)

لنډه دا چه دَ مامدے عزیب دا زړهٔ سورے سورے دے
نو اے خویندو مه کوئی..... هیڅ بهٔ خاوند پمن توب او

چڅن توب نهٔ خوښوی. هیڅ یو خاوند دا نه خوښوی چه دَ هغهٔ ښځهٔ دِ سحر وختی برقعه په سر کړی او په کلی مالت کښې دِ ګرځی ده کور آبادو وے مو په خپلو ځانونو دا کورونه دوزخ کړی دی وے مو دَ دے خاوندانو غریبانانو ژوند په عذاب کړے دے سے شئ. کمنی نو یوه چاربیته در پسے جوړوم. ګلاتے ببو هو په ما پسے چاربیته جوړه کړے ده؛ چه سهٔ دَ رنګه تور مرچکے.

زهٔ وائیم چیا...... سه:

دَ رنګه سکنړ مرچکے   نهٔ کوی سنړ مرچکے
چه غلط کاروونه وینې بیائے کوی ژبه چیچل
هم کوی خوړل!

دے هوښیار مرچکے   نه دے مکار مرچکے
حقه وینا کاندی څکه بدی شی دَ ښځو!
قمیص ئے دَ ترښځو

دَ پوار توب دے دښمن   دَ خچن توب دے دښمن
دَ زیاتی خور دے دښمن   دَ حرام خور دے دښمن
دښمن دَ هغه چا دے چه کوی خوک بے ایمانی
ده خبره ایمانی

.... (خندا)

تالاوُنه

(خندا) او نو چه دَ مازیګر بانګ او وُیلے شو نو لا پهٔ جُماعَت
نه ـ خلق لګیا وو دَ جماعت په تالاوُ ئے اودس چارانداِم کول
..... ګیر چاپیره په پوړو باندے مونځ ګذاری ناست وو....
زمونږ په دے بعضو کلو کښے په هر جماعت کښے یوُ یوُ تالاوُ وی
.... خیر په پوړو باندے ځائے نه وو ـ نو زهٔ یو خواته ودریدَم
مونځ ګذاری لګیا وو اودسونه ئے کول.... شړاپ شړوپ....
آخ توخ..... توخه ـ توخه ـ توخه.... شنګ شونګ.... بلغونه
وو چه مونځ ګذارو به دَ تالاوُ دے مینځ ته زالړه کول...
پوزے وے چه په تالاوُ کښے به سونړ کیدے.... ثوک لګیا وو
دَ خاوُرو ـ خټو او سونړو نه ناولے پینے ئے په تالاوُ کښے ویځلے
ورسره جُخت بل مونځ ګذارے ناست وو هم هغه اوبهٔ
ئے په خُلهٔ کښے اچولے او چه خُلهٔ کښے بهٔ ئے ګوته اوو هله نو
دَ ویښو زوُو نه ډکے تو کانړے بهٔ ئے تالاوُ ته زالړه کړے ـ
جُخت بل مونځ ګذاری به شړپه شړپه چه هم هغه

وبهٔ ډکے لپے په مخ اچولے ..... (خندا) حق حيران
ورته ولاړ وم. فکر ورته آخستے وم، چه دا لا څه کوی ..... دَ
ودس چاراندام مطلب خو دَ لاس او پښو صفائی ده .....
نو په دے ګنده او پليتو اوبو دَ بدن صفائی څنګه کيدے
شی ..... دا اوبهٔ ؟ دا چه دَ بلغمونو ..... توکانړو ، سوټو
وخټونه ډکے دی دا به دَ بدن صفائی څنګه اوکړے شی .....
خدائے شته چه ما خو به دَ تالاؤ اوبو ته کتل نو باقئ
به راتلے. ځکه چه بلغمونه او بړبڼګونه لکه دَ چنړاشی په
رنګ سپين سپين زګونه دَ اوبو دَ سردَ پاسه ګرځيدل. نو
زړهٔ مې نهٔ غوښتل چه په دے اوبو خپل مخ لاس ناولی کړم
..... نو بيا ؟ ..... بيا دد غونډے يو خوانه شوم. لستونړی مې
ونغښتل او درب په مزکه مې تيمم اوکړو ..... (خندا)
وُ اوُ په شتهٔ اوبو کښے تيمم. تاسو به وايئ چه هلکه مرچکيه
دا نه ډير پاکه امن داغلے. دا ټولے دنيا چه په دے تالاؤ
ودسونه کول نو خير دے. او تاله تو ے نه کرکه درتله ؟.....
نو رونړو دا دَ هرچا خپل خپل طبيعت دے نو. چاله به
کرکه ورځی. او چاله نه ..... اصل کښے خبره داده چه مونږ
خلق خدائے پاک ډيرے کرکے بنيادمان پيدا کړی يوُ. زمونږ
په خته کښے هړو کرکه نشته. او زهٔ خو وايم چه ډيره بنه

ده - ورکے دِ هغه ډیرے نخرے او پیښے شي - هلکه دارنګ بیماري خو دَخدائے په لاس کښے دی - چه خدائے پاک څوک نهٔ ناجوړه کوی نو دَتالاؤ دَ بلغمو نو اوخراشکو نه ډکے اوبهٔ ورته په کړه سنتوګه هم نه شي کیدے - داهسے دَهمو وسوسے دی - که په ناولو اوبو څوک نارو غه کیدے نو پکارده چه دَ خلیلو او مهمندو دَ خلقو څو نوځ هم نهٔ وے پاتے ..... (خندا) وے ګنی بدرم اوویل دوئړو؟ نه خدائے شته که بد به رم ویلی وی .... ګنی نوراشئ تاسو خولږ دَ خلیلو او مهمندو دے کلو ته ورشئ چه دَخدائے دَ قدرتونو قائله کیږئ او که نه؟ ورشئ اوګورئ چه دا خلق په دے حال کښے هم جک جوړ، روغ رمټ اوسرهٔ سپین ګرځی - ګنی نو تاسو یقین اوکړئ چه دَکلی دَبرسرنه دَ بارے نه دَاوبو بو لخته دَکلی په مینځ کښے لکه دَچیچار تاؤ راتاؤ شوے دے ..... دا دے دَکلی برسرکښے میښےاو غوایان په دے لختی کښے اوبهٔ ځښني او چه څنګه ئے په اوبو کښے بوتاړ دننه کړو، دغسے ئے ورسره مُتیازے راپریښودے - چه تر څو پورے ښاروی اوبهٔ ځښنی ورسره سم دَ مُتیازو یوه ناوه په دے لختی کښے راګډیږی.... دَکلی په مینځ کښے دغه دَ مُتیازو دَ اوبو نه ډک لختے دَ

سیفور ماما په کور راتیریږی ..... نو دلته ترے دَسیفور ماما دَکور زنانه دَ ښځو دَ اوبو دَپاره چاپتیَ ډکوی ..... (خدا)، اوَ اوُ یقین اوکړئ چه بالکل رشتیا وایم درته .... وے نو څهٔ چل اوشو، دَ هاغه سره چه دا اوبهٔ راروانے شی، نو دَ سیفور ماما نزکوره پورے ترِدَمُنبازو هغه اثر الوتلے وی ۔ نو څُکه خو که سیفور ماما ته دا هرڅهٔ معلومه دی، ولے بیائے هم په زړهٔ کښے څه کوکه نهٔ راځی ...... خیر دَ سیفور ماما کور والوُ خو ترِ اوبهٔ ډکے کړے ۔ او لختے لاړو مخ په بنګته ...... دَ سیفور ماما دَکور نه څلورکوره اخوا دَ شکوُر ماما کور دے...... شکوُر ماما دَدے لختی دَ پاسه غسُل خانه جوړه کړے ده، په کرمئ کښے به ورځ کښے څلور ځله شکور ماما او لسُ ځله ئے ماشومان په دے غسل خانه کښے لامبي ..... اودَصابون دا سپین سپین ځګونه او دَ بدن خیری به دے لختی کښے مخ په بنګته رابهیږی ...... او دَ شکوُر ماما دَکور سره دیوال په دیوال کلاَته بیو هم دَ دے لختی په غاړه ناسته ده، جامے ئے راخوشتے کړی دی ۔ تیپړے ئے ورته بیولے دے او په دوه لاسی ئے جامو له راخلاصوی ..... دَ جامو دغه خیری ۔ دَ ماشومانو دَ پوتړو دَ ګندبلا

هرڅهٔ دَ لمنځي دَ دغه اوبو سره يوځائے کيږي۔ او راځئ مځ په ښکته...... او مخ په ښکته څوک دَ دے لمنځي په اوبو اودرهٔ آغږي۔ څوک ترے چائے پخوي، څوک ترِشربتونه کوي...... اوَ...... دَجماعت تالاؤ هم دَ دے اوبو نه ډکو شي.... (خندا) نو اوخاندم که اوژاړم۔ يه دونړو داوے دا تاسو وے دا بے کرکے شوئ؟ تاسو ولے دا بے پروا شوئ۔ وه زوړ ورو دَ خپلو ځانونو فکر خو لږ اوکړئ۔ دَ خپلو صحتونو فکر خو لږ اوکړئ۔ گورے چه دا "تاسوخومره بےپرواهي کوئ، نو اسلام هم گورے دَ دومره بےپرواهئ اجازت نهٔ ورکوي۔ بلکه زهٔ خو دا وايم چه دا ستاسو بے پرواهي نه ده بلکه ستاسو نارا ستيادهٔ۔ ستاسو غفلت دے۔ ستاسو کمزوري ده۔ راشئ دَ باړے په دے لمنځو کښے څاروي مهٔ اوبه کوئ...... باړے په دے لمنځو کښے جامے مهٔ وينځئ۔ دَ باړے دَ دے لمنځو دَ پاسه غسل خانے مه جوړ وئ..... او دَ جماعت په تالاؤ کښے خراشکي، بلغمونه او توکانړے مهٔ لره کوئ.... (خندا) لږ غونډِ ناکام کوئ کنه .... کوزے ډکوئ.... غسل خانے ته ځئ او هلته اودسونه چار اند امونه کوئ.... څهٔ دومره گران کار خو نه دے چه ستاسو ورته دومره وارخطا دے....گورے دَ تالاؤنو دغه خراشکي او بلغمونه هم خدائے شته چه ستاسو په بے حسئ پورے خندا کوي (خندا)

دهوکه باز

(خندا) یره کله کله راله دا سے خندا راشی چه زهٔ به ئے در ته څه وایم. حالانکه دَ خندا وخت نهٔ دے..... دَ ژړا وخت دے. دَ افسوس وخت دے.... ځکه چه هر طرف ته ټګی ده، هر طرف ته فریب دے، هر طرف ته دهوکه ده..... دَ هر چا چه څومره وس رسیږی، هومره ټګی او دهوکه کوی..... پخوا پخوا به مشرانو متل کولو چه خدا یه پاکه وس رامکړے...... او نن صبا خو او شوه دَ هر چا وس رسیږی، نو چه څومره دَ چا وس رسیږی هومره دَ بل نه پړ زا وباسی..... هر سړے بل ته غل..... دَ هر سړی بل ته نیت خراب، دَ هر چا په زړهٔ کښے بل ته بغض او کینه...... (خندا) مړه وخو..... زهٔ خو چه کله کله خیال او کړم نو دا رم یقین را پیدا شی، چه هر انسان دَ بل انسان دشمن دے..... او دا ټول انسانان چه په ظاهره انسانان ښکاری... دَ بغض، حسد، بد نیتئ او کینے کندوان دی چه په دے

لارو کوځو او بازارونو کښې ګرځي ..... چه په ډېرچاپئ
برابريږي چک پرې باندې لګوي ..... دَ غلا ډير قسمونه
دي. ځنې غلا ګرګي کندړونه او شوکې کوي. ځنې ډاکې
ډهاړې کوي. ځنې جيبونه پريکوي ..... ځنې دوکانداران
په تول کښې کسر اوباسي. ځنې په ناپ کښې. ځنې په قيمتونو
کښې. او ځنې ...... (خندا) داسې چل دې چه بازار کښې
ريړې والا دې. چه دَ انارو شربت خرڅوي ..... دغه
سرو سرو انارو دَ شربت ډک ګلاسونه چه په ريړه
کښې پراته وي نو خدائې شته چه دَ ډېرچا ورته په خله
کښې اوبهٔ راځي ..... او اکثر لاروي چه څو قدمونه وړاندې
تيرشي نو بيرااستون شي ...... "دوره دَ شربت ګلاس
په څو دې"..... "ګلاس؟ يوه په څلور آنې"..... لاروې
چه دَ څلورو آنو نوم واوري نو دَ انارو شربت ته ئې
پيريان واخلي. بس بله خبره نه کوي څو ګلاس راپورته
کوي او قرته قرته چه دَ حلق نه ئې مخ په ښکته
ورواړوي. او چه دَ جيب نه څلورآنيز راوباسي، نو دَ
شربت والا ورته وائي چه "يو روپئ څلور آنې"..... (خندا)
څه چليږه. لاړو دَ خُلې خوند ئې خراب شو. څه وئيلے هم
نشي، ځکه چه دَ خلقونه شرميږي. او دوکاندار ورته

سمدستی منکر شی چه ماخو درته هغه وخت ویلی وو "یو روپئ ځلور آنے" او لاروے په زړهٔ کښے خیال اوکړی چه یره واقعی ځما غوږ وګنی دهوکه اوخوړه . دهٔ یو روپئ ځلور آنه اووے او ما "یو په ځلور آنے" واوریدل . لنډه دا چه دا قصه ټوله ورځ روانه وی ..... چنګونه پکښے اوشول ... جهګړے پکښے اوشوے ، خوګکاډی والا دَ خپل عادت نه منع نهٔ شو . هغه هم هغه رنګ لاړو ته یوُ په ځلور آنے وائی ، او آخلی ترے یو روپئ ځلور آنے ..... ځکه چه یوُ په ځلور آنے ، او یو روپئ ځلور آنے دواړه یو رنګ دَ شونډو نه راوځی ، او یو رنګ آواز کوی .... نو دَ شربتو آشنا لګیا دے دَ یوُ په ځلور آنے په تس کښے یو روپئ ځلور آنے دَیو ګلاس شربت دَ خلقو نه وصولوی . ګورو به چه دا قصه به ترکومه پورے روانه وی . ټول عمر خو نه شی چلیدے . ځکه چه څوک دا سے لیونے به پرے پیښ شی چه دا دَیو په ځلور آنے او دَیو روپئ ځلور آنے په فرق به نهٔ سم په زور زیر پوهٔ کړی ..... (خندا) نو دا دِ ستوه دَ ګنډرکپئ یوه قصه . روزړو وخت ډیر خراب راغلے دَے هرڅیز نه چه لاس کوئ نو اول پرِ لږ په زوَر زیرځانونه پوهٔ کوئ ګنی نو خدائے شته چه خلق ډیرے کړکے شویدی .

یوه ورځ د کابلئ نه په بس کښې سورشوم ، تلمه اسلامیه کالج ته - په بس کښې څما سره یو بوډا سړے هم رااوختو- د ناستے ځائے نه وو، نو غریب د لارئ په چت کښې هغه د نړے پورے لکه د بناپیرک زوړند شو او په څه ساعت پس به ئے دا آواز کولو چه رونړو بهائیګانو جیبونو ته موخیال کوئ - ګنړکپان زیات شوی دی ګورے - او چه څه وخت په اسلامیه کالج کښې د بس نه ذهٔ او بوډا کوز شو، نو د غریب په جیب کښې سره پیسه نه وه .... ګنړکپانو ترے جیب وهلے وو...... (خندا) نو اے رونړو په لارئ او بسونو کښې چه سوریږئ نو د خلقو د جیبونو غم مهٔ کوئ ، دا خپل جیبونه سنبال کړئ نو دغه به موتوره وی - ځکه چه په لارو کښې اکثر ګنړکپان د شریفانو په جامه کښې موټر سره خنګ په خنګ سفرکوی ...... یوه ورځ د پائیسکوپولو سره یو سړے ولاړ وو ، چه سوټ ئے اچولے وو - بنې صفا سپینې جامے ئے اچولے وے د یو نوی موټر سره په خوا کښې ولاړ وو ، په دے کښې یو سړے راغلو چه ښه نوے سائیکل ئے د غوږ نه نیولے وو ، شپیلی ئے وهل دوا وو...... د موټر سره ولاړ سړے ورمخکښې شو......" دوره موټر هم خراب شوے دے ، یوه ډبرئ نږ یریوتے دے،

ته لږ ځما دے موټر سره اودریږه ورته ګوره او دا سائیکل
مال راکړه چه په منډه ډیری داورم - بس د غنډ باجوړې
دروازے ته ئے راوړم؟..... دَ سائیکل والا چه دَ سړی کړو
وړو ته اوکتل نو زړئے سائیکل ورکړو او دے دَ موټر سره اودریدو
... سړے په سائیکل لاړو، او دَ سائیکل ماما موټر سره ولاړ
ولاړ.. ولاړ... اَن چه بائیسکوپ ختم شو..... او په دے کښے
دَ بائیسکوپ نه یو سړے راووتو، دَ موټر دروازه ئے لرے
کړه پکښے کینا ستو، او چه روانولوئے نو دَ سائیکل خاوند
ورمخکښے شو..... "دَه دوره دا څه کوے پردے موټر روانو
مالک ئے تلے دے ډیرئ راوړی، اوس به راشی".... دَ موټر
خاوند چه دَ سائیکل دَ خاوند بیان واورید و نو خپ خپ
چه په خندا شو، او ورته ئے اووے چه "دوره موټر ځما دے،
اوستا سائیکل لاړو بیائے طمع مهٔ کوه"..... (خندا) دادِ شو
دَ ګنړ کپانو بل مثال...... نو څکه زهٔ درته وایم رونړو
چه لږ په خیال، لږ په پام په دے بازارو نو کښے ګرځئ. دا سے
په هرچا باندے زړونه مهٔ سیزئ. ګورے دَ شرینانو په
جامه کښے بے شمیره ګنړکپان ګرځی.

او بیا خو خدائے ته اوګورئ چه په دے بازار کښے ګرځی
نو دا سے اونړا وتر او لیونی لیونی هرڅهٔ ته مه ګورئ.

خپل کار سره غرض لری ـ خپله سود سوداکوئ ، او په شنه منږه دَ بازار نه پېښے راووباسئ ـ تماشاوخورو سر دا ﺳﮯ تماشه به خوک خه کړی چه دَ سړی نه پکښے دَپوُ ما توت جوړیږی ...... (خندا) اوُ اوُ رشتیاوائیم درته ... خلق ډیر بے کړکے شوے دے ، دَ خدائے پاک ویره دَ زړونو نه وتلے ده ، دَ انسانیت احساس دَ زړونو نه وتلے دے انسان اوس دارل کوی ـ په یو بل چکونه لګوی ـ نوخپل ځان به پخپله ساتل غواړی ـ که چا خپل غم پخپله اونکړو نو خاورے به ئے په سر او ایرے به ئے په ټوپل وی ..... پاتے شول حرام خوارهٔ ..... کنړکپان ـ شوکمار ـ اوغلهٔ ..... نو دَ دوئ ټول عمر هم په دے بد وچارو کښے تیرشو ټول عمرئے په دے حرامو کښے تیر شو ، خودَ ژوند یوه ګهړئ ئے هم په آرام او اطمینان تیره نه کړه .... ټول عمر به لکه دَ لیونو سپو هم دا ﺳﮯ په یو بل پسے منړے وهی ـ دَ بل جیب ته به غلهٔ وی دَ بل په جیب به ئے سترګے وی ... توبه خدایه توبه دا انسان خومره ناپوهه شو ـ دَه کورآباد دا ستاسو خه ژوند دے ـ دَ دے ژوند نه خودَسپی ژوند په زرچنده ښهٔ دے ـ دا هم ګنی ژوند دے ـ دا دَ بے عزتئ ژوند ؟ .... پریږدئ مړو دَ دا ﺳﮯ ژوند نه خو

نه ژوند ډیر ښه دے ..... راشئ دا د حراموچارے پریږدئ دا غلطے چارے پریږدی . راشئ د همت نه کار واخلئ . د غیرت نه کار واخلئ . په مزدورئ کښے شرم نشته . په محنت که شرم نشته . راشئ د همت نه کار واخلئ . راشئ په حلالو اوګټئ . او په نوړه ئے اوخورئ . که ستاسو ضمیرونه ژوندی وی . که ستاسو په زړونو کښے د مسلمانئ څه قدرے احساس هم وی نو دا د پښتو . غیرت او مسلمانئ نه پریوتے کار به پریږدئ . د شرافت ژوند به خپل کړئ . او په معاشره کښے به ځان له یو د عزت جوګه مقام پیدا کړئ . راشئ اوس د حلالے ګټے او حلال رزق خوند واخلئ ... ... پریږدئ مړو ! داتاسو چه جیب اووهئ او بیا کومے منړے وهئ ، نو دا هسے منړے خو د خدائے پاک په ښیرا نه وهی . هر یو ګنړکپ چه جیب اووهی نو بیائے تازی سپے په منړه نشی راړولے ...... (خندا)

تربُوږ

(آسویلے) دَ زړهٔ پرهرونه که په ژړا رغیدے شوے نو ما به دَ اوښکو په ځائے به وینو ژړلی وو... دَ زړهٔ زخمونه کهٔ په ژړا جوړیدے شوے نو ما به په رتو رتو ژړلی وو... ... خو دا زخمونه چه ځما زړهٔ ئے ناقلاره کړے دے.... دا پرهرونه چه ځما دَ شونډو نه ئے خندا راشوکولے ده.... دا زخمونه او دا پرهرونه نه په ژړا رغیږی او نهٔ په انګولا ترخو پورے چه زمونږ په معاشره کښے غلطه پښتو شته۔ چه ترخو پورے زمونږ معاشره کښے انصاف، صداقت، مینه او محبت نه وی پیدا شوی۔ چه ترخو پورے انسان صحیح انسان نهٔ شوے نه وی۔ چه ترخو پورے یو انسان بل انسان خپلے سینے نه را نزدے نکړی۔ نو زمونږ په معاشره کښے قلاری نهٔ شی را پیدا کیدے۔ سکون نشی را پیدا کیدے۔ اطمینان نشی را پیدا کیدے۔ او دَ ماغوندے حساس طبیعت خاوند به تل ناقلاره وی، تل به پریشانه او تل به ئے په سترګو

کښې دَ غم او افسوس دنړې دړې او ښکې څلیږی.

یَه خدایه پاکه ! دا انسان ولې دومره بې حیئ شو. دا انسان ولې داسې بې لارې شو. دَ انسان دَ زړهٔ نه صغ مینه و محبت او انسانی همدردی ولې داسې او وتل. انسان ولې په حیوانی خویونو کښې داسې را ونغښتې شو،.... انسان خو لا پړ و حیوان شو. بلکه په څینو موقعو کښې خو انسان دَ حیوانیت دَ درجې نه هم راپریوتو..... دا ولې ؟..... اے لویه خدایه دا به ترکومه یو انسان دَ بل انسان غوښې خوری ترکومه پورې به انسان دَ انسان په وینو لاسو نه لړی، انسان به دَ انسان په مری چاړهٔ راکاږی. یا الله ته په خپل فضل وکرم سره انسان صحیح انسان کړې چې ستا په دے ښکلې او رنګینه دنیا کښې سکون او اطمینان راپیداشی. چې دا ښکلې دنیا چې دَ بد رنګ والی او ګنده والی په لور په تندئ سره روانه ده ، چې دَ دے دنیا دا ښکلا تا تمه پاتے شي ، چې دا دنیا ستا دَ مخلوق دَ پاره دَ دوزخ په ځائے جنت شي ..... جنت ، هغه جنت چې هرطرف ته پکښې خوشحالی او اطمینان وی. چې هرخوا ته پکښې مینه او محبت وی. داسې دنیا چې یو انسان بل انسان خپلې سینې ته رانژدے کړی. چې انسان پکښې انسان ته دَ رور په سترګه ګوری ،

چه یو زور پکښې چل سکه دور ته د دشمن په سترګه نه سکه زور په سترګه اوګوری - چه یو تربور پکښې تربور ته د تربور په سترګه نه د تره د ځوی یعنی د دور په سترګه اوګوری.....

او..... تربور زمونږه دزور دے..... تربور د پیرے بورنه دے بلکه زمونږ زور دے.... تربور زمونږ دشمن نه بلکه زمونږه ملاتړ دے - زمونږ مېنې دی..... د یو بنګه اولاد هم چرے د یو بل دشمن کیدے شی ؟ په وینه شریک هم څکې د یو بل وینې تویولو ته تیاریدے شی ؟..... خپله وینه هم څوک تویوی..... د خپل زور په مرګ هم څوک چاړه را کاږی ؟ د خپل تربور سینه هم څوک په ګولو غارغار کوی ؟.....

نه هیڅکله نه..... دا خبره دماغ نه منی - دا خبره عقل او دلیل ته نه پریږو ځی، چه یو زور د راپاسی او د بل زور په مرګ به چاړه را کاږی، په دے وجه چه معاشرے دغه زورله د تربور نوم ورکړے دے..... دا خبره هیڅ د منلو نه ده چه یو زور د راپاسی او د بل زور په سینه کښې د شپږ ګولئی سرے کړی، صرف په دے وجه چه زمونږ معاشرے دغه زور د تربور په کرګنه جامه کښې رانغښتے دے..... خو د دے ټولو دلیلونو باوجود هم..... د دے دومره حقیقتونو باوجود هم زمونږ په معاشره کښې تربور ته

دَ دښمن په سترګه کتلے شي. ولے ؟..... ځکه چه تربور موږ
خپل ميراث خورګڼړو،..... تربور موږ خپل سيال ګڼړو،
..... او موږ هرڅه برداشت کولے شو..... هرڅه زغملے شو
خو خپل ميراث خور نه شو زغملے، خپل سيال نه شو زغملے.....
او دا زموږ دَ تنګ نظرئ غټ ثبوت دے..... دا زموږ دَ
ناپوهئ ژوندے ثبوت دے..... دا خبره دَ دے ثبوت دَے
چه زموږ په زړونو کښے بغض دے. حسد دے. بدګمانی ده
که چرے زموږ په زړونو کښے بغض او حسد نه وے. کچرے
زموږ په زړونو کښے بدګمانی نه وے نو موږ به تربور ته
په دغه سترګه نه کتل. تربور به مو خپل رورګڼړلو. خپل
همدرد او خواخوږے به موګڼړے..... خپلے مېنے او خپل ملاتړ
به موګڼړے..... خو ارمان دادے، چه موږ دَ حقيقت نه سترګے
پټوو. موږ دَ اصليت نه سترګے پټوو. او زموږ دَ حقيقت
نه دے سترګو پټولو ډيرے خونے ورانے کړے. ډيرے تورسرے
ئے کونډے کړے. ډير ماشومان ئے يتيمان کړل. او لا خدائے
خبر چه نورے به څومره کورنئ دَ کوکے او نفرت په دے
تنور کښے سوَزيږی او ترقيږی..... او ځکه خو ماله ژړا
راځی. او دا زړهٔ راته وائی چه راسته په چغو اوژاړه......
ولے ؟...... دَ دے تپوس رانه څه له کوئ..... ؟..... رونړو دَ

ډیرے مودے خبره نه ده ..... دَ کلونو خبره نه ده.... دَمودو خبره نه ده..... او سنیٔ خبره ده..... دَ دوؤ میا شتو خبره ده..... چه یوه ورځ چه دَماښام تیرے را په خوریدو شوے.... چه نمر خیل دَ وښانه ځي دَ تاترے دَ غزنه پناه کړو.... نو مارغان او کارغان خپلو خپلو جالو ته په بیړه خلاص وو یو الغاوٗ تلغاوٗ ئے جوړ کړے وو او هم په دغه توره خږه کښے چه ملوکؔ خان دَ جوارو په پټي کښے دمے په لاس دَ کوړ نه راولاړ شو، ..... نو په خولو کښے جب جوب وو ..... په تندی ئے لاس کیښود و ..... نمر پریواته ؓ ئے اوکتل .... خدائے خبر چه څه چل وو خو دَ ملوک خان نور کار ته زړه نه ښکیده..... په درنو قدمونو دَ پټي نه راووتو..... لاړو دَ لختي په غاړه کیناستو ..... او دس چار اندام ئے اوکړل ..... او دَ جوارو په پوله ئے دَ ماښام دَ مونځ نیت اوتړلو..... خدائے خبر چه څه چل وو خو نن ملوک خان په مونځ کښے دَ خپل الله سره په خبرو کښے داسے ورک وو چه ډیر وخت ئے واخستو.... او دَ مونځ نه پس یوه لنډه شان دعا ئے اوکړه چه....."خدایه ته ؓ رم ایمان نصیب کړے"..... په ځغ ئے لاسونه راکښل او ینغ کور ته راروان شو. خدائے خبر چه نن دَ هغه کورته ولے داسے تادی وه، ولے ئے خپل ماشوم خوئی سبقور په زړه داسے

وادرین لے وو چه لکه ډیره موده نے شوی وی چه د سیفور
خندا دکه خلے نهٔ وی لیدلے ..... په زړهٔ کښے نے د سیفور
سره خبرے کولے ..... او په دے ترنګ کښے د پیزوانی کندو نه
واوریدهٔ ..... او په دے کښے ناګهانه د پوردل خان د غاچے
ده نلیٔ نه سرے ګولیٔ لکه سرے لمبے اووتے او د هغهٔ د
تربور ملوک خان په سینه کښے یخے شوے ..... ګولیٔ یخے شوے
او ملوک خان هم یخ شو ..... هیڅ نے او نه وے ..... چغه
قدرله نے د خلے نه او نهٔ ویسته. صرف دومره قدرلے نے
اووے چه ..... "خدایه ایمان مے نصیب کړے" ..... ملوک خان
ښهٔ ځوان وو. ښکلے ځوان وو او دغه ښهٔ او ښکلے ځوان
ملوک خان د پوردل خان تربور وو. تربور! چه مونږ ورته
د بیرے بور وایو. تربور چه مونږ نے خپل دشمن ګڼړو.
د پښتو په لغت کښے. د پښتو په کتاب کښے تربور د دشمن
دویم نوم دے. حالانکه د خدائے په نزد. د انسانیت او
شرافت په نزد تربور دشمن نه دے رور دے. تربور د
بیرے بور نه دے ملاتړ دے. تربور د ترهٔ ځوئ دے. یعنی
رور. هغه رور چه د یو نیکهٔ اولاد دے، چه د یو نیکهٔ
وینه نے په رګونو کښے ټوپونه وهی ..... خو د دے دومره
نزدے تړون باوجود هم پوردل خان راپاسیدو، خپل

تربورئے شپږ ډزه اوویشتو. خپل ملاتړئے دُ زړهٔ په سر اوویشتو، ولے؟..... ځکه چه ملوک خان په ډکه حجره کښې دُ پوردل خان په پښتو پورے خندا کړے وه، ملوک خان په ډکه حجره کښې پوردل خان دُ لفنګ توب او لوچه توب نه منع کړے وو..... داپیغور که پوردل خان له بل هرچا ورکړے وے نو خیر دے خو چه ملوک خان ورله نه وے ورکړے، ځکه چه ملوک خان دَ پوردل خان تربور وو..... دَ ملوک خان ماشوم ځوئ دَ پلار دَ راتلو په طمعه کله کور او کله کوڅې ته کیدو ..... نن دَ سیفور هم خپل پلار جوړے ډیر یادیدو، ځکه خوئے داسے بے صبری کوله..... خو ماشوم سیفور نه وو خبر چه دَ هغهٔ پلار دَ تربورولئ دُ سره ښکار شو،..... او تیر ماسختن چه دَ ملوک خان مړے کورته راوړے شو، نو ماشوم سیفور دُ پلار لارے ته په کتو کتو کښې اودهٔ شوے وو، خو په خوب کښې بہ ئے هم اوچے سلګئ وهلے. جوړے دغه پاک ماشوم په خوب کښې دُ پلار دَ مرګ ټوله ننداره کتله.... ځکه خوئے په خوب کښې ژړل..... ځکه خوئے په خوب کښې سلګئ وهلے..... داسے سلګئ..... چه دَ راویښیدو نه پس هم په خندا بدلے نه شوے. دَ سیفور ژوندیره سلګئ شوه؛ داسے سلګئ چه ټول عمر بہ دَ دهٔ په شونډو

خوره وی ـ د نزبورولتیٔ سلگئ ...... د کرکے او نفرت سلگئ ...... د غلطے پښتو او غلط احساس سلگئ ...... اللہ پاک دِے په موږ رحم اوکړی... اللہ دِ زموږ د زړونو نه بغض کینه او حسد اوباسی ـ چه دا دوزخ دنیا په موږ جنت شی ـ آمین ـ ٭

عجیبه مخلوق

(خندا) دا اوږم خندل په دے پورے ، چه یوه ورځ مې ډیر سوچ اوکړو اوکړو اوکړو نو دے نتیجے ته راورسیدم ، چه دَ الله تعالیٰ په دے بے شمیره مخلوق کښے ، یو عجیبه مخلوق ګورے دا ښځه ذات هم دے . عجیبه مخلوق مې ورته ځکه اووے چه دَ ښځے ذات خویونه ، او عادتونه دَ نورټول مخلوق نه جدا دی. ..... تاسو به وایئ چه نه مرچکیه دا خبره خو ډِ مونږ هیڅکله نهٔ منو..... او زهٔ وایُم چه تاسو به دا خبره منئ او ضرور به ئے منئ ، ګنې نو دا ګز او دائے میدان ..... ګلاچے ببو چه نن ترکچه غزے پورے ځائے غوښے اوکړل ، نو ډیره ګرمی ئے اوشوه . زر زر ئے لوپټه په پړی واچوله ، ببوزے ئے راواخستو راغله په کټ کښے کیناسته . دَ ګریوان بټنے ئے پرانستے او ببوزے وهل ئے شروع کړل ، ورسره به ئے کله کله اُف اُف هم کول ..... (خندا) وے نو ګرمی ئے نه کیده څهٔ ..... په دے کښے ناګهانه په کوز مالت کښے ډزے شوے ، او دَ ډزسره ګلاچے

ببو اوچت ټوپ کړو او په سور ترق ټغر کښې لختئ ببو ته په ديوال ورښکاره شوه ...... "لختئ وَه لختئ! دا دَ څه پړزے دی؟"

"داخو جوړ دَ مامدے څوئ اوشو"

"نه مړه دَ مامدے غزیب په قسمت کښې څوے چرته دے"

"نه خدائیګو بنے چه دَ مامدے څوے اوشو"

"ښه څه شکر دے چه مامدے له خدائے څوے ورکړو. دا سے رم پرے دازړهٔ خوشحال شو"

"کلاپتے خورے! مامدے غزیب له خو دے پیرولونړو زاره شنه کړه"

"څه الله تعالیٰ دِ ئے ورته لوئے کړی ..... او اینے لختئ خورے۔ خوښه دِ نهٔ ده چه یوه منړه وراووهو"

"سور ترق دے نو ......"

"سور ترق موښ ته څهٔ وائی مړے۔ څه چه یوه منړه وراووهو"

(خندا) نه نه سور ترق بنځو ته هیڅ هم نهٔ وائی۔ دا خو دَ کور په کار کښې دَ بنده کومی کیږی، او په سیل سپانه کښې کومی چا ته څهٔ وائی ..... هن! لنړه دا چه کلاپتے او لختئ بُرقعے په سر کړے او په تکڼړه غرمه کښے کوز کندی ته روانے

شوے ..... دَ مامدّے دَ خوے اُمبارکی ئے اوکړه .... (خندا) نو دا خو شو دَ ښځو دَ عجیبه خوئ یو مثال .... کورئے دُکړمے دلاسه کړ ژبه دا ویستے وه، او بیائے په تکنړه غرمه کښے کوز کندی ته دَ تلو په وخت هم وګرمی نه کیده. ځکه چه دَ کور کار په ناکام وو، او اُمبارکی دَ دوئ دَ خپلے طبع کار.

(خندا) ځما خپل دا خیال دے، چه دَ ښځے ذات نه ګرمی کیږی او نه یخنی. تاسو به وایئ چه مرچکیه دا خبره خو دِ بالکل دَ نه منلو ده. دَ ښځو ګرمی هم کیږی او یخنی هم ...... ځکه چه ښځه ذات هم دَ غوښے او هډو وکو نه جوړ بنیادم دَ ..... اوُدا خبره مو منم چه ښځه ذات دَ غوښے او هډو وکو نه جوړه بنی آدم دے. خو دَ الله تعالیٰ شان ته ګورئ چه دَ ښځے ذات دَ بدن ساخت ئے په دے طریقه سره کړے دے، چه نه پرے ګرمی اثر کوی او نه یخنی. دَ یوما په سخته یخنئ کښے په دوو نو کښے ما په دے خپلو ګنهګارو سترګو لیدلی دی چه اکثرو ښځو نرے دَ ململ و لستونړو قمیص اچولے وی، دَ پاسه ئے پرے نرئے دَ جالئ لوپټه په سر کړی وی.- نه ئے یخنی کیږی نه یخنی .... نه ئے څادر ته ضرورت وی او نه ئے سویټر ته..... (خندا) اوُ څادر وے په سر کړی، که څادر په سره وی، نو خلق به ئے بیا سوچ څنګه وینی..... ورک دِ دا سے څادرشی چه هغه

دَ جامو ښائست دَ ځان لانده پټ کړی .... ښهٔ خو دَ جالئ لوپټه وی چه جامے ترے ټولے په ډاګه ښکاری .... او سویټر وے واچوی ؟.... دا دَ قمیص په غاړه چه دَ ریښمو دا دومره کارشوے دے ، نو چه سویټر واچوی نو دا دومره ښکاریٔ به څوک څرنګ وینی . په تو په وے نهٔ اوبی سویټر هم ؟ . دَ ښځے نه خو څوک څهٔ مری نه ..... تا سو به وایئ چه ښه نو په دے ښځه ښځنئ کښے دَ لنډو لستونړو دَ قمیص څهٔ فائده ؟..... نو په دے لنډو لستونړو کښے دا کمال دے چه په یو لاس کښے کړے او بل لاس کښے ګهړیٔ .... ښکړی وغیره چه کوم ښځو اچولی وی چه دا هرڅه هر څوک اووینی . که دَ اوږدو لستونړو قمیص اچوی نو دا هر څو خوبه تر لاندے پټ شی . او کوم کالے چه خلق او نهٔ وینی هغه کالے دِ په تو په اوښکی . (خندا) دَ پوما په وړوکو کښے اکثر دَ ښځو کله کله دا جامے داسے اوکړ بیږی او دومره ویخته شی دا ګینځ ګینځ او دیږی . ..... خو دَ دے دا مطلب نهٔ دے چه ګنی دَ ښځو ښځنی کیږی ..... نه .... دا خو ئے دَ ډیرے خوشحالئ نه کله کله جامے دَ غابښونو طبچه او غټه وی . او دَ ډیرے خوشحالئ نه ئے ویخته شی لکه دَ سُر کړی رباب دَ تارونو را ښکلے شی .. .. (خندا) ای تنهٔ کورته ئے خور کړے . فیشن به دَ هر چا خوښ وی خو دَ ښځو نه زیات دَ چا نه ..... دَ فیشنونو خوښے دَ ښځه توبه او ویستهٔ . دَ کار روزګار نه ئے او ویسته . په وادهٔ ښادئ کښے چه نوے سوټ واچوی ، نو بیا غوبیا نانځے دَ ناستی دَ کوره پاتے شی ..... کوشش ئے دا وی چه ټول وادهٔ په ولاړے تیر کړی . روټئ ئے په ناسته خوړل هم بیا نهٔ وی خوښ ..... دا زړهٔ ئے غواړی چه بس مونږ ایلغے ولاړے وے او په څلهٔ کښے راله چا نوړئ راکولے .... ولے ؟..... (خندا) وے نو چه کښینی دَ جامو ایستری ئے نهٔ ماتیږی .... دا جامے ئے بیا نهٔ ګونځے کیږی څهٔ . او جامے چه ګونځے مونځے شی نو بیا ئے هغه خوند کله وی ...... لنډا دا چه دَ زاړهٔ نه هره یره

ښځه کورته راشي ، نو د لاده باده وتلي وي . په ولاړې ولاړې ئې پښې ی
د درد ونو د لاسه تق چوی ..... د ډیرے ستومانئ د لاسه ئې سترګے
کوغالوته پریوتلے وی ..... ښځه په مجبورت کښے به د کوره اوځی ، او څه
به چرته به په کوڅه راننوځی ..... بیا به ده ورځ پکښے د ماشومانو اود خان
شي ..... چه ماشوم لږ کړپ کړدپ کوی نو ..... "یه سړم اوخورے
لږ په قلار شه ، هسے م هم سراګوزی اوتا راته بیل ریګټ شروع کړے دے
..... (خندا) ریښتیا وئ کنه کېته سړیه ، کورے نه چه مور دے د وا ده
نه راغلے ده ، غریبه تو تے تو تے ده ، او "نه" ورته لګیا یئے ریګټ غږ دے
غلے شه ، کنی نو خدائے راستی چه هغه نا توبنګے درته اوباسی ، چه د ا
ریګټ درته هیر کړی . او او ښځه چه د وادهٔ نه راشي نو بیا کم از کم خلور
ورځے د کټ نه د خوزید ونه دی ..... نه ئې خاوند غږ کولے شي او نه بال
بچ ..... او په چا څهٔ چتي ده چه غږ کوی ، په چا څهٔ زور دے چه
خواه مخواه ځان ته مچنئ راپاڅه دی ..... لنډه دا چه خلور ورځے
کورکښے نهٔ څوک غږ کولے شي او نهٔ څوک غوږ ...... (خندا) خپل
ځانی خورم داحال دے ، چه کومه ورځ د هلکانو مور د وادهٔ نه
راشي ، نو زهٔ بیا خلور ورځے کونګه روژه اونیسم ..... ځکه چه
زهٔ هم د طبیعت نه داسے تړیخ متوندے یم ، مرچکے یم کنه .....
په نهٔ څه خبره راله غصه راځی ...... نو چه ماله هم غصه
راشي او د هلکانو د مورهم ماغزهٔ الوزی نو خوسمه میله وی کنه .
بس خیر راته په دے کښے ښکاری چه کونګه روژه اونیسم ...... نو
اے زنانه وُ خویند و میاند و راشئ دا دومره زړهٔ چاودون پرېږدی .
بیخ دے د دے فیشنونو اوځی ، دے فیشنونو خو تا سو د ښځے توبه
اوو یستی .... راشئ د اوری او د ډمی ، د کړمئ او

یخنئ نہ سترگے مۀ پټوئ ۔ هغه فیشن به خوک ختا کړی چه ذ بنده وجود ته پرِ تکلیف رسیږی ۔ هغه فیشن به خوک خه کړی چه ذ بنده وجود پرے ناقلاره وی.... خدائےمکړه په گرمئ کښے به درته تاؤ پریوتے وی. خدائے مکړه په یخنئ کښے به مو نمونیا شوے وی ، بیا مو یوه یوه کوکاره ترآسمانه پورے رسی ۔ او په تاسو خو چه هرڅه تیریږی نو تیریږی به ، خکه چه تاسو خو چِل فیشن پوره کړے وی ..... او خاوندان غریبانان به مو په مفتو کښے ذل کیږی بیا کله ډاکټر له منډه وهی او کله حکیم له ..... ځما دا یقین دے چه آخر به یوه ورځ دا خاوندان تنگ شی، او هر کله چه خاوندان تنگ شول نو بیا؟..... بیا به په ښځو پابندی اولگوی چه په سخت اوری او په سخت ژمی کښے وادهٔ بنادئ له ذ ښځو تگ بند..... او چه دوی نو له ذ ښځو تگ بند شی، نو پوهٔ شه چه دنیا به ټوله ورانه شی ..... ولے کئی بدرم اووے؟....... (خندا)

شکی روژه

(خندا) خیر۔ خیر۔ خدایه خیر.... تاسو به وایئ چه هلکه مړ چکیږه دَ څه چارے خیرونه غواړے، نو رونړ دوخت داسے راغلے دے چه پکار ده چه سړے هر وخت خیر خیر نارے وهی۔ هیڅ پته نهٔ لګی چه ساعت له څهٔ شی، ګهړیٔ له څهٔ شی،..... روغ رمټ به سړے دَ کوره اوځی او چپ چوړ به هسپتال ته اورسی..... روغ جوړ به سړے دَ کوره اوځی او مړ به په کوټ را دننه کړے شی، نو هر کله چه حالات دومره بےاعتباره شو، نو انسان به خیر خیر نه غواړی نو څهٔ به غواړی۔ دا بیله خبره ده چه دَ مونږ والو خلقو نه مرګ هیر دے، چرے په خاطر کښے مو هم نهٔ راځی چه مُنږ مونږ به مرو، که چرے زمونږ مرګ یاد وے نو خدائے شته که بیا مو نهٔ چرے غلطے چارے کړے وے او نه غلط کارونه، هر څوک به ایغ بیغ وو، هر څوک به په سمے لارے سم وو۔ خیر چه مرګ رانه هیر دے نو او شوه معامله مو

نه خرابه ده لو. الله د زمونږ په زړونو کښې د مرګ ويره
پيدا کړې. الله پاک د مونږ نه مرګ را ياد کړی. او هر کله
چه زمونږ په زړونو کښې د مرګ او د حساب کتاب ويره را پيدا
شوه. نو بيا ګورئ چه هر انسان په صحيح معنو کښې انسان
جوړې او که نه ...... (خندا) لاړه هغه د مطلب خبره
نه په مينځ کښې پاتې شوه. دا خبره خير خو زه ګڼم کول چه
خيره روژه را روانه ده. يا صبا او يا بله ورځ. بهرحال
دے ورځ دوؤ کښې به له خيره روژه شي، خو خيرئ په
ے غواړم، چه دے ځل به د دے مياشتے سره خدائے خير
چه څه چل کيږی. چه دے ځل به هم کوز کندے روژه
ويرکندے کوژه وی. دے ځل به هم ګني کلی روژه او
بنار کوژه وی ..... (خندا) يره چه مونږ د روژے او د
ختر د دے مياشتو نه څهٔ د سرخوږی مياشتے جوړے
کړے. زهٔ خدائے شته کهٔ په حساب پوهيږم ..... د دے
مياشتو په سر، وهل اوشول، ټکول اوشول. مرګونه
وشول. د کفر فتوے اولګيدے. مړو خو هرکال داغوبل
کيږی. ولے بيا مو هم روژه سمه روژه او اختر مو صحيح
اختر نه کړو..... (خندا) ای نه ګورئ خوړکړے. دا هم
زمونږ د مذهب نه د غافله کيدو، مذهب نه د بے پروائی

اوغفلت یو عنېٔ ثبوت دے ۔ کنې نو دا اخترونه او روژ ے
په مو دا سے نه کیږے وړے کیدے ۔ اصلي خبره داده چه
مونږ خلق د کال لس میاشتے د هاتقي په عزت کښې اوده یو
نه د میاشتے نه خان خبرو او نه د سپوږمئ نه ۔ خوچه
روژه شي نو بیا په حجرو جماعتونو کښې بحثونه شروع شي
.... "نه مړه ..... د شوقدر د میاشتے نن دولسمه ده"...
"څه؟ دولسمه؟ .... عقل دِ په ځائے دے؟ نن ئے دیارلسمه ده
دیارلسمه".... "وړه څه مړه خوار شے، ته ډیر هوښیار
راغلے یے (پیښے) .... دیار لچمه ده ۔ دے ځلے ته خو ډاوگوره
....." وے ځما په ځله څه چل شوے دے؟".... چل؟ .... بس
داچل پرے شوے دے چه ستا ځله بے واکه شوے ده".....
"وړه څه مړه دے ډیر لقمان حکیم راغلے دے ــ خوارشے ---
(خندا) بس بس رونړو د خدائے خاطر اوکړئ جنګ ترے
مه جوړه وئ ۔ یا به ئے دولسمه وی یا دیارلسمه، روژے ته
لا ډیره موده ده ، مهرباني اوکړئ تاسو پرے د اوس نه
جنګونه مه کوئ .... (خندا) نو د شوقدر د لسمے او دولسمے
نه دا جنګونه او بحثونه شروع شي ۔ خوچه د بحثونو نه هم
څه جوړه نشي ، نو بیا ډیر یاران د روژے د میاشت ده خکاره کیدو
نه یو درځ آګاهو روژه کړي ۔

یار که روژه شوه، نو اوشوه په اصل روژه کښې به شمیر شي
اوکه روژه نهٔ شوه نو ثوابې به شي .... (خندا) ځکه چلېږه
خبره آسانه شوه، که روژه شوه نو اصل روژه به شي ګنې
نو ثواب خو تري نه چا اوړلے نه دے .... رونړو دا د شرطونو
روژه ګورے په روژه نه ده حساب - دَ روژے دَ پاره شرط
دَ میاشت ښکاره کیدل دي، چه میاشت ښکاره شي نو
روژه کوے به او که ښکاره نشوه نو کوچ کوے به - دا نه
چه دَ توکل عشے به خلاصوے که په نخښه اولګیدو نګیدے
به وي ګنې نو یو شنګ خو به نارے کړي .... (خندا) دا خو
هو بهو هغه قصه شوه چه دَ کلاتے بیو دَ شکور نه سپي
دَ تنوریوه روټئ په خُله کښې اونیوه، او مخ په کوځه ئے
شت وهلے .... کلاتے بیو ورپسے یوه کاپره منډه اووهله
ډیر کړے ئے اوکړل، خو خوندئے اونکړو، لاړو لکه دَ
غشي په کوځه اودونو، او چه کلاته بیو پوئے شوه چه روټئ
خولاړه نو په زړهٔ ماتئ ئے اووے چه خه دَ خدائے دَ نامے
شه .... (خندا) او نو خود دَ خدائے دَ نامے شه چه ....
روټئ خو هسے هم لاړه دَ کوتو اووته .... نو هسے دا درته
وایم چه دا دَ شرطونو روژه مهٔ نیسئ او دَ دے په ځائے
دَ کال دَ سره دَ میاشتو حساب کتاب ساتئ .... او که ډیر

نهٔ وی نو کم از کم بیو درے میاشتے خو دَ میاشت دَ کتو دَ پاره ناکام کوی کنه زورَ ورو ...... نو الله پاک دِ خیر کوی۔ دے ځل خو دِ الله پاک دَ روژے دا میاشت دا سے غنته پته را اوخیژوی لکه دَ ګلا ته ببو شکور۔ چه هر څوک ئے اووینی چه هرچا ته نبکاره شی او زمونږ خلق دَ دے شرطی روژو دَ بیولو نه بے غمه شی.... رونړو مسلمانانو اسلام ډیر صفا سپیځلے او آسان دین دے، هیڅ مشکلات پکښے نشته۔ هیڅ پیچیونه او کړ لیچونه پکښے نشته۔ دا خو مونږ خلقو په خپله ناپوهئ او په خپل جهالت دا مذهب دومره ځان ته ګران کړے دے۔ ګنی دَ الله دَ ناحے نه ځارشم هغه خو مونږ ته هر څهٔ صفا صفا ښودلی دی۔ دَ هغهٔ دَ رسولؐ نه قربان شم۔ هغوئ په خپل ژوند کښے مونږ ته هر څهٔ په ګوته کړی دی۔ ټولے لارے ګودرے ئے راته ښودلے دی۔ ټولے کندے کپرے ئے راته په نخښه کړی دی۔ چه دا کوئ۔ دا په دے طریقه کوئ..... دا مهٔ کوئ دَ دے نه په دے طریقے سره ځان ساتئ۔ نو چه اوس مونږ ځانونه رانده کړی دی، مونږ ځانونه ناجانړه کړی دی نو دَ دے څه علاج شو؟ دا ګناه دَ چا شوه؟..... دَ هیچا نه بلکه زمونږ خپل قصور او خپله ګناه ده۔ ځکه خو موږ دا دے سرتندے نه نګی ځکه خو دا سے په کندو کپرو سریو ځکه خو دا سے په بے شمیره

مشکلاتو کښې راګیر یو. یه دونړو ذخدائے خاطراوکړئ
راشئ په دے اسلامي فرائضو کښے پرے جنبے پریږدئ، په
دے مذهبي فرائضو کښے ضد ونه قصد ونه پریږدئ۔ مونږ
کوئ رونړو منا کوئ، ذ مذهب نه دا غفلت، په مذهب
کښے دا پړے جنبے، دا ذ الله تعالیٰ او ذ هغه ذ رسول صلعم
ذ ارشاداتو نافرمانی به مونږ ذ تباهئ کړنګ ته ورګذار
کړی۔ الله دِے نکړی، الله تعالیٰ دِے مونږ ذ تباهئ
کړنګ ته نۀ ورګذاره وی۔ الله پاک دِے زمونږ په زړونو
کښے ذ اسلام صحیح جذبه راپیدا کړی، الله دِ مونږ صحیح
مسلمانان کړی، الله دے مونږ په نیغه لاررروان کړی چه زمونږ
دین او دنیا، چه زمونږ دنیا او آخرت دواړه ښائسته شی۔
الله دے زمونږ په زړونو کښے ذ حبل مذهب سره مینه راپیدا
کړی، الله دے زمونږ په زړونو کښے ذ مسلمان سره بلکه
ذ ټول انسان سره مینه راپیدا کړی، چه اسلام په صحیح
معنو کښے ذ مینے، محبت، امن او سلامتیا مذهب شی۔
الله پاک دے زمونږ رونړے سم کړی، زمونږ اخترونه
دے سم کړی۔

الله پاک دِے مونږ ته نیغه لار اوښائی۔ چه مسلمان
په دنیا کښے یو ښکلے او سپیځلے قام شی۔ یا الله! ته

هر څه کولے شي، ستا په اختيار کښې هر څه شته، نو په خپله مهرباني سره دا مسلمان هم صحيح مسلمان کړے دا مسلمان هم صحيح انسان کړے، چه انسان او انسانيت په اسلام او مسلمان فخر اوکړي - آمين !

○

روژه مَاته شوه

(خندا) بیگاه لا زمُں حجرے ته ، ما وے داشه مرَچکیه بنده دَ حجرے دَ روژه دارو اندازه خو لږه واخله چه یاران په کوم چرت کښے دی ...... نو یو خو دِ خدائے زمونږ دا حجرے په خیر کړی چه اوس خو ترے نه سے دَ انډیو خر اډے جوړے شوے دی . نه به پکښے سمه خبره واورے ، نه به پکښے خوږه خبره واورے ، نه به پکښے ښه خبره واورے ، خو بس هر وخت به په که غوبل وی . هرڅوک به پکښے دَ مرچو په څښته ناست وی ، او بیا په روژه کښے !..... په روژه کښے خو هوښیار سړے هغه دے ، چه دَ بل په وینا سم دم توت ته بکیانږه او وانۍ . .... او که توت ته ئے بکیانږه او نه وے نو جنګ ئے په بیعه واخستو . خلک چه په روژه کښے دَ دے خلقو دا ما غزه لږه کمزوری شی . او زهٔ خو وایم چه په روژه کښے چلمیان رونږه دَ سر نه تر پښو پورے ټول کمزوری شی . او دغه وجه ده چه بیا په حجره که په نه څه خبره دَ یو بل ګریوانونو ته لاس اچوی ..... او که

د قلنګۍ چرګانو کله يو لاند ے او کله بل بانډ ے ..... خندا
بره خو چه سپرے په ځړه دروغ وی ، او طبيعت ئے هم داسے شئ
خوښونکے نه وی ، نو خدائے شته چه حجره کښے نن صياد ساعت
تيری د پاره ډيرے قصے قطارے شته . نو خبره رم دا کوله
چه لارمه حجرے ته ..... ياران ناست وو چاچه چيلم څښلے او
نو ډيره شوی وو .... چاد چيلم په نيچه ځله ايښودے ده لوخړے
ئے تړے ويستے او څوک چيلم ته په کټ کښے د پښو په سر په انتظار
ناست وو ، چه کله به د دهٔ کټ ته وارسی ، چه دے هم ترلوخړے
اوباسی ..... چيلم د هاغه سونه راشروع شوے وو ..... رومبئ
ماما چه پرے ځله کيښوده نو د کش سره په ټوخاری . سر
سر شو ... بوغ بوغ ، بوغ بوغ ، ښه او ټوخيد وا او ښه ئے
سينه صفا کړه نو بيائے د چيلم نيچه پريښوده ..... دويم چلی
ماما ورته دومره په تلوسه کښے وو ، چه د چيلم نيچه رومبی
ماما په توکانړو لړلے وه ، خو دهٔ پرے سمدستی ځله که خو ده
اوډ سينے په زور ئے لوخړه راښکله ..... دے هم په ټوخاری
ټوخاری کښے لاړو سترګے ئے برګے شوے او په کټ کښے بوړی
بوړی پریوتو .... ماخودے چه لاړه جوړے ساه ئے اوخته
خو نه خدائے پاک خير کړو ..... (خندا) مرو خوسر به موخه
خوړه دم ، يارانو چه په چيلم بانډے ځانونه ښه ډيره کړل

نو ډېر ساعت ډ پاره په دے حجره کښې دا سے خاموشي غوړه شوه تا به وے چه ډ قبرونو نه مړي راپاسيدلي دي او په کېټونو کښې ملاست دي ..... چه ښه ساعت تېر شو، نو هغه يو ماما پکښې سر راپورته کړو چه ..... "يره ..... نن خو دے چيلم ډېره مزه اوکړه ، هلکه اسلميه ظالمه دومره ښه چيلم دې ډک کړے وو چه .....".... "دا ډ اسلمي کمال نه وو، کمال ځما ډ تماکو وو، دا سے تماکو م راوړلي دي لکه ډ غڼزالو څکلے"..... "وه څه مره ستا ډ تماکو کمال وو..... هم دغه تماکو وي چه ته ئے واچوے نو دا سے تراخه وي لکه زهر"

(خندا) لنډه دا چه ډ اسلمي او ډ تماکو ډ کمال نه خبره شروع شوه ، هغه په خپله خبره ټينګ او دے په خپله خبره ټينګ . ډ خپلے خبرے نه يو هم نه په شا کيدو ، خودا شکر دے چه هغه يو ماما ته ما شوم آواز اوکړو چه راشه مور م درته نغرے وهي . نو هغه آشنا چه پاسيدو نو ډ خبرے رُخ بدل شو..... شيرّداد کاکا پکښې يوه خبره ميدان ته راوُ شغوله ..... "ته کوره ورته ما مدے په دے روژه کښې ن سته وهلے وه ، نو ډ ده دا روژه کښي ماته نه شوه"..... بل ماما اووے" ولے ماته نشوه. قسم په خدائے چه بالکل ئے روژه ماته شوه"..... سيّفور ماما پکښې اووے چه ما

دَ خپل جماعت دَ ملا صاحب نه تپوس کړے دے هغه وائی چه
په ستن روژه نه ماتیږی"..... وه څه مره ستاسو دَ جمات
مُلا په څه پوهیږی. ما ته دَ خپل جماعت ملا صاحب ویلی
دی چه بالکل په ستن روژه ماتیږی"..... "نو ستاسو مُلا
په څه پوهیږی"..... "بنه ځکنی دا ستاسو ملا ډیر بنه پوهیږی؟
..... اوُ اوُ زمونږ دَ جمات ملا صاحب تحصیل تمامے دے".....
"نه خدائے شته که تهانړه تمامے هم دے، پاتے لا تحصیل تمامے
که دے تحصیل تمامے وے نو دا سے بے کتابه خبره به ئے نه
کوله"..... (خندا) لنډه دا چه بحث شروع شو، دَ دواړو
جماعتونو دَ ملایانو صاحبانو جامے دَ هغوئ په غیرموجودگئ
کښے تارتار او ریبنه ریبنه شوے. او خبره دے ته راغله، چه
سیفور ماما هغه بل ماما پسے وهلوله راپاسیدو...... آخر
ورپاسیدم دواړه بوډاګان رم په خپلو خپلو کټونو کینول او
ورته رم او وے چه کورئ رونړو دا نه دَ جنگ خبره ده نه دَ
جهګړے. ما له افسوس په دے خبره راځی چه مونږ دړے
وړے خبرے راجمع کړے دی او ځان ته مو تړے دَ تاوتړے
عزجوړ کړے دے. اصلی خبرے مو پریښودلی دی او غیر
ضروری خبرے مو راخستی دی. هغلکه چه په څه څیز روژه
مکروهه کیږی نو هغه کاروته خو داسے بے کړکے او بے پرواهے

سره کوئ، چه عوږ مو پرے نهٔ ګرېږي۔ لکه دَ مثال په طور غیبت به واخلو۔ چغلي به واخلو۔ کنځل به واخلو۔ غلا به واخلو سپکے سپورے او بد رد به واخلو۔ دا داسے کارونه دي چه په دے باندے یقیناً کهٔ روژه ماتېږي نه، نو مکروه کېږي خو پرے ضرور۔ موږ په روژه کښے چرے دَ غیبت نه لاس وانه خستو۔ حالانکه غیبت کول داسے دي لکه دَ مړ انسان غوښه خوړل۔ په غیبت باندے روژه مکروه کېږي، ولے دَ دے دَ پاسه هم موږ دَ غیبت نه منع نه شو، او په ستن پسے ګنډه لي یو۔ وَه کور آبادو ستن په تندر اولئ، دَ ستن نه څهٔ غواړئ۔ راشئ دَ غیبت نه ځانونه او ساتئ چه روژه مو مکروه کېږي نه۔ راشئ دَ چغلئ او دروغو نه ځان او ساتئ چه روژه مو خرابېږي نه، راشئ دَ کنځلو او دَ بد و ردو نه ځُلے نه لږ کوُرے واچوئ چه روژه مو کمزورے کېږي نه۔ راشئ پردئ پرېوله پټے مهٔ وهئ چه روژه مو صحیح روژه وي..... نو لکه دا نوے نا شونے چارے خو دِ کوئ خیر دے۔ دا ټول ناروا کارونه خو دِ کوئ خیر دے، روژه مو هیڅ بلا نهٔ وهي، او چه چا ستن او وهله نو لاړه روژه ئے ماته شوه او چه روژه ئے ماته شوه، نو او شوه ګنهګار خو خود شو نو..... (خندا) یهٔ خدایه نو څهٔ او کړم، چرته لاړ شم،

چرته اوتښتم . کله کله خو راته دا زړهٔ وائي چه راشه موچکیه د دې خلقو سره دې هسې خواه مخواه د خلکو خوند خرابیږي نو ښه به دا وي چه ترې پښې سپکې کړه ، خو څه اوکړم چه دې خپلو ډیرو ډیرو ماشومانو ته اوګورم نو بیا وائیم چه یره..... کیږي به . نو اے رونړو خدائے ته اوګورئ دا زړهٔ راله مړپرسوئ او راشئ چه سم مسلمانان شو ، او د اسلام هغه اصلي او بنیادي اصول راټینګ کړو . او دا د خپله ځانه جوړې کړے قصې پریږدو څنګه خو ښه مو ده ؟..... (خندا)

شرک

اے دَ کرکټرے شهیده ، زهٔ نن ستا سلام له راغلے یم..... نن زهٔ دا زړهٔ غواړی چه ستا دَ مزار په دے ختلی دَ عقیدت ټؤ څو رنړے رنړے اوښکے توئ کړم. څو په دے اوښکو به ګنی څما دَ زړهٔ تسلی اوشی. دا دَ عقیدت څو اوښکے به ګنی څما دَ زړهٔ نه هغه غبار لرے کړی...... شهیده بابا ! ستا په مزار څو خلق دَ عقیدت ګلونه غوړه وی. ستا په مزار څو خلق اوږدے اوږدے جهنډے ټکوی. ستا په قبر څو ستا عقیدتمند لوئے لوئے غلافونه غوړه وی. او دَ جمعے په مبارکه شپه درته شمعے او مشالونه بلوی ..... نو څما دا څو اوښکے به ګنی دَ هغه غلافونو مقابله اوکړے شی څما دا اوښکے به دَ ګلونو دَ هغه څهرو ځائے اونیوے شی ؟.... څما دا اوښکے به ګنی دَ شمعو او مشالونو کمے پوره کړے شی ؟..... شهیده بابا ! څما زړهٔ خو غواړی چه ستا دَ قبر په دے ختلی دَ ګلونو انبارونه اولګوم..... څما زړهٔ غواړی چه ستا په دے قبر دَ کمخوابو غلافونه اوغوړوم... څما زړهٔ غواړی چه ستا په مزار دَ غوړو ډیوے

بڼې کړم .... خوځه اوکړم بابا ؛ که څما زړهٔ دا هرڅه کول غواړي
خو بیا هم کولے ئے نه شم ..... بیګاه په خوب کښې خو هم تا راته
ویلی وو کنه ..... اوُ ! اوس ام هم ستا په پاکو سترګو کښې هغه
پاکے اوښکے راپادے شي ، .... ستا هغه غمژنه څهره ام راپاده
شي ، تهٔ څومره خفه وے شهیده بابا ! .... اوُ چه مادر نه
تپوس اوکړو چه داوے ، .... نو تا یو سوړ آسویلے اوکړو ـ او راته
د اووے ..... چه زړهٔ ام ډیر خفه دے ..... مسلمانان لاړل د
اسلام د لارے نه په بله روان شول ..... د مسلمانانو نه بیغه
لار غلطه شوے ده ، مسلمانانو خدائے هیر کړو ـ او د خدا
مقام ئے زیارتونو او باباګانو له ورکړو ـ تهٔ نه یئے خبر چه ے
په دے قبر دا ناپوهه عالم کوم کوم حرکتونه کوي .... خلقو
خدائے پریښودو ، څمانه سوالونه کوي ـ خلقو خدائے هیر کړو
د قبرونو نه سوالونه کوي ..... دا ساده ګان دومره نه پوهیږي
چه قبرونه او زیارتونه چاله هیڅ نشي ورکولے ..... قبرونه
او زیارتونه چاته د څهٔ بخښلو د پاره نه دی ..... بلکه زمونږ
قبرونو دا ځلي د دنیا د پاره د عبرت مقام دے ـ تا سوله
پکار دی چه دلته راشئ چه عبرت واخلئ او دا یقین په زړهٔ
کښې کښینوئ چه مرګ حق دے ـ د مرګ نه خلاصے نشته ـ د
د هر انسان آخرنئ منزل دا هدیره ، او په دے هدیره کښې

دا دوه نیم کړه مړکه ده ..... اے نادانانو ! مړه هم چاله څه ورکړی دی، چه زهٔ به ئے ورکړم ؟ ..... شهیده بابا ! ستا جنړه په سر ستړکو منم، .... زیارتونه او بابګان به چاله څهٔ ورکولے نشی ... خو..... خدائے پاک ته خو زمونږ دګنهګارانو سفارش کولے شی کنه ؟ ...... "دا دخلقو وهم دے . دا مسلمانان دَ حقیقت نه سترګے پټوی . سفارش ؛ اوُ خدائے پاک ته ؟.... اے نادانه انسانه ! الله تعالیٰ ته دَ سفارش کولو حق صرف سرور کائنات صلی الله علیه وسلم ته حاصل دے او هغه هم د محشر په ورځ ...... نعوذ بالله خدائے پاک هم څهٔ انسان دے څه ، چه دَ یو بل په سفارشونو به خلق بخښی ..... اے انسانانو ، اصل خیز عمل دے .... عمل ښهٔ کړئ . کږے لارے پریږدئ . سمے لارے ته را واوړئ ..... او هرکله چه مسلمانان نیغے لارے ته را واوړیدل ..... هرکله چه مسلمانانو خدائے پاک دتولونه لوئے ذات اوګڼړلو ، نو بیا دَ هیچا دَ سفارش ضرورت نشته ...... خدائے پاک دَ چا سفارشونو ته نهٔ ګوری ، هغه دَ انسان عمل ته ګوری .....اے انسانانو الله تعالیٰ خو تاسو ته دومره نږدے دے لکه شاه رګ .....او تاسو چه اوواینئ چه یا الله ! .... نو خدائے درته اووائی چه وایه اے ځما بنده څهٔ وائے ، غواړے اے ځما بنده څه غواړے ؟ ..... خو کاش چه انسان

دا خپل عمل هغه مقام ته اورسوي، چه الله تعالیٰ ترے پخپله
ور تپوس اوکړي چه وایه څهٔ غواړے ..... نو اے غافلانو! مونږ
په مونشته، اودس مونشته، خیرخیرات مونشته، او ذ دے
نشي ذ پاسه هم تاسو ذ شهیدانو مزارونه دربوځئ. ذ باباګانو قبرونو
کو رالړځوئ، چه هغوئ خدائے پاک ته سفارش اوکړي چه ستا
حقیقت سوال قبول شي ..... مهٔ کوئ اے بد بختانو مهٔ کوئ. زیارتونو
اے له ذ غوښتنے انسان ذ پاره مهٔ راځئ بلکه ذ عبرت ذ پاره راشئ ....
سرو زیارتونو له ذ منښتو ذ پاره مه راځئ، ذ دُعا ذ پاره راشئ چه
د ذ زیارتونو باباګان درنه خوشحاله شي، چه ذ قبرونو بزرګان
دے درنه خوشحاله شي ..... او اے ناپوهو! څما ذ دے قبرونه دا غلاف
انسارا غونډ کړئ .... یو سه ستاسو په کندی کښے ذ کچکول یتیمانان
پړ دي، چه په تن بربنډ دي، هغوئ له ترے جامے جوړے کړه
نیغے ..... پاس په دے بیره کښے او خیږه او دا ټوټے جهنډے راکوزے
د توکره ذ کچکول کونډے له ترے پړونے جوړے کړه، چه هغه سرتوره
نشته ه ..... او دا ټوټے شمع او ډیوے راغونډے کړه، ذ کچکول
انساګونډے له ئے درکړه، چه ذ هغه یتیمانان ذ شپے په تورتیپ کښے
ذ خپل سوري نهٔ ویریږي ..... څما قبرونه ذ غلافونو ضرورت
نشته ..... دا غلافونه څما په سینه لکه سندان پراتهٔ دي.
دا ګلونه څما په سینه لکه ازغي پراته دي، څما روح به هلله

خوشحاله شی ، چه ډ دے غلاف نه ډ کچکول ډ یتیمانو جامے جوړے شی ، ځما روح به هله په آرام شی چه ډ دے جهنډو نه ډ کچکول ډ کونړ ے ډ پاره پیروڼے جوړ شی ، ستاسو غلافونه ځما نهٔ دی پکار ۔ دا اسراف دے .... ستاسو جهنډ ے ځما نهٔ دی پکار دا اسراف دے ..... ستاسو شمع او ډیوے ځما نه دی پکار، ما ته په دے تورتیپ قبر کښے ډ خپل عمل رنړا کافی ده .... دا په ډیرو ډیرو ګلونو او سهرے چه ځما په دے قبر پرتے دی ۔ ډ دے نه ماته څهٔ خیر ۔ تهٔ یقین اوکړه چه ماته ډ دے خوشبو یئ ضرورت نشته .... نو بیا ولے دا خلق په دے سهرو باندے په چونګونو چونګونو روپئ خرچ کوی .... که په دغه پیسو لږ نهر په ګډیږه مونږ کړے شی ، نو څنی بنهٔ به نهٔ وی ..... که په دغه پیسو ډ چا قرضداری قرض خلاص کړے شی نو بنهٔ به نهٔ وی ..... که په دغه پیسو ډ چا نادار مریض دارو درمل اوشی نو بنه به نهٔ وی ؟ نو بیا ؟ ..... بیا دا خلق ما ولے آرام ته نهٔ پریږدی ..... چه خدائے شته ، نو ډ قبرونو نه دا خلق څهٔ غواړی .... چه خدائے شته ، نو بل چا ته ډ وینا څهٔ ضرورت ۔ اے مسلمانانو توبه اوباسئ ..... ډ شرک کارونه پریږدئ ..... دا شئ صحیح مسلمانان شئ .... دا شئ صحیح انسانان شئ ..... ډ زیارتونو په سفارشونو مو خلاصے نشته ....

د باباګانو په سفارشونو مو غاړه نهٔ خلاصیږی ..... قاتل که په زیارتونو باندے د سرو زرو غلاف اوغوړه وی، خو د خون د ګناه نه نشی خلاصیدے ..... غل که په زیارتونو باندې د سپینو زرو ډیوے بلے کړی، خو خلاصے ئے نشته ..... که بے نمازه د زیارتونو خاورے د سترګو را نجهٔ کړی، خو حساب کتاب به ورسره کیږی ..... زیارتونه قاتل ته خون نشی بخښلے زیارتونه غل ته د غلا مال نه شی حلالولے ..... زیارتونه بے نمازه ته مونځونه نشی وربخښلے ..... نو بیا ؟..... بیا دا غلاف ځما قبر ته غونډ کړه، او د کچکول ځامنو له ئے ورکړه..... ځنجهنړے راکوزے کړه او د کچکول ښځے له ئے ورکړه..... او لاړشه دا خلق پوهه کړه، چه ځما په قبر غلافونه نه غوړه وی، بیا د ځما په قبر شمع او ډیوے نه بلوی ..... دا غلافونه، دا شمع او ډیوے اسراف دے ..... او زهٔ پخپلو سترګو پخپله نامه دا اسراف نه شم زغملے"......

شهیده بابا! ستاخبرے ما د زړهٔ په غوږو واوریدے ..... زهٔ دا منم چه دا غلافونه، دا جهنړے او دا سهرے ستا د هیڅ فائدے نهٔ دی..... زهٔ دا منم چه زیارتونه اوٌ زیږګان چا ته خون نه شی بخښلے. چا ته غلا نشی بخښلے. څوک د مونځ د ذمه وارۍ نه بے غمه کولے نهٔ شی ..... خو بابا! دنیا په پتهو

ستوګو په دغه سیلاب کښې لاهو شوې دۀ .... دَ مسلمانانو نه سمه لار خطا شوې دهٔ، مسلمانانو خدائے پاک هیر کړے دے .... زهٔ منم چه مسلمانان په قبرونو غیرشرعي سوالونه کوی .... زهٔ دا هرڅۀ منم .... خو .... که اوس چا ته داوایم چه دا کار په شرع کښې ناروا دے / نو .... اوس رم په کانړو اد لوټو اولی ..... اوُ اے شهیده بابا! زهٔ دا منم چه دَ کچکول ځامن بربنډ دی .... دَ کچکول ښځه سرتوره دهٔ، په ټول کلی کښې دَ کچکول دَ بچو په سو چالاس رانه کښنلو .... دا هرڅۀ دِ منم ..... خو .... . ستا دا خبره نه شم منلے .... ستا دَ قبر نه غلاف راغونډول .... ستا دَ مزار نه جهنډے راکوزول .... دَ خلقو په نظر کښې یو لوئے جرم دے ..... یو نهٔ معاف کیدونکے جُرم دے ..... نو اے شهیده بابا! زهٔ درنه معافي غواړم ..... ډیره معافي ..... معاشره ډیره خرابه شوې دهٔ .... مسلمان دَ نیغ لارے نه ډیر لرے وُتے دے ..... مسلمان اوس دَ پویُولو دَ حد نه تیر شوے دے .... اوس ؟ اوس صرف یو الله پاک دا بے لارے شوی په لاره کولے شی . دَ هغهٔ په فضل د کرم به هرڅۀ کیږی ..... شهیده بابا! راځه چه دواړه لاس پورته کړو چه الله پاک دِ دَ مسلمانانو په زړهٔ کښې دَ مذهب سره مینه را پیدا کړی . الله پاک دے دَ مسلمانانو په زړهٔ کښې

دَ وحدت سره مینه راپیدا کړی. الله پاک دِ په خپلې مهربانئ سره مسلمانان دَ شرک دَ خړ سیلاب نه په امان کړی..... آمین.

شهیده بابا! خدائے دِ درله جنتونه دَرکړی، ځما دَ زړهٔ نه دے یو لوئے پیټے کوز کړو..... شهیده بابا! اوس راته معلومه شوه چه ستاسو په مزارونو دَ مسلمانانو دا غیراسلامی سوالونه او غیر اسلامی حرکتونه ستاسو روح ته څومره تکلیف دررسوی الله پاک دِ مونږ ته هدایت اوکړی. الله پاک دِ مونږ ته نیغه لاره اوښائی. آمین یا رب العالمین!

پښتو

اوٚ نو سیفور ماما ډیر سخت طبیعته ډیر بد خویه او ډیر تُند مزاجه وو. هغهٔ چا خبره چه په پوزه ئے پخه نهٔ پرېښوده. ..... دَ هر چا سره جنګ دَ هر چا سره جهګړے. په نه خه خبره به ئے کوټک ته لاس کولو. ټول کلے ترے نه په اور کښے ولاړ وو..... وے سیفور ماما له خدائے پاک یو ځوئ ورکړے وو..... خو چه پلار ئے څومره بدخویه وو، ماما مدے دومره دَ سرے سړیو خاوند وو..... ډیر لوئے زړهٔ ورله خدائے پاک ورکړے وو..... دَ هر چا سره جی جان..... دَ هر چا سره خوږه پسته ژبه. دَ هر چا سره ښهٔ راشه درشه..... او دَ ماما مدے دا ښهٔ سړیتوب دَ سیفور ماما په زړهٔ ښهٔ نه لګیدو..... سیفور ماما به که په حجره کښے ناست وو که په جماعت کښے نو هم دغه به ئے وے، چه ..... "پرېږده مړه ماما مدے هم لا سړے دے. دَ کوم سړی چه ترېخه نهٔ وی دَ هغهٔ مثال خوږ دَ ښځو دے"..... ماما مدے به دَ پلار دا سپکے سپورے آوریدے خو غوږ به ئے پرے نهٔ کرولو..... دَ ورځو نه

یوه ورځ وه..... چه ما ځدے کوزماځیګو پہ کوټه وانښتو نوداسے مې غبږن غوندے وو. او چه سیفورماما ورته ځنګه اوکتل نو...

"ولے هلکه، دا وربوز دِ ولے کوږ ښیولے دے. چاسره دِ جنګ اوکړو څه؟"

"نه جنګ خو مِ نه دے کړے."

"ماته پته ده چه ته دومره تورزن نه یې چه دَ چاسره به جنګ اوکړے. خو حال راته اووایه چل څه شوید ے."

"نن دَ شیبوی اسپه بیا پټي ته راوریدلے وه. یوټل رشقه ئے خوړلے ده."

"نو بیا؟..... تا څه چل اوکړو."

"ما؟..... پلار ته مِ ئے اووئیلے چه ځوئ دِ لږ پوئے کړه."

"دَه څه بے غیرته..... "پلار ته مِ اووئیلے"..... لکه دَ ښځو دَ کیلو چل درځي. نن دَ شیبوی اسپه پټي ته دروا وریده، صباله به دِے شڼیرے پوله اووهي، او بله ورځ به دِ شیرے په پټي قبضه اوکړي. بے غیرته دا دَ کیلو خبرے نه دي."

"بابا"......

• چپ شه دَ بابا بچیه. چه ستا په رنګ نه سړي ځامن دَ چا دي نو هغه به ټول عمر تیټ سترګي ګرځي. دَ شیرے اسپه پټي ته واوریده، او دَه شنیرے په حیا ګنے پریښودو. بے غیرته.

......"بابا پلار ته رې ووینا اوکړه هغه به دې پوئ کړي؟"

"هغه کوم نور بکواس درته وایم. ارمان چه ستا په ځائے ځوی ئ نور شوے وے. تا نه خو به نور په زرچنده ښه وه. بې غیرته چه پلار له دې په ګله ورتلے. نو شیرے دِ شپې پرته وے نه وېشتو."

"په یو موټي دشقدرم شیرے شپږ دزه ویشتلے وے؟"

"او. او. په یو موټي رشقه دِ چه نن شیرے شپږ دزه ویشتلے وے، نو صباله به دِ خوک د پښتو په پوله هم نه تیریدل، خو په تا کښې دومره غیرت کوم دے. ارمان دے چه په تا کښې دومره تریخ وے. چه نن زهٔ د خلقو په مخکښې بټیټ سترګے نه وے..... ځه ته کینه په کوټه کښې او زهٔ درځم، چه د شیری سره پخپله خبره سپینه کړم."

"بابا"

"بس چه نور دِ قرت واؤ نه درم."

"بابا ته مه ځه..... ځمه زهٔ به د شیری سره خبره اوکړم چه ستادا سے خو ښه ده، نو زهٔ به هم دا خپل شرافت ستاد بے ځایه پښتو د سره ځار کړم."

"ماما مدے کوټے ته ننوتو. تماچه ئ راواخسته په بېره ئ کړه. ځادرے په اوږه واچولو، او لاړو په کوڅه اوو تو..... ځږے

ته راغلو.... په حجره کښې کنړخلق ناست دُو..... شیرے هم ناست وو.... شیری چه مامدے اولیدو نو....

"مامدے راځه ماسره کینه"

مامدے شیری ته بد بد اوکتل او...."تاسره کښینم - تا ته ځاوینے خوښکیږی او ته وے چه ماسره کښینه - زهٔ به ستا وینے اوڅښنم"

"خیر خیر - نن خو آشنا ډیر په غصه دے - خیر خودے"

(غصه) "بس خیردے په دے کښې دے چه خُله ډاونیسه کنی نو...."

"هلکه مامدے په قلارشه - زهٔ درته خاندم، او ته ګُکیا یے کاواکے وهے"

(غصه) "زه کاواکے ویم؟...."

"کاواکے نه وے نو څه وے - دا اوس ستاسری توب دے چه زهٔ درته چپ ناست یم او ته په خُله کښې اورکرخوے"

(غصه) زهٔ وایم چه ماستا وینے اوڅښلے او ته...."

"آخر پوهٔ خورم کړه کنه - چه چل څهٔ شوے دے؟"

(غصه) "ستا اسپه نن بیا ځما پټي ته راوړیدلے وه"

(خندا) "بنه بنه.... پوهٔ شوم - بنه داتا څکه زمرے دَ بریتو نه نیولے دے - خیر دے مره تاوان به درکړم"

(غصه) تاوان ماوان ډ نه منم. خو چه پس له دے ډاسې
راواوړنه ړی، ګنې خدائے داستی چه به عزت ډکړم."

"یهٔ هلکه مامدے ـ بے زبانه مال دے که دروا وړیدو
نو څهٔ چل اوشو؟"

"زهٔ درته وییم چه بیا به ستا اسپه ځُماپتی ته نه راوړی."

"که درواوړیده نو..... درآوړیدے به وی."

"راوړیدلی به وی؟"

"اوٌ بے زبانه مال دے. دٔ بنیادمو نه غلطی کیږی نوځاروے
خو....؟"

(غصه) "دٔ بے زبان ماله.... ته هم ځپله حیا پوځ نه شوے؟"

مامدے دٔ بړے نه تماچه راد و بیسته او ډزه ډز شو چه
شیره ئے درے ډزه اوویشتو. شیرے په دینو کښے لیت پیت
پروت وو..... مامدے خلقو اونیوو. دٔ حجرے په کوټه کښے
ئے ګیر کړو.... رپورټ اوشو. پولیس راغلو. مقدمه شروع
شوه.... خوخونده ئے اونکړو. دٔ دنیا ورځے واقعه وه.... په
مامدے دٔ پهانسئ حکم اوشو. او چه څه وخت مامدے په
بیړو هتکړو کښے دٔ جیل په دروازه ورننه وتو نو دلته دٔ
سیفور ماما دٔ سترګو نه دٔ اوښکو سیلاب دا روان شو...

"مامدے بچیه!... ماځپل وس اوکړو. ماځپل جائیداد

دوره کړو.... ما ډکور مال حال تالا کړو - ما ستا ډ راخلاصولو
ډپاره په هیڅ خبرې صرف اونکړه - خو ارمان چه ما ته ډ پهانسۍ
ډ تختې نه راکوز نکړے شوے.... ما مدے ما ستا ډ پاره
هر چا ته منتونه اوکړل - هر چا ته مې زارۍ اوکړے.... ستاډ پاره
زهٔ ډجیل ډ میټرانو په پښو هم پریوتے یم - ما خپله پختو
ډ جیل ډ میټرانو په پښو کښې هم غورزولے دهٔ ، خو.....
"بابا ډ تقدیر لیک نشي نوریدے - دا به ځما په تقدیر کے
لیکلې وو."
"دا سے مهٔ وایه بچیه - دا هر څهٔ دربانډے ما اوکړل دا
ټوله ګناه ځما په غاړه ده - ډ شیری خون ځما په سر دے او
ستا خون هم ځما په غاړه دے - که ما ته نه وے لمسولے
نو نن به ته ډ پهانسۍ تختې ته وے رارسیدلے."
"ارمان چه دا سوچ دې آګاهو کړے وے - بابا مونږ ډیر
بد قسمته یو - په پټوله او ډیران جنګونه کول - ډ ډیران ډپار
ډبل په مرګ چاړهٔ راکښل را ته غیرت او پښتونښکاری - او
ډ جیل ډ میټرانو په پښو پریوتل او ډ هغوی منتونه کول
را ته عیب نه ښکاری..... دا ټوله زمونږ ناپوهي ده - دا
ټول زمونږ جهل دے - الله پاک دې مونږ له عقل او پوهه
راکړی ، بابا په زړهٔ ډ صبر تیږه کیږده..... مورلرم دلاسه

ورکه - زهٔ پوهیږم چه هغه به داغم برداشت نکړے شی...
دا پوهیږم چه هغه به ډ دے غم نه....." (سلګئ)
(ژړغونے) "مامدے - څما بچیه ! ستا مور به ستاجدائی
برداشت نکړے شی ..... هغه به ډ دے غمه مړه شی....
مامدے د ژوند په دے آخرنو ورځو شپو کښے ستاجدائی
به څما د ملا تیر مات کړی "
"ارمان چه دا سوچ دے پخوا کړے وے - ارمان چه د
غلطے پښتو په سیلاب کښے لکه د ګنګخړو په رنګ د لاهو
کیدونه آګاهو هر پښتون د غلطے پښتو په انجام باندے
سوچ اوکړی - بابا اوبۀ د ورځه تیرے دی اوس هیڅ نشی
کیدے - اوس د لاسونو مروړلو نه هیڅ نه جوړیږی..... څۀ
په خدائے رم سپارلے یے - مورته رم وایه چه دُعا راته کوی.....
چه د خون غوندے نۀ بخښونکے جرُم راته خدائے پاک او بخښی"
(اسویلے) ..... مامدے سپاهیانو د جیل کو ټړی ته دننه
کړو ... سیفور ماما د جیل دروازے سره ولاړ وو......
په غږ ئے د اوښکو سیلاب راروان وو ..... او چه مامدے
د سترګو نه پناه شو.... نو یوه سپیره کړیکه ئے اووهله
.... راپریوتو ..... او چه خلق راټول را ټول نو سیفور ماما
بیا بیځ پخ شوے وو..... سیفور ماما د غلطے پښتو د سره

خپل ځوئ قربان کړو ـ او بخپله هم زړهٔ چاوړے د دنیا نه لاړو .... په دے کښې د جیل د انګرېز نه په هسک غږئ چا قیدی د رحمان بابا "دا شعر اووے ؎

تر درخ ښېرے اوبهٔ بیرته نهٔ جاروځي

نهٔ جاروځي تېرساعت په بیرته بیا

دَ ښځې مُقام

(خندا) دَ پښتو متل دے چه "عالم په څۀ او سید عالم په څۀ"..... دنیا دَ کوم ځائے نه کوم ځائے ته اورسیدله او زموږ طوطی گل کاکا دَ هاتھی په عزوږ کښے اوده دے..... (خندا) یوازے طوطی گل کاکا غریب ملامته نه دے. ځکه چه په دے دنیا کښے دَ دے زمکے په مخ دَ طوطی گل کاکا رونړه نور هم ډیر دی، چه لکه دَ کوهی دَ چینډخانو دَ دنیا دَ رفتار نه نۀ دی خبر. او هم هغه دَ جهل او ناپوهئ په تورو تیرو کښے تکړے وهی..... هغوئ دَ زمانے ترقئ او مخکښے تګ منلو ته هم تیار نۀ دی..... دَ ښځے چه په حجره کښے کښینی، نو دا شه که ئے کورے..... ټوله ورځ به دَ یارانو په "هوُشه بچے، پوله شه بچے" وښکی ستړی شوی وی..... او دَ ماسختن چه دَ تماکو لوخړه راکاږی نو بیا ورته عزوږ کیږده..... دَ دنیا په سیاسیاتو به تبصره شروع شی سائنسی معلومات به میدان ته راوځی..... دَ یوکوټ نه به آواز راپورته شی "نه مړه قسم په خدائے چه قیامت نزدے دے

ته اوګوره دا اوس د منلو خبره ده چه روس او امریکه سپوږمۍ ته د رسیدو کوشش کوی".... د بل کوټ نه به بل آواز را اوچت شی...." وه څه مره خدائے راستی که د دوی هغه پلار هم اورسی، سپوږمۍ ته رسیدل دا سے آسان کار دے" بل آواز... "یه هلکو اے څه د یو ساعت د پاره به مونږ دا او منو چه روس او امریکه به خپل سری سپوږمۍ ته اوخیژوی. خوزه پتوس کوم چه که دغه سرو چرته پاس ملیاؤ ے اوکړے نو زمونږ خو به تودے چاے پلیتے شی.... (خندا) لنډه دا چه د شړشمو د ډیوے په رنړا ناست رونړه سپوږمۍ ته په ختو او نه ختو بے سر لګی بحثونه کوی. کله کله بکښے پخپلو کښے ګرم هم شی. یو بل ته پکښے ناشولتے هم اولی، بیا پکښے دریم ګړے ترمینځه شی، او خبره رفع دفع شی..... څما هم چه کله کله زړه تنګ شی نو د ساعت تیری د پاره حجرے ته لاړ شم.... یو ساعت کښینم، دا بے سر بے لګی خبرے واورم......او دوب زړه د حجرے نه کور ته راشم..... سوچ کوم چه خدایه پاکه دا بے تعلیمی او ناپوهی څومره ناکاره شیز دے.... دا خلق ګرم نه دی، ځکه چه دوی خبر نه دی.... او چه نه خبر نو نه ګرم. ترڅو پورے چه مونږ کښے تعلیم نه وی عام شوے، تر هغه وخته پورے به هم دغسے د جهالت په تیرو کښے ټکرے خورو..... نو

خبره ئې د طوطي ګل کوله ..... پرون چې طوطي ګل راغلو، نو وربوزې داسې کوږې غونډې وه ..... پوزه ئې په شونډو واغوړلې وه، شونډه ئې په ځنه او ځنه ئې په ګريوان لګيدلے وه. پوهه شوم چې څه چل خو شوے دے ...... وه به خيرو ؟ اخر ګله. شکر دے چې نۀ راښکاره شوے، زورُوره چې يو ځل لاړ شے نو بيا دِ دهيو وپسته نۀ ګټي. داکوم ځائ دے چې نه وے.....(خاندي) تاته وايم کمه طوطي ګله. په نيکئ شے څوګه روژه دِ نيولے ده څۀ؟ ...... طوطي ګل يو سوړ اسويلے اوکړو او راته ئې اووے چې "مرچکيه! ماوے هسې طوطي ګل ....." ډير بد ئې کړي دي چې په دے کلامير ئې سبق ويلے دے، که ستاړم نه وے ملګے نو نن به داسې پښيمانه کيدم نه"..... خيرشه طوطي ګل. کلامير څه کړي دي چې داسې دِ ترے زړۀ تکيدلے دے. ځما په خيال خو کلامير ډير ښه هلک دے. ډير ګلالے هلک دے، ډير په سړي توب او د اسلامي احکامو نه خبر هلک دے، او دا ټولے خوبئ تعليم په هغه کښے پيدا کړي دي، که تعليم ئې نه وے کړے ..... "که تعليم ئې نۀ وے کړے ډير به ئې ښۀ کړي وو"..... د طوطي ګل دا وړے وړے سترګے لکه د بيزو په رنګے سرے شوے، خدائے شته چې زۀ هم ترے نه اووېريدم، او دا يقين ئې پيدا شو، چې د کلاميرنو څۀ غټه غلطي شوے ده ......" آخر حال خو او وايه کنه چې چل

څهٔ شوے دے؟ .... طوطی ګل بیا یو اسویلے اوکړو او وا شروع شو..... مرچکیه! ګلامیر ډیر بے سرې توبه دے غیرت پګښے نشته، حیا پګښے نشته .... ته ګوره ورته دا بے غیرته چه هره ورځ کورته رانوځی، نو په ښځے سلام اچوی؟..... وه بے غیرته په ښځو هم چرے سړو سلام اچولے دے، چه تهٔ اوس په دے غمه تنه رانوځے نو دَ خبرے نه ځګیږے (پیښے) "چلا مالیکم" (خندا) ..... او خاندم که اوڅاپړم دا اوس دَ دهٔ کولو کارونه دی چه کوی ئے - شل ځله م منع کړو، چه هلکه ستا دا عادت ګورے ځما نه دے خوښ، ..... بیا ګورے په ښځے سلام وانه چوی، خو چه لګه په کانړی اوبهٔ نهٔ حصاریږی. دا ہے په ډیے بے حیا هی و ځما خبره اثر نهٔ کوی ..... او بنه دائے لا ځنځ کوے .....

مائے دَ سلام غم ژړلو چه پرون دَ غزمے کورته ورننوتم، نو څهٔ ګورم چه دے اوس دَ کټ سر ته ناست دے او بی بی صاحبه ئے دَ کټ لنګے ته، دواړه به یو تالی کښے روټئ خوری ..... یره آشنا دَ دے سړنه م یوه لمبه اوخته. دے زړهٔ خو راته دے چه راشه طوطی ګله دا چوکه ئے دے ملاته اونیسه او بنه دَ لاده بادهٔ ئے اوباسه، چه بیا دا ہے بے سرېتوبه کار نکوی ..... خو ما وے اوس به دا ګلے مالت دَ دهٔ یه دے بے سرېتوبه کار خبر شی، او خندا ګانے به راپورے کوی، ..... نو چوکه خو

ږم کېښوده، خو را شروع شوم ورته، او د ښځې نرم ژبات سپک کړو، ..... هلکه سنړا میره، ته په خوارئ خوارشے د ښځو سره هم په یو تالی څوک روټئ خوری، ..... ښځه خو د پښے پنړه ده، ... ښځه خو د دیوال د سر سپیاکه ده ..... د پښو پنړه چه تا را واخسته، په یو تالی ډ د ځان سره کښېنوله، نو صباله به د هغے کنی سترګه اوسوزی ؟ خدائے شته، که د سپي په نظر هم درته او ګوری ..... ښځے ؟ ..... د ښځو نه امان پکار دے، کوم کسان چه ښځو شرمولی دی، نو هغوئ به لا ځائے نه چرے راځی ..... د ښځے نه چه سحر مازیګره خدائے د پاره دوه عزبه او باسے، نو هله به ښځه وی، ګنی نو بیا خو د سړی مورکیږی ..... (خندا)

طوطی ګل ته به د ملانه راتاؤ کړے وه، په یو سالګیا وو چه ښئ ستړے شو نو تیږس ږم توے اوکړو، چه ګلا میرخه نه دے؟ ..... ګلا میر؟ ..... د هغه لږے غیږے سترګے دی ..... هغه راته وے چه ښځه دومره سپک څیز نه دے، ښځه هم لکه د سړی په شان بنیادم دے. او زموږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم به د خپلو بیبیانو ډیر عزت کولو ..... چه هغوئ به کور ته راغلل نو په بیبیانو به ئے سلام اچولو ..... او هغوئ سره به ئے په یو تالی روټئ خوړه ..... صرف خو دا سے نورے ډیرے د نه منلو

خبرے ئے اوکړے..... زهٔ خوئے خدائے راستی کهٔ او منم چه
ګنې زمونږ پیغمبرؐ صاحب به چرته په بیبیانو سلام اچولے وی
یا به ئے دَ هغوی سره په یو تالی روټئ خوړلے وی...... آخر
دا په کوم کتاب کښے راغلی دی ؟.... (خندا) بیره طوطی ګله!
تا ته به زهٔ اوس څهٔ اووایم ..... وَه میرغضبه، وَه میرغضبه
..... په نیکئ شے، ګلامیر درته رشتیا وائی .....'' رشتیا نه دَ
هاتی سروائی .... مرچکیه او خوره قسم چه ته به دَ زرغون دَ
مور سره په یو تالی روټئ او خورے ؟..... (خاندی) ..''زهٔ ؟ اوٓ
خدائے راستی چه زهٔ اوٓ زرغون مور سره په یو تالی روټئ
خورو''..... توبه توبه، خدایه توبه، آخره زمانه شوه، هرڅهٔ
به واوړو، لاړه دَ خلقو دَ سترګو نه حیا اووته، غیرتونه پائے
نهٔ شو. بیره مرچکیه ځما ستا په حقله ډیر ښه ګمان وو خو اوس
را ته معلومه شوه، چه ته هم دَ ښځو مرید یئے.....'' ته اوس
دَ هلکانو مور سره په یو تالی روټئ خورے، او ته چه کور
ته راننوځے، نو ته هم دَ زرغون په مور سلام اچوے، بیره مزکه
به اونهٔ چوی چه ستا او دَ ګلا میر غوندے شرمونه خو ترِلاندے
شی...... بس طوطی ګله! نور دِ ژبے ته قیزے وا چوه ګنی نو
حلق به دِ ترِیخ کړم...... ما ته غوږ او نیسه اے ناخبره انسانه
ښځه نه دَ دیوال دَ سر سپیاګه ده، او دَ پښو پیزره ده، ښځه هم

انسانه دَه، ښځه هم دَ عزت او احترام قابله ده. او ګلا میر
چه درته څه ویلي دي، بالکل ئې رشتیا ویلي دي. زمونږ
پیغمبر صلی الله علیه وسلم خو هغه هستي وه، چه چاؤ ښځې
ذات په حقله دَ جهالت دَ زمانې نظریه هډو بدله کړه، دَاسلام
نه مخکښې به هم ښځې ته ډیر په سپک نظر کتے شو، بلکه ښځه ذات به
یو لوئې پیغور ګڼړے شو، ولے هر کله چه زمونږ پیغمبرؐ دنیا ته
تشریف راوړو، نو اولنے کارئې دا اوکړو، چه ښځې له ئې خپل
اصل مقام ورکړو، او دنیائې په دے پوهه کړه، چه ښځه لکه دَ
سړو هومره په دنیا کښې دَژوند تیرولو حق لري...... زمونږ
پیغمبرؐ چه به کورته راغلو نو په بیبیانو به سلام خامخا اچولو.....
دَ هغوئ سره به ئې په یوتالی روټۍ خوړه،..... خو طوطی ګله
دَتا عونډے کسانو دَلاسه ښځه ذات بیا سپکه شوه. او دَ دے
سزا به تاسوله خدائے پاک درکوي ..... تاسو دَاسلام دَ تعلیماتو
خلاف روان یئ، تاسو دَ پیغمبرؐ دَ تعلیماتو مخالفت کوئ،
نو ځکه به په تاسو دَ خدائے قهر نازلیږي....... څه ؟..... په
غصه شوے ؟ په غصه نه یم طوطی ګله، خو ستاپه دے ناپوهئ
باندے افسوس راځي.... دارم واوره چه دَ آزاره چا بازار مونډلے نه
دے.... ته او ستاپه رنګ نور رونړه به هم هیڅکله دَ ښې ورځې
مخ نه وینې که خیری..... څه ؟ ته ؟ په غلطه ؟..... په غلطه نه

زهٔ وایم چه سم په ګمراهئ کښې پروت یمه...... بیا ؟...
بیا دا چه دَ خدائے په ښنودلے شوے لاره روان شه، دَ رسول پاکؐ
په تعلیماتو عمل اوکړه، او بنځې ذات ته سپک سه ګوره...... خه!
خه.... ؟ اوٗ او دَ ګلا میر په مرر سلام هم اچوه.... او دواړه
په یو تالی روټئ هم خورئ.... خو مره خو نه به کوی چه بوډا
بوډئ به په یو تالی ناست یئ روټئ به خورئ... او دا مُتهه
ګپ به مو شروع کړے وی (خندا)... اّن.... په خندا شوے
.... خوندے درکړو کنه (خندا) یره خو...... ★

انتقام

(اسویلے) ژوند..... او !!.....یو خو ورځے ژوند....
د شمیر یو خو گهړئ ژوند - ډیر تریخ دے کنه رونړو؟
او په تریخوالی کښے ئے شک نشته سره د دے دومره ظاهری
رنګینو،..... سره د دے دوکهامو، په حقیقت کښے ژوند
ډیر تریخ دے..... دا بیله خبره چه مونږ خپلو ځانونو له
تیر ورکونو، مونږ خپلو زړو نوکه ورکوو، په زورمو په
ژوند کښے رنګینی راپیدا کړئی نو ژوند تریخ دے...
... رونړو څوک په آرام دی؟ دے دنیا په ځئ یو داسے
انسان هم، چه د هغه په څه غم نه وی- د هغه په
زړه کښے به څه ارمان نه ر هر څوک ناقلاره دی.
غریب ناقلاره، امیر ناقلاره ناقلاره، بوره ناقلاره،
د اولاد خاوند ناقلاره، بے اولاره- موږ ناقلار- نهر ناقلاره
..... هر څوک ناقلاره دی- ژوند تریخ شو کنه.... او
په دے تریخ ژوند کښے ځنے داسے واقعات راپیداشی، داسے

حالات راپیداشي، چه ناقلاره ژوند، زهرکړي، ګنهګارکړي ....
اوږ! داسې حالات هم راپیداشي چه ژوند زهر او ګنهګار شي ...
... ګل خانګه بیوم یاده شي - نه م یاده شي، داسې م یاده شي لکه
دا شاعت - داسې م یاده شي لکه داګهړۍ - هغه سره هغې بره هغې
ګل سانګه ..... هغه لیونۍ سپیلنۍ ګل سانګه ..... هغه چه هر
وخت به اوتره وه، هغه چه هروخت به لکه د پارې ناقلاره وه
..... ولې؟..... روښو د ولې جواب ډیر دروند دے. د ولې جواب
ډیر بوږنوونکے دے. د ولې جواب خو د انسان په زړه کښې پرهرونه
جوړه وي. د ولې جواب خو د انسان زړه قطرې قطرې او ټوټې
ټوټې کړي. نو بیا؟..... بیا به درته زه څه اووایم چه ګل سانګه
بیو ولې داسې ناقلاره وه، ولې داسې لیونۍ سپیلنۍ وه، ولې
ئے شونډو داسې پاپړی نیولی وو..... او د ګل سانګې بیو شونډو
پاپړی نیولی وو .... ځکه چه د هغې په سینه کښې اور بلید و. د
هغې په سینه کښې لمبې بلیدې ..... د هغې په سینه کښې تنور وو
او دغه تنور به شپه ورځ غرغندې وهلے. ځکه خو د ګل سانګې
بیو شونډو پاپړی نیولی وو. دا خو صرف پاپړی وو. زه خو وایم
چه ګل سانګه بیو د دغې اور غرغندو پښوا لولپه کړے وے.
پښوا ئے ایره کړے وے. خو..... انسان ډیر سخت ځیږدے
داسې په آسانه توره ډال نه بږدي ...... داسې په آسانه بیلات

نه مني ـ ګل سانګه ببو د انتقام په اور کښې سوزيده ...... انتقام
...... د چانه ؟ د يو داسې خيز نه چه هغه خبرې نه شوې کولے ..
د يو داسې څيز نه چه د ګل سانګې ببو د شونډو په پاپړوئې پروا
نه وه، ..... د ګل سانګې ببو د غم نه هم خبر نه وو ..... ولے بيا
هم ګل څانګې ببو په حيثيت د يو مور د دغه بے ژبانه څيزونه دا
اولاد واخستو، چه د دنيا د پاره ئې يو مثال پريښودو ..... د
اولاد د پاره ئې يو مثال پريښودو ـ د ځامنو د پاره ئې يوه نمونه
پريښوده ..... اُف ګل سانګې ! څه او وئيم ..... چه ستا دا اقدام
ګنې خودکشي وه ..... ستا دا انتقام ګنې ګناه وه ..... يوه عظيمه
ګناه ؟ نه نه ـ زه دے انتقام ته خودکشي نه شم وئيلے ..... زه
دے اقدام ته خودکشي نشم وئيلے ـ ځما په نزد ګل سانګې ببو
خودکشي نه ده کړے ـ بلکه ګل سانګه ببو شهيده ده ..... شهيده
..... ځکه چه ګل سانګه ببو مور وه ..... او هغې دا هر څه د مور و لے
د جذبے نه د مجبورتيا د کبله کړي وو ـ هغه مجبوره وه د ځوے
ناګهانی مرګ هغه ليونئ کړے ..... د ځوے ځوانی مرګ توب
هغه په ژوند مړه کړے وه ..... څوک څه خبر دي چه د مور په
زړه کښې د اولاد د پاره د مينې او محبت څه جذبات وي .....
چا ته نه ده معلومه چه د مور په زړه کښې د اولاد د پاره کوم
مقام وي ..... څوک نه دي خبر چه مور په خپل اولاد څومره مئينه

وي...... او چې څوک ددې حقیقت نه نهٔ دي خبر لوړا دِ شي دَ گل سانګې بیبو دَ ژوند حالات دِ واوري . دَ هغې دَ لیونتوب دَ اصلیت نه دِ ځان خبر کړي .... دَ هغې دَ زړهٔ دَ پرهرونو حال دِ اوپوښتي چې ورته معلومه شي چې دَ مور په زړهٔ کښې دَ اولاد دَپاره څومره مینه او څومره محبت وي.....

گل سانګه بیبو ! زموږ دَ کلي یوه سپین سرې بوډۍ . زموږ دَ کلي یوه غیرتۍ بوډۍ . زموږ دَ کندې یوه پښتنه بوډۍ.... دَ دې بوډۍ گل سانګې یو ځوئے وو....« لونګ ».... زه نور دَ لونګ دَ ژوند قصه به درته نه کوم..... دَ دې بیان ضرورت نشته چې لونګ مور څنګه لوئے کړے وو...... په څه شواخون ئې دَ ځوانئ ده ډکو ته رارسولے وو..... دَ دې بیان هم ضرورت نشته چې دَ لونګ په حقله دَ مور په زړهٔ کښې څه ارمانونه وو........ ارمانونه خوبے شمیره وو چې دَ گل سانګې بیبو په زړهٔ قت په قت پراته وو... او کله کله به گل سانګې بیبو دَ دغه ارمانونو تنسته او بوده په خپل تصور کښې رابرابرولی...... گل سا نګه دَ تصوراتو په دغه دنیا کښې هم داسې ورکه وه...... چې یوه ورځ .... یو آواز دَ گل سانګې بیبو دَ تصوراتو دنیا دړے وړے کړه ..... "لونګ سینډ یوړو" دے آواز دَ گل سانګې بیبو دنیا ورانه کړه.....دَ مور دَپاره دا آواز دَ شین آسمان تندر وو..... لونګ سینډ یوړو او

دَ ګل ساڼګے ببو دَ زړهٔ دنیا ورانه ویجاړه شوه...... هم په هغه ورځ ګل ساڼګے ببو دَ اوبو نه دَ انتقام اخستلو فیصله اوکړه. دَ هغه ورځې نه دَ ګل ښاڼګے ببو دَ اوبو سره دښمنی شوه..... دَ هغه ورځې نه پس ګل ساڼګے ببو دَ اوبو کټورے شونډو ته نزدے نکړو..... ورځے تیرے شوے. هفتې تیرے شوے. میاشتې تیرے شوے خو دَ ګل ساڼګے ببو دَ حلق نه دَ اوبو څاڅکے تیر نه شو. ژبه ئے داسے اوچه وه لکه لرګے. حلق ئے داسے اوچ وو لکه دَ سادین لوټه...... خو ګل ساڼګے ببو قصد کړے وو. او دغه قصد آخر ګل ساڼګه ببو دَ زنکدن مقام ته اورسوله. او چه څه وخت ئے سترګے حق ته اونیوے، نو په دغه وخت کښے چا دا کوشش اوکړو چه ګل ښاڼګے ببو ته دَ اوبو یو څو څاڅکی په خله کښے واچوی. خو دَ زنکدن په حالت کښے هم ببو سترګے راپورته کړے او بد بد ئے ورته اوکتل. په سترګو سترګو کښے ئے ورته اووے چه ځما په غیرت پورے خندا مهٔ کوه،.... ځما دَ انتقام په لاره کښے اړیکی مه راپیښ اکوه..... پریږده چه زهٔ هم داسے مړه شم، چه ځما روح ته به آرام اورسی...... او چه یو څو لحظے تیرے یدے نو ببو خپل لوظ پوره کړو. هغې ترمرګه پورے اوبهٔ شونډو ته راؤ نه ړے. هغې دَ اوبو نه دَ خپل نیازبین لونګ بدل واخستو.............. (آسویلے) نو روزنه و دا

ګل ساګه بېو وه .... دا يوه مور وه او دا د خپل ځوئ د پاره ډېره مور د زړهٔ د جذباتو احساساتو ترجمانی کوی ......

اے ميندو ځامنو! ځهٔ پوهٔ شوئ - د مور مقام درته معلوم شو؟ د مور زړهٔ درته معلوم شو. لږ په دے خپلو ګريوانونو کښے خو سرونه ښکته کړئ، چه تاسو د خپلو ميندو کوم سلوک کوئ - اے د ځوانئ په نشه مستو ځلمو مهٔ کوئ - د خپلو ميندو سره ضدونه قصدونه مه کوئ - د خپلو ميندو زړونه مه آزاره وئ - د مور حق په اولاد باندے بے شانه ډير زيات دے .... که ځامن ټول عمر د مور پښے او وينځی، نو د مور د هغه يوے شپے بدل به خلاص نکړی، چه د ژمی په يخو ګونجی لګه شپو کښے ئے د تاسو سره رونړه کړے وی ..... رونړو د مور ډير لوئے مقام دے ..... د مور جولئ ډير اوچت مقام لری ..... په دغه جولئ کښے پيغمبران[ع] لوئے شوی دی - په دغه جولئ کښے اوليا[رح] لوئے شوی دی - په دغه جولئ کښے نيکان لوئے شوی دی .... د مور د جولئ احترام اوکړئ - د مور د پېروني عزت اوکړئ - د مور د هغه بے شميره کړاوونو لحاظ اوساتئ، چه کوم درسره هغے د ماشوم والی نه تر ځلمی توب پورے کړی دی - د مور د هغه جذباتو احترام اوکړئ، کوم چه د هغے په زړهٔ کښے د اولاد د پاره دی - مور په تاسو د زړهٔ

وېښتې ښنولې دي. د مورنه علاوه بل څه مثال هم داسې شته
چې هغه د زړه وېښه په چا اوښنوي....؟ نه. هيڅ کله نه.
نو ځکه خو د مور د پښو د لاندې جنت دے. ځکه خو د مور
په خوشحالئ خدائے پاک خوشحالېږي. ځکه خو د مور په
خفگان عرش په لړزان کېږي. رونړو د خدائے خاطر
وکړئ چې ميانډو سره په ترخه مه چلېږئ. د خدائے خاطر
وکړئ چې د ميانډو سره بغض او کينه مه کوئ. د ښځې
د پاره مور پرېښودل کوم انصاف دے. د اولاد د پاره مور
هېرول کوم شرافت دے. يو شريف انسان مور د څپل سر
تاج گڼړي. يو نيک ځوے مور څپل زړه او څپل ځيگر گڼړي.
مور مور ده. او ښځه ښځه. د ښځې څپل مقام دے او د مور
مقام د ښځې نه زر درجے اوچت دے. اے بدنصيبو! مور
راپورته کړئ. مور خاورے کېدو ته مه پرېږدئ. مور ژړېدو
ته مه پرېږدئ. مور د يو بل په درلو غږېدو ته مه پرېږدئ
دا خو هم هغه مور ده، چې ته ئې نهه مياشتې په لښ کړ ګرځولے
يې. دا خو هم هغه مور ده چې ته ئې د زړه په وينو لوئے
کړے يې. دا خو هم هغه مور ده چې ستا په پېدا کېدو ئې
اُمبارکيانے آخستې دي. دا خو هم هغه مور ده چې تا سره ئې
شپې رونړے کړے دي. تا سره ئې ورځې په شوا خون تېرے کړي

دی۔ ستا هرے ژړا سره د دے زړهٔ غوځ شوے دے، د دے
ژوند ناقلاره شوے دے۔ نو اوس هغه مور؟ هغه د مینې
او محبت جزیره مور د یوے بنځے د نازونو نه قربان شوه۔ د
یوے بنځے د خوشحالئ په خاطر ستا د سترګو ازغے شوه۔ مهٔ
کوئ اے بدنصیبو مهٔ کوئ۔ ګورے مور یوه ډیره مقدسه
هستی ده، مور یوه پاکه هستی ده، د مور په خپل ځوے
د ومره حقونه دی چه څه شمیرے نشته.... مور مهٔ خفه
کوئ ګنی نو خدائے به درنه خفه شی۔ د مور بے عزتی مهٔ کوئ
تاسو به بے عزته شئ۔ د مور سپکاوے مهٔ کوئ ګنی نو تاسو
به سپک شئ۔ خوار به شئ۔ ذلیل به شئ۔ مور د دُعا ځائے
دے۔ دُعاګانے ترے واخلئ۔ مور د مینے او محبت یو غر
دے، مینه او محبت ترے واخلئ۔ د مور په زړهٔ کینے د اولاد
د پاره د مینے او محبت نه سوا بله جذبه هیڅ ورا پیدا کیدے
نهٔ شی، نو اے غافله انسانه، ته د ومره مقدسے هستئ
بی عزتی څرنګ کوے۔ ته د ومره پاکے هستئ سره ضد ونه
قصد ونه څرنګ کوے۔ مهٔ کوئ رونړو مهٔ کوئ۔ هره مور
ګل څانګه ده، هره مور د ګل څانګے په رنګ زړهٔ په سینه
کینے لری۔ هره مور د ګل څانګے ببو په رنګ احساسات په خپل
زړهٔ کینے لری۔ د ځوے بدل د اوبو نه هم آخلی۔ د ځوے انتقام

ډاوبو نه هم آخلي. نو دا بے غیرتي هسنئ سره د اولاد سلوک؟ ..... ډیر د عزت، ډیر د احترام. ډیر د ادب پکار دے. ځکه چه د مور د پښو لاندے جنت دے. نو اے د ژوندو میاندو ځامنو پاسئ دا جنت خپل کړئ. اے بد نصیبو پاسئ مور د خاورو نه راپورته کړئ ..... مور خپلے سینے ته رانژدے کړئ. هغه سینے ته، کومه سینه چه دغه مور ډیره موده پخپلے سینے پورے مښلے ده ..... بیا اوګورئ چه ستاسو زړه ته څو مره سکون او اطمینان دررسیږی. بیا اوګورئ چه ستاسو د دے بے شمیره پریشانو خاتمه څنګه کیږی. د مور خدمت یو عبادت دے. د مور خدمت یو اطمینان دے، یو سکون دے. د مور خوشحالی د ټولو خوشحالو سرتاج ده. راشئ دا آزمیښت خو هم اوکړئ. راشئ د مور د خوشحالئ او خدمت مزه خو هم واخلئ. راشئ دا جنت اوګټئ. ډیره آسانه سودا ده. ګورئ بیا به ارمان کوئ. باقی خپله مو خپله.

صَفائی

(خندا) دوړو خدائے شته چه دَ غنچې ببو په شرمه ځان واوړولو ..... زهٔ هم به زوره وریم ..... هلکه ستا په خټو ځهٔ سنړا پسنه ایښودلے ده ، چه خواه مخواه دَ ښځو په کارونو کښې ګوتے وهے ..... هغه دَ غنچې ببو خبره چه مرچکیه قرآنګو ښے چه دا په هره خبره کښې خبره کول دِ دَ ښځو عادت دے ..... (خندا) ځه چلیږه غنچې ببو خوږم دا یو عادت دَ ښځو کړو ..... او الله دِ خیر کوی ..... چرته صباله دا او نهٔ وائی چه مرچکیه قرآنګو ښے چه پښو ا ښځو ا تهٔ ښځهٔ وے ..... او بیا دو دو سرے شوے ، ځکه چه عادتو نه دِ پټول دَ ښځو دی ..... (خندا) خیر هرځهٔ چه وائی ..... خو مړ دَ خپل عادت نه مجبوره دے ..... غنچه ببو که خفه کیږی . او که خوشحالیږی خوزهٔ به دا سے ښځو له خواه مخواه آینه په لاس کښې ورکوم ، ..... چه دا پوا ړے ښځې پکښې لږے خپلے مُشادے اوګوری ..... اوُ ګوره که چرته په سمه لار روان وی

...... څه ؟ ناممکنه ده ؟... (خندا) چې ناممکنه ده..... نو
زۀ هم تلاربېډ وېښے نۀ یم..... ځما هم په خُله چالاس نۀ دے
اېښودے ......زۀ به خبرے کوم.....که څښتن ببو خفه کېږی نو
یو شل ځل دِ خفه شی....که پواره ببو په غصه کېږی نو یو
شل ځله دِ په غصه شی..... که پښمنه ببو نرېکے وهی نو په ځان
دِ چیک اونکوی۔ (خندا) ځما پرے څه دی ؟..... دا سے چل
وو چې یوه ورځ تکړه عزمه.... ساده گل ماما ستړے ستومانه
دَ پټی نه راغلو..... توله ورځ ئے یوے کړے وه..... دَ لوږے
دَ لاسه ئے عزی نۀ لیدو..... او څنګه به ئے لیدو.... سحر په
توره کوګه دَ کوره وتلے وو..... دَ چایو یوه پیالئ سره ئے
بیګانے سوکړک یو سپیق خوړلے وو..... دَ هغه تور سحر نه
دا دے تکړه عزمه شوه، نو اوږد به نۀ وو ؟ ...... وږے
اوږے وو عزیب..... کډ ناتلو سره ئے دوټی او غوښته....
څښتن ببو او چتنه پاسیده..... په جارګی لوټکے پروت وو هغه
ئے راواخستو.... "هه هه هه ببو کو لوټکی په بیخ پورے ځنې
دی ذو ذورے..... (خندا) څه چلیږه. عزیب چې دَ شملو
دوبړئ کېښے ئے ورغو په کړو.... او تر سپیږ هو سپیږ هو
پورے دک لوټکے ئے دَ دوبړئ نه راواویستو. دَ لوټکی دَ بیخ نه
دَ سرو بخنو شومنو خاخکی څڅیدل..... (خندا) شو سیلے سرے

نهٔ وے..... دا خو دَ لوټکی په بیخ پورے ښځې وے، ځکه چې
په جارګی پروت وو کنه؟..... نو هغه ښځو دَ شوملو رنګ
دَ سپین نه سور بخن کړو.... ساده ګل دَ کټ په دے مینځ کښې
پرلت وهلے وو.... ببو دَ شوملو لوټکے په کټ کښې کیښنودو.....
ماما لږ اوخوزیدو..... غر پرشو چې لوټکے توئ شو.....
ساده ګل په بړندو سترګو ښځې ته اوکتل.... او ښځې....."خوار
خو سم ماشوم یئے صبر دِ نه کیږی..... په هټو هټو لوټکی ته
ګورے او نیسے ئے نه..... دا سے دربانده سترګے تورے
دی"..... (خندا) ساده ګل پېنړے ته لاس کړو..... خو
لاس ئے راکښلو.... ښځې بیا لوټکے راټک کړو، ماما ته ئے
په مخکښې کیښنودو..... سوکړک ئے راواخستو..... اخوا دیخوا
ئے اوکتل خو..... څه وونه نو چې سوکړک ئے پرے ایښودلے وے
....."هن" واخله په لاس کښے ئے او نیسه- تاله اوس میزونه
اوکرسئ نهٔ شو پیدا کولے- یو شکور دے په هغے کښې رم
مرچکی نمرتنه عوږلی دی"..... ساده ګل سوکړک په لاس کښې
اونیوو..... ببو لاړه..... یوه چړنګ مالګه ئے راواخسته
دَ شوملو په لوټکی کښې ئے ورلړه کړه..... او زر زر ئے پکښې
مسواکه ګوته اووهله..... (خندا) په دغه مسواکه ګوته
اوس لږه شېبه مخکښې ببو دَ نسوارو چونړئ هم دَ ژامې

ډلانډے کړے وه، خو..... سنوار څۀ پلیټ څیز خو نه دے ..... (خندا) چه مسواکه کوټه ئے په شو ملو کښےاووهله. نو ساده ګل کاکا شونړے اوړپولے " نو رڅۀ سنتۀ؟"... څپنے بېو زر ډپنډېری نه یوه غټه غوټه پیاز راواخستو او په کټ کښے ئے ورلړه کړو..... هغه هم بل څۀ خبره اونکړه خو کړپ ئے شو چه ډپیاز ډ سرنه ځے یو غټ چک واخستو ..... او په روټئ ئے شروع اوکړه.... خدائے خبر چه څپنے بېو ته زړۀ څۀ اووے. زر کوټے ته لاړه دوه آګئ ئے راواخستے، ارکاره په جارګی ولاړه وه، هغه ئے راکوزه کړه .....یوه کوټه غوړی ئے پکښے واچول .... چق چق چپ دوه آګئ ئے پاتے کړے.... شړپ شو چه دواړه ئے په ارکاره کښے ورلړه کړے..... څۀ ساعت پس چړقارے شروع شو .... آګئ په ځچیدو راغلے. بېو اخوا دیخوا اوکتل (خندا) ماسره غم شو چه اوس به څپنه بېو مسواکه کوټه په ارکاره کښے هم اووهی خو.... ځغت په مزکه یو ډګے پروت وو هغه ئے راواخستو او زر زرئے په آګئ کښے اووهلو.... زړۀ چلیږه اګئ پخه شوه او ارکاره ئے ډساده ګل کاکا په مخکښے کېښنوده..... (خندا) ساده ګل هم په پټو سترګو په خوند خوند یوه نوړئ ډ آګئ نه وریسے ډ

پیاز نه یوچک او ورپسې د شوملو یوکوټ ..... ښځه په مړی
ئې روټئ اوخوړه ..... او بوری بوری په کټ کښې پریوتو
..... ساده ګل کاکا اوده شو، او مابو ساعت په دې ټولے
قصې سوچ اوکړو ...... ښځه څخښه بو لوټکے په مزکه ولے
ایښودو، اوچه په مزکه ئې کیښودو، نو بیائې په دونړئ
کښې د غوپه کولو نه څکېږې وینځلو وے نه؟..... داځکه چې
څخښه بو، څخښه ده کنه ..... (خندا) اے ښځه چه بیائې
د نسوارو په څخښو ګوتو مالګه راواخستنه، د شوملو به
لوټکې کښې ئې واچوله، او زرئې پکښې مسواکه ګوته اووهله
نو..... د خپلې مسواکے ګوتے په ځائے پکښې دے ګنې قاشوغه
نشوه و ههلے خه؟..... خو څخښه بو څخښه ده کنه؟ (خندا
..... ښځه بیائې چه ساده ګل له سوکړک په لاس کښې لګه
د ماشومانو ورکړو..... او په شکور کښې ئې مرچکی نمر
نه غوړول، نو دا مرچکی به ئې چرته په بوزی یا پوزئ
نوړولی وو، او په شکور کښې به ئې ساده ګل ته روټئ
ایښودے وه او بیائې چه ثابته د پیاز غوټه هغه له به
لاس کښې ورکوله نو دغه غوټه به ئې په چاړه وړے وړے
ټکړے کړے وه، بیا به ئې په اوبو وینځلے وو، په کنې دل
یا رکیبئ کښې به ئې ورته دغه د پیاز ټکړے ایښودلے وے

او مالګه به ئے پرے دوړولے وه .... نو څو مره خوند به ئے کړے وو .... خو ..... ښځے ببو داسے او نکړه ، ځکه چه ښځه وه کنه .... (خندا) او ښه دَ مزے نه ډکے راخستل نو اګئ پرے لړل ، ګنی دَ ښځن توب ، پواړ توب او ښځ توب انتها نه ده ؟ .... وَه زوره ورے تماشو عه به ډِرا خستے وه ښه په مزے به ډِ اګئ پړ لړلے وه ، بیا به ډِ ډَارکارے نه اُګئ په تالی کښے اچولے وه ، او ساده ګل ته به ډِ په مخکښے اینبودلے وه ..... څو مره خوند به ئے کړے وو ..... څه ؟ .... تا نه دومره خواری نه کیږی ..... (خندا) وئ ته دَ خوارئ دَ لاسه ډِ زاره تښتی او چوه نو .... خواری به در نه کیږی یا نه ، خو خوئ ډِ ښځن دے ، عادت ډِ پوارړ دے .... او کومه ښځه چه په پوارړ توب عادت شی نو خدائے پاک ډِ ئے زاره او چوئ ..... ټول په شریکه او وایئ چه آمین ! ..... ائ ته خدائے مه ، بخښه ..... (خندا)

لوظ

(خندا) .... نن راله یو څو بنځې په ګیله راغلې وې..
او نو وې به په ګیله نهٔ راتلې .... هغه چا هسې خو نهٔ دی
ویلی چه "رشتیا ویئل د پیر مذهب کنځل دی".... نوزهٔ
خو هم رشتیا وایم کنه.... نو ځما د غه رشتیا وینا په ځنې
ځنې زنانهٔ بده لګی.... بده څهٔ، سم د پیر مذهب کنځل
پرې لګی، نو بیا ګیلې له خو به راله ضرور راځی.... (خندا)
دا تشه ګیله خو خیر دے.... دا بنه ده چه کوسره په لاس
راپسې نه راځی.... هله به مزه وے، چه سحر مازیګر راکره
کوڅړے په لاس د بنځو قطارونه ولاړ وے..... چارم د ولو دا
مینځ سهی کوڅے او چارم دا مشاده..... چارم دا نزیٔ ملا
او چا راله داکپړئ وهلے..... نو واه واه مرچکیه.... خونن
خو به ئے هله درکړے وو.....(خندا).... خو شکر دے چه خبرۀ
لا کوڅړو ته نه ده رسیدلے.... خو دا رم یقین دے چه که
ځما ژبه هم د غسے بے واکه او بے شخونده چوړلی او زنانهٔ

خوېندو میانو وله په دې شان غصه ورځي، نو شاید چه یوه ورځ په دا سې هم راشي.... خو الله دې دِ شرم پرده ساتي..... او خدائے دِ دَ شر پسندو دَ شر نه په امان لري آمین...... (خندا) نو خبره مې کوله چه یوه بیو یوه ابئ او یوه ترور.... درې واړه مالي په کلِه راغلے.... ولے؟ ځکه چه په بنځو پسې خبرے کوم..... خدائے شته چه دَ دوئ په راتلو خو زهٔ دَ ځهٔ ساعت دَ پاره دا سې وارخطا غوندې شوم..... خو آخر مې زړهٔ ټینګ کړو او تپوس مې دَ یوې نه اوکړو چه "بیو خیر شته".... "وئ ته بیو دِ په ښیره مړه شه".... په خدایه خیر. بیو خو جوړه پېره په غصه ده.... هغې بلے نه مې مخ واړولو....." ابئ خیر خو به وي څنګه مولا رخطا کړه؟..... "وئ ته ابئ دِ سر نه زړه نه اوکړه؛ ته دَ ابئ دَ کو خرے نه ځارشے".... په خدایه خیر دا به څهٔ شر واوریدم، دا نن خو جوړ..... زړهٔ مې هغې بلے ته مخ کړو.... ترورے څهٔ چل دے. څنګه دا سې بے وخته راغلے یئ".... "نور به درته هیڅ نه وایم خو مرچکیه بنده، خدائے درته هیڅکله دَ بنه ورځے مخ اومه ښایه. په تا باندې زمکه ډکه شه، چه مونږ عقربانے درنه خلاصے شو".... (خندا)..... بنه! او س پوئے شوم چه بیو کانے ولے دا سې په غصه دي...... دوئ

ګیرچاپېره راته دړے واړه ببوګانے داسے ببرے ناستے وے
لکه سرے ګچیُ..... چه نهرخواته به رم ځ اړولو نو هرے بوے
په سنږګو خوړم..... دَ خبرے کولو شان نه وو..... غلے پلے ناست
وم لکه دَ ختے ګوګوشتو..... آخر م زړهٔ داټینګ کړو او ورته
رم اووے چه ایمان مونصیب شه، په خپلے ګناه خوړم پوے
کړیُ......" وئ ته ځ تورن دَ دنیا نه تیر شه، "نه په خپلے ګناه
لا نهٔ یئ پوے..... دا ستا دومره غټے سترګے دی..... په دے دنیا
کښے صرف دا ښځے دی. چه ته ورپسے دا سپورے ستغ وائے، او
که نه سړی هم شته"..... (خندا) نه نه پوے شوم. ستاسو
دا ګیله ده چه زهٔ په سړو پسے خبرے ولے نه کوم هن؟ دَ هغوی
کمزورئ او عیبونه دنیا ته ولے نه ښکاره کوم هن؟..... خو.....
ګورئ ببوګانو. ایمان مو نصیب شه، دَ بچو دَ غمه مو خدائے
اوساته..... ځما خو دَ ښځو سره څه قصد نه دے. زهٔ خو په
ښځو کښے عیبونه وینم، نو هغه ورته په ګوته کوم. او که په سړو
کښے څهٔ غلطئ وینم هغه هم دنیا ته ښکاره کوم..... دا په ساده ګل
پسے ګنی مالږے خبرے کړے دی. هغه خو یو ځلے هم ماله په
جنګ را نه غلو. خدائے پاک دِ دَ ساده ګل سره ډیر ښهٔ او کړی. الله
پاک دِ ورله ډیرے خوشحالئ ورکړی، ما خو چه کله دَ هغه عیب
را څرګند کړے دے نو په صبا باندے ئے راته دَ ګلے په ځائے شاباسے

راکړے دے ۔ نو دا ساده کل ګنی تاسو ته سرے نه ښکاری چه تاسو
دا ګله کوئ چه نه په سړو پیے هم وخبره نه کوے ؟..... (خندا)
چه ما دا بیان تیر کړو..... نو بیو کانے داسے غلے غونډے شوے.....
بوے پلے نه ئے اوکتل ، چه ګنی یره جنره خو مرچکی د لارے اوکړه....
خو بیا نهم هغه یوے اُبیٔ پکښے سر راپورته کړو او راته ئے اووے
چه هر څه چه وی خو نن به زموږ په مخکښے هم په دے ساعت به
سړو پیے داسے سپینے خبرے کوے چه دا ټول سری لړ
کچه شی ".... (خندا) یه خدایه پاکه دا په څه پسات واوریدم
...."ګورئ"..... "ګورئ مورئ د نه پیژنم ۔ په سړو پیے خبرے
کوے ۔ په دے ساعت به ئے کوے ۔ زموږ په مخکښے به ئے کوے
او خواه مخواه به ئے کوے بس ؟"...... (خندا).... اوُ اوُ بس
بس .... یوئے شوم ، چه نن تاسو ما بے خبره نه پریږدئ......
بنه نو روږو بهابیګانو را میدان ته شئ نن ستاسو نمبر دے
..... خفه کیږئ به نه ...... او خفه کیږئ به ولے .... سړو له
خو خدائے پاک لوئے زړونه ورکړے دی..... داسے چل دے...."چه
داسری چه دی کنه دا ټول خراب دی ۔" بیو بس ؟..... نو نه مره
قرانګو که راته په دے خلاص شے ، سم به زوَر زیر به ئے ثابتوے
چه سری خراب دی..... (خندا) یه د نامے نه ډِخار شم ، دا په څه
پسات واوریدم ..... بنه...... کمزورئ په هراسان کیے شته

عیبونه په هر چا کښې شته..... خامئ په هر بنیادم کښې شته.....
ځنې کمزورئ او ځنې عیبونه داسې دي چه هغه برداشت کیدې شي
چه په هغې باندې انسان دومره بد نه ښکاري چه بل انسان ترې
نه کرکه اوکړي..... او ځنې عیبونه او کمزورئ داسې دي چه هغه
سړے واخلي ډ بل په نظر کښې ئے دومره پریباسي چه بیا ورنه د آسے
سپک ښکاري لکه ډ باد مخکښې بنړه..... تاسو به وایئ چه مرچکیه
ثبوت ؟..... نو رونړو..... یو ثبوت نه، ثبوتونه خو به درله درکوم
اے ځو.....یو لنډ مثال به ئے واخلو..... دا مثال واورئ او بیا پرې
لږ سوچ اوکړئ چه دا عادت ډ ځنې ځنې سړو په لمن ډ سپک والی
څومره ناکاره داغ دے..... اکثر رونړه په بازار کښې.... په سړک
..... په لاروکوڅو کښې روان وي..... ډ بلې مخې نه تانګه راشي چه پکښې
زنانه ناستې وي..... تانګه تیره شي او ډ لارے دغه لاروے پس
تانګې پسے مخ په روستو تر هغې پورے ګوري چه ترڅو ئے تانګه
ډ سترګو نه پناه شوے نه وي. که په سائیکل سور وي نو هم، که
په موټر سائیکل سور وي نو هم، خو دے به ډ زنانه ؤ په تانګې
پسے یو ځل دا خپله مشاده ارو مرو راړ وي..... ډیرو کسانو په دې
عادت کښې ایکسپیر ښتونه هم اوکړل..... لاسونه پښې ئے هم مات
شول..... ولے ډ زنانه ؤ په تانګې پسے ډ کتو نه منع نه شول.....
(خندا) په انصاف دارو..... یۀ تاسو ته خدائے ډ نیکئ هدایت اوکړه

..... دا ځنځ کوئ ...... دا ځنځ په بلا اخته يئ.....دا ځوره
سپک کار دے ..... بس نو فائده ترے نه ځنځ ؟..... اے ځنځ
تاسو په تا نګے پسے اوکتل ..... پردئ تورسرے زنانه مواولیدے
نو فائده ترے ځنځ ؟ لږ شرم خو اوکړئ زوره ورو..... لږه
حيا خو اوکړئ نيک بختانو ..... آخر دا کومه پښتو ده.....
داکوم شرافت دے ...... تاسو ته ځانونه په دے عادت
بد نه ښکاری..... تاسو ته ځانونه په دے علت سپک نه
ښکاری..... پريږدئ مړو .... خدائے راستی چه شرمونه
مو اوشرمول ...... آيا دا سے يو مثال راته ښودلے شئ، چه
زنانو هم چرے د سړو په تانګے پسے داسے په زړه ورتيا
کتلی وی .... زنانو هم چرے داکوشش کړے دے چه
.... ځما په خيال چه زنانه به هيڅکله داسے اونه کړی،
زنانه به هيڅکله د سړو په تانګو پسے مخ وانه ړوی.....
لو بيا؟..... بيا دا چه دا خراب او سپک عادت صرف او
صرف په سړو کښے دے ...... او سړو له پکار دی چه
دا عادت د ځان نه اوباسی...... خپله خور مور هر
څوک لری ..... خپله تور سرے هرڅوک لری ...... او
چه په چا باندے د خپلو تورسرو عزت ګران وی نو
هغه د نورو تورو سرو د عزت خيال ساتی..... راشئ

دَ نن نه تول په شریکه، دَ دے ببوګانو په مخکینے دا لوظ اوکړئ، چه پس له دے نه به داسے سپک کار نه کوو، او که څوک ئے کوی نو هغه به هم منع کوو..... لوظ شو؟... ائ تا سو خدائے او بخښه..... الله دِ درته دَ نیکو هدایت اوکړی...... (خندا)...... ښه ببوګانو وایئ کنه... بس؟ ..... اوس خو مو زړه ښۀ شو کنه ؟...... اېڼ تاسو سره خدائے انصاف اوکړه..... څنګه خو مو اوخندل ؟....... (خندا)..... ٭

باچامیرکاکا

(خندا) ..... یره خو هغه ڎچاخبره چه "هیڅ به نه وایم نو ...... ڎ ویٹلوگنی څه شان شته ؛ څما په خیال خو ڎ ویٹلو هډوخه شان نشته..... ځکه چه ټوله معامله ډټۓ ده ...... په پویڎلو څوک نه پوهیږی...... په ښودلو څوک نهٔ پوهیږی..... سمے لارے ته په راتلو څوک نه پوهیږی ..... نو چه څوک په هیڅ هم نه پوهیږی، نو هغه به ته څرنګ پوئے کړے ..... سنړا ته سرینډه عبرٖه وه کنه..... (خندا) متل دے چه "خدائے بے لارے کړی چا په لارے کړے نه دی"..... دا متل نه غلط دے، او نهٔ بے ځایه دے، ګنی راشئ دادے باچامیرکاکا ناست دے..... ژوندے مثال..... روغ رمټ ڎ دوڎ پښو او دوو لاسونو بنیادم..... ڎ دے باچامیرسره ماخپل سر نخرے کړو..... هره ورځ زهٔ دهٔ ته داسپارے اولولوم، خو هغه ڎچاخبره چه په کانړی جوکه نه لږی.... (خندا) زهٔ خو وایم چه کانړے به هم ڎ باچامیر

نه ښنهٔ وي .... که دومره خواري م دَ کانړي سره کړې ده
نو هغه به هم څهٔ ناڅهٔ خوږېدلې شوې وو..... خو باچامیر
دَ غزنه بکیانړه نه شو..... دے هره ورځ څهٔ ناڅهٔ غلط او
بے لارے کارکوي..... او چه مابنام ماته خپل بیان تیر کړي
..... نو زهٔ ئے پوهٔ کړم، ښهٔ په زوَر زیر ورته هره خبره
اوښایم..... چه داسے مهٔ کوه..... داسے کوه،..... دا کار دِ
ښهٔ نه دے، دَ دے په ځائے به دِ داسے کړي وو، وغیره وغیره
..... او دے به راته لګیا دَ بت ناستے وي، سر به راته ډقوي...
توبے به اوباسي..... چه بیره دے ځل راته غلطي شوے ده...
انشاءالله دِ ورسره وي چه بیا به داسے نهٔ کوم.... خو چه
صباله راشي، نو هغه غلط کارخو ئے بیا نهٔ وي کړے..... دَ
هغې نه ئے هم بل غلط کار کړے وي..... (خندا) نو اوس دَ
داسے اوښ سره څوک څهٔ اوکړي..... (خندا) ولے باچامیر
کاکا خفه شوے ؟..... اوښ م درته اووے ځکه..... په زوروَر
چه تهٔ ماته مرچکے وے نو خیر دے، او چه ما درته اوښ
اووے نو تندے دِ ډیرے ګونجے کړو ؟....." ته دَ ډیرے میښے نه
ماته مرچکے وے ؟..... (خندا) نو ما هم درته دَ ډیرے میښے
نه اوښ اووے کنه،..... څهٔ به رشتیا اوښ خو نهٔ یې..
..... څهٔ ؟ اوښ نامه دِ نه ده خوښه ؟..... څهٔ بیره چه نه دِ ده خوښه

نو بيا به درته نهٔ وايم بس..... (خندا)... بيا نو رو نړو دُ دې
باچامير ير نسيے دے ، دُ ډيرو ورځو راسے ناجوړه دے......
کله به ئے شمکئ بابا له بوتلو ، کله به ئے دُ کوکنړے شهيد له
بوتلو..... کله به ئے يو خوا روان کړے وو ، کله بل خوا.....
ماشوم ورځ په ورځ کمزورے کيدو..... خوشحاله م ورته
اووے چه يهٔ نيک بخته دا ماشوم ډاکټر له بوځه چه علاج
ئے اوکړی ، خو باچامير وے چه" مرچکيه تهٔ دُ بابا ګانو دُ
زوره څهٔ خبر يئے ، که خدائے پاک ئے جوړه وی نو هم دا سے
به ئے جوړ کړی ، په ډانګترانو منګترانو کښے ډ نه يم.....که دُ
ژوند اور لښه ئے وه ، نو زهٔ به ئے درته او ښايم چه څنګه....
(خندا) نو باچامير کاکا به ئے لا ماته ښائی..... خو ماشوم
غريب دے حد له ورغلو چه اوس دُ ژړا په ځائے تشے شونډے
بړ و سے کړی ، ژړے قدرله هم نهٔ شی..... او خبر يئ؟ چه
پرون آشنا څه چل کړے دے ؟..... (خاندی) باچامير ته
چا اووے..... چا څهٔ خوګلئ بيو ورته هغه ورځ اووے چه
"باچا ميره قربان هلک دُ نظره شوے دے. قرانګو که نه ناجوړه
دے او نه نوزخه دے ، دُ دے خلقو سترګے اوخوړ ، په سترګو
کښے ئے ماشوم درنه اوخوړو..... زهٔ به ورله نظرمات کړم
.....او ته بيګاه له لاړشه دُ شپے په پټه دُ اُودو کوردونو نه

دوه دوه سپیاکے راوړه ..... خو چه دَ کورخاوندن دربادے
پوئے نه شی ..... نو دا څوارلس سپیاکے چه دَاوده کورونو
نه راپټے کړے ..... نو هغه راوړه او دَ هلک دَکټ نه کم گیر
چاپیره دا سپیاکے پتوله شپه لوگے کړئ ..... بیا اوگورئ
چه سحر له هلک ایغ بنغ په کټ کښے کښینی اوکه نه .....
گټلئ بهو خبره باچامیر دَ څادر په پیسکی پورے غوټه کړه .
او ما سختن چه مونځونه اوشول ، ..... اوزکارخیل دَ حجرے
نه کورونو ته لاړل ، نو باچامیر ترنگړ غاړے ته راواچوله .
اوگوزمالت ته دَ سپیاکو په غلا پسے روان شو ..... دَ باچامیر
زړهٔ درزید و ..... ځکه چه هرڅوکه غلا دَ سپیاکو وه .....
وے غلا خو وه کنه ..... که څوک رم اووینی نو بیا ؟ ..... که څوک
رم اونیسی نو بیا ..... که سپی راپسے شول نو بیا ؟ ..... (خند
په دے خیالاتو کښے غرق روان وو ..... چه ناګهانه دَ سپو
غپارے شو ..... یوه ډله سپی په باچامیر پسے شو ..... او
دا سے تراټ ئے ورله ورکړو ، چه دے غریب به چرے په خوب
کښے هم نه وو وهلے ..... (خندا) خو باچامیر په منډه کښے دَ
سپو نه هم گړندے اوختو ..... چه دَ سپو نه ئے ځان
خلاص کړو ..... اولړ په ساه صورت شو ، نو دَ سپیاکو په غلا
ئے گوتے پورے کړے ..... ډیوکور دَ دیوال دَسرنه ئے دوه

سپیاکے راکوزے کړے ..... دَبل کور دَ دیوال نه دوه سپیاکے رانړولے ..... دَ دریم ..... څلورم . پنځم ..... شپږم ..... او چه دَ اووم کور دَ دیوال نه ئې سپیاکے راکوزے کړے او په ترنګم کښې ئې اچولے .... نو دَ کور خاوند پرے راویښ شو ..... بهرته ئې رامنډه کړه ...... باچامیرۀ ئې ګیپ اونیولو ..... "او دریږه ستا هغیے دغیسے کړی" . دَ سپیاکو غلۀ ..... دا شئ خلقۀ غل رانیولے دے ..... یو شور شو ، خلق رااوچلیدل .... لوئې غوبل جوړ شو ..... چاوے لاسونه ورله شاته اوتړل ..... چاوے چه پرے ئې بنږ دئ ، صباله به ورله مخ تور کړو ، دَ هغۀ وکو اُمیل به ورته په غاړه کړو ..... په خره به ئې سور کړو او په ټول کلی کښې به ئې اوګرځوو ، چه بیا داسے دَ بے غیرتو کار چرے اونکړی ..... (خندا) په خبرو کښې خبره راغله ..... پخوا پخوا به په کلو کښې چه چا څۀ غلط او بے سر بیتوبه کار اوکړو ..... نو هغۀ له به هم دا سزا ورکولے شوه ..... څو مره ښۀ دستور وو ، څومره ښۀ طریقه وه ..... دَ دے شرمندګئ دَ ویرے به چا دَ یوُ بے لارے یا بے سر بیتوبه کار دَ کولو جرأت نۀ شوکولے ..... خو نکه څنګه چه خلق بدل شول ، نو دغسے ورسره هغه زاړۀ روایات هم بدل شول . که چرے دَ باچامیر کاکا په زړۀ کښې دَ مخ توریدو ، دَ هغۀ وکو اصیل په غاړه په خر

دَ سوَرين و ويره وے ، نو شايد چه دا ئے کار به ئے نه وو کړے
...... خير چه څو مره ځلے څومره خبرے ..... دَ زمکے غوږ ختو
اودَ باچا مير نه ختو.... په دے کښے ناګهانه يو سړی آواز
اوکړو " وئ داخو باچا مير کاکا دے خدا سته راستی "..." څه
باچا مير ؟ نه مره باچا مير به نه وی " ..... " نه خدائے راستی
چه هم هغه دے.... هلکه دا وله باچا ميره ؟ دا د ربانده
دَ چا اوشوه ؛ څه آفت درباندے نازل شوے دے ، چه
اوس دَ سپيا کو غلا دِ شروع کړه "..... " وه باچا ميره په
سنزکو پرونه ته دا وے "...." وه باچا ميره بيخ دِ اوځه دَ دے
سپيږ پريږه نه دے هم نه شرميدے ، چه تا دا کار کولو ؟ "...
..... آخر دَ باچا مير صبر تمام شو او خلقو ته ئے ځواب ورکړلو
چه رونړو بنيادم دَ خدائے شرميدلے نه دے ، خو دَ بنيادما نو
شرميدلے نه دے..... زهٔ شرمنده يم ، ډير کچه او ډير
پښيمانه يم ، خو تاسو څما قصه خو لږه واورئ چه ما دَ
سپيا کو غلا دَ څه دَ پاره کوله ؟ ..... دَ څه دَ پاره دِ کوله خو
خشاک به درکړه نه وو ، نو دَ ملا مير مور به را په مخه کړے
ئے چه څه لا پرشه چرته غلا اوکړه خو ماله خشاک راوړه "....
...." نه قرانګو دا ئے خبره نه ده ، نميسے رم نا جوړه دے نميسے نو
......" باچا مير دَ سرنه تر پښو پورے ټوله قصه خلقو ته تيره

کړه- او چه دهٔ خپله قصه تیره کړه- نو خلقو ورپورے په بړق بړق او خندل- او د سپیاکو ترنګړ ے باچا میر ته په شارا وارولو ، چه څهٔ کورته ے رسُوه چه د دنسی نظر دِ پړے مات کړے ..... (خندا) نو باچا میر په دے شرمندګوسپیاکے کورته راورسولے ..... (خندا) ..... هم په هغه شپه شپه سپیاکے دُ ماشوم دَ کټ نه ګیرچاپیره ترسحره پورے لوګے کړے شوے ..... په لوګو لوګو ئے دَ ماشوم غریب زاره اوچو لے ..... سحر باچا میر دوئ په طمعه وو چه که خیری هلک به اوس په کټ کښے ایغ نیغ کښینی ، ځکه چه ګنګلۓ بیو ورته وبیلی وو کنه ..... خو سحر هلک سترګے حق ته بنولے وے ..... دَ باچا دوئ سره غم شو ، چه جوړ ے بس دَ ماشوم اوربشه خلاصه شوه ..... بیا ئے ذر ذر په تلوار تلوار ښار ته ډاکټر له بوتلو ..... ډاکټر ورته ډیر خفه شو ، خو خیر دارو درمل ئے ورکړل ، او دَ سحر نه چه هلک ته دارو ذَین شوی دی نو باچا میر کاکا دا دے وائی چه دَ هلک نه مړ طمع پیدا شوه ...... (خندا) نو رونړو دا دِے زمونږ باچا میر کاکا او دا دی دَ هغه بے سر لکئ خبرے ..... دَ زیارتو نو نه ځار شم ، دَ شهید انو نه قربان شم- زیارتو نه او شهیدان ډیر دَ احترام ډیر ادب او ډیر عزت جوګه ځایونه دی ...... دَ

زیارتونو احترام په موږه لازم دے..... خو اے څما
ساده ګانو رونړو خدائے پاک دَ ژوند دَ تیرولو دَپاره یوه
لاربښودنے ده ، او که چرے دَ هغې لارے نه موږ بے لارے
کیږو نو دغه به زموږ تباه کیدل وی ، دغه به زموږ خرابیدل
وی..... دَ رنځ بیمارو دَپاره خدائے پاک دارو درمل پیدا کړی
دی ، پکار ده چه موږ دَ مرضونو علاج دَ ډاکټرانو په واسطه
په دارو درملو اوکړو ، او دا تونړے تړتکے پریږدو ګنی نو
لکه دَ باچامیر به مو سرتندے نه لګی..... وے باچامیر
کاکا ګنی دروغ رم اووے ؟..... (خندا) سر مهٔ ړتوه
دړئ سرخوزه وے او چتا ګئ ژبه نه خوزے... (خندا)
څهٔ شکر دے چه ستا په جولئ کښے خدائے خیر واچولو ، ګنی
تا خو دَ خپله نسیے قبر نه شکنته کړے وو..... څنګه بیا به
څما خبره مینے او که نه ؟..... څهٔ ؟ اوُ قرانګو ؟.......
(خاندی)..... ❊

نصیحت

(خندا) .... رانږدې شئ، اوُ ز.... ا.... نږ.... دې شئ... غوږ ونه اونیسئ..... (خندا) تو به مهٔ اوباسئ..... دا سے غوږ وینول نهٔ ویم زوره ورو..... مطلب م دے چه غوږونه راته تکئ کړئ..... امید دے چه وادهٔ کړو ځلمو به نن دَ میانډ وسره څهٔ چل ول کړے وی. او دا وخت به ئے ریډیو ته نږدے نه وی پریښودلی. اوُ کنه! خبره دَ وادهٔ کړو ځلمو دَ مطلب او دَ میانډو دَ پاره بے مطلبه ده...... دا سے چل دے چه هغه نیر ځل ما وادهٔ کړو ځلمو ته دَ مور دَ صلاح اوُ خوشحاله ساتلو په حقله یو څو تد بیرونه او طریقے ښودلے وے. خو دَ بده شامته ځما هغه ټول تد بیرونه میانډو نهم واورېدل. او وادهٔ کړو ځامنو چه څنګه په هغه چلونو عمل شروع کړو نو میانډے ورته رابېرے شوے، چه ولے موږ څهٔ ماشومانے یوُ څه. موږ کنی څه نه یوُ خبر چه دا چلونه درته مرچکی ښودلی دی.... (خندا) او ما مدے غریب

خو لږ څه کښې مور په کو ځړه په دے کيږدئ ويشتلے وو، خو خدائے پاک خير کړو. خو داسے ئے سپک کړو لکه بنږه.... مامدے عزيب بشارت ته تلے وو، گوپيان ئے راوړل او نيغ لاړو مور بي بي له...... " بے بے سبزي منډئ کښے گرځيدم. الوګان م آخستل، خو چه سوچ م اوکړد نو ستا گوپي ډير خوښ وی ، نو دا گوپي م تاله راوړو. ته اوگوره څنګه......" او دلته يو شړپ شو چه گوپي د مامدے په سر دانه دانه لاړو...... " زه زه ورک شه، څما د غم عزيب له خوب نه ورځي . يو سه دا دے هغه بي بي مير منے له ورکړه، چه درله ئے پوخ کړی . تا خدائے دومره مکره چه څما د طبيعت کار اوکړے . دا تول چلونه درته مرچکي ښودلي دی . ماهغه شپه د هغه نو لے خبرے آوريدلے وے، ..... ائي ته د ده نه خدائے مونږ خلاصے کړه ".....(خندا) مامدے عزيب په سپين ميدان حق حيران پاتے شو کله گوپي ته گوري او کله مزکے ته تر . د مزکے غږ ختو او د مامدے نه ،..... غلے غونډے روان شو، په کوڅه ورننوتو..... او صباله آشنا نيغ مالی دا غلو ، چه قصه په دے رنګ خرابه شوه..... نو قصه خو به واقعی چه خرابيده چه د مامدے مور څما بيان آوريدلے وو، نو بيا به د مامدے

په چل وے نه پوهیده..... خبر امید دے چه نن یرحمًا
دا خبرے صرف وادهٔ کړی خلقو آوری، او دوئ به خپلے
میندے د ربړیونه یو خوا ته کړے وی......

مامدے دوره؛ خبره تر وله په ښځو کښے ده.... که
د وادهٔ کړو خلقو ښځے لږ عوندے ناکام اوکړی نو خبره تر وله
سمیدے شی۔ انګیانډو له پکار دی چه دوئ غصه، تریخے
بدخوئی او بدزبانی په ډولئ کښے د کښیناستو په وخت د
مور په کور کښے داسے اوتوکی لکه یو نسواری چه نسوار توکی۔
او د خاوند په کوټه داسے خوږه پسته، نرمه او خوشحاله
راننوځی لکه فرښته...... د خاوند په کور کښے په دواړو
غوږونو کڼه۔ د خاوند په کور کښے داسے چپ لکه ګونګے..
..... په غوږونو به د خاوند بدے ردے او سپکے سپوری هم
ځه اوری، خو ځان به پرے کڼه وی..... خاوند به ورته په
څه کښے سپکونه منړی، خو سونړ به نه کوی..... څه؟
.... وے ناممکنه ده.... (خندا) زړ زوړ و ماخو درته اووے
کنه چه تریخے، غصه، بدخوئی او ژبه وغیره خو به ئے
هسے هم د مور کره پریښودلی وی کنه۔ او چه د کوم بنیادم
تریخے نه وی، طبیعت کښے ئے ګرمی نه وی، بلکه داسے سوړ
طبیعت ئے وی لکه یخه تبۍ، نو د هغے د پاره د خاوند دا بدے

چاره زغمل هيڅ ګران کار نه دے .... داخو دِ شوه يوه. بله
خبره ...... دَ کور کار روزګار ځائے غوښتے او اخلے پخلے خو هسے
هم دَ انګور په ذمه وي . که مري که پاتے کيږي نو دا
خو به کوي . نو دے سره يو کار دِ بل هم کوي .... چه کوټے
ته ننوځي نو ...." بے بے داکټ دِ سوري ته دے يخني به دِ
شوي وي او دريږه چه لږ ځے نمر ته را کاږم" .... او ګرررر
چه کټ نمر ته راکښلے ..... کټ نمر ته شو او انګور لاړه غوجل
ته ..... چه دَ غوجل نه اوزګاره شي نو ....."وئ بے بے دا
نمر ميرات مرے خو ومره تيز دے ، ستا خو به ګرمي شوي
وي ، اودريږه چه داکټ درله لږ سوري ته کړم" ....
ګررر چه کټ سوري ته راکښلے . کټ سوري ته شو ، او
اينګور لاړه کوټے ته اوږه اغږي ..... کړنګ کړونګ اوږه
واغږلے شو ..... چه دَ کوټے نه بهر راوځي ....."وئ بده م
ورکه شه ، بے بے ته خو داسے ګنجي لګه پروته يے ، يخني به دِ
شوي وي ، اودريږه چه کټ دِ نمر ته را کاږم" ....
ګررر چه کټ بيا پتا وي ته راکښلے ..... (خندا) مړه خو
چه په دے تيريږي کټ نمر ته راښکلے ، چه په هغے تيريږي
کټ سوري ته راکښلے ..... بس بے بے خوشحاله ده ، دَ بے بے
په زړه ګيني دا يقين راپيدا شي چه دا اينګور م په ما ميره

زیریږی ـ دے سره څما ډیر فکر دے - او بیا به سرسرتوریږی
او په لپو لپو دعاګانے به د مامدے تېر ته کیږی - بیا
مامدے بنه او هم د مامدے ښځه پاکه فرښته.... (خندا)
او اے اینګیانډ و تورسرو په دے کچه عزمه کښے چه د کار
نه څه لږے عونډے هم اوزګارے شی ..... نو د شرشمو
د تیلو پیالئ را خلئ، نیغ راځئ او بے بے ته د کټ په لنګه
کښینئ ..... "بے بے دیخوا کړه چه سر درله او لمتوم".. او بیا
..... بیائے که په سر کښے سپږه ریچه هیڅ نه وی نو هم
د دروغو یوه نرئ عونډے سکونډئ ورته په سر کښے
لګوئ، او د دواړو نوکونو نه د دروغو ټک اوباسئ .... او
درسره "پوّے" آواز هم کوئ او یو چونګ تېل ورته شړپه
شړپه شړپه په کپره کښے ورواړوئ ..... (خندا) ... دا
بوډئ ګانے بنځے خدائے خبر چه څه چل دے خو د سر
په لیتولو ډیرے خوشحالیږی ...... چه هر وخت ورته
خوک ناخوک په دے کپره کښے لګ د چړګانو لښے وهی نو دوئ
ډیرے په طبع کښے دی ـ ..... دا چل یوه ورځ نه هره
ورځ د خوابښے سره پکار دے - که ډیر نه وی خیر دے
دوه درے سکونډئ ورته پکښے لګوئ ، خو لګول ئے ضروری
دی ..... ذرۀ دره هسے مو د خوابښیانو غریبانانو نه بوډلاګانے

جوړه کړے دی۔ د خوابنیانو مثال خوړ ماشومانو دے،
معمولی معمولی خبره د ومره خوشحالیږی چه بیا به په
جامو کښے نه ځائیږی.... (خندا) خدائے خبر چه څه چل
دے.... خوړ دے بوډئ ګانو بوډکانو زړۀ هواخوړئ ته
ډیر کیږی.... (خندا) او او هره بوډئ دا غواړی چه
په هر وادۀ ښادئ کښے دا موجوده وی.... نو که دا سے د
اُمبارکئ، کوژدنے، وادۀ ښادئ موقعه راشی، نو اینګیانده
له پکار دی چه دا سے موقعو ته خوابنیانے وړاندے کوی....
"بے بے د کلاته بیر نمسے شوے دے۔ نن ئے سرکلے دے زړۀ
ته هم لاړه شه، زړۀ به دِ لږه هوا اوخوری"..... او
بے بے بیا پریږده چه پرونړے په تکړی صفا کوی او په منډه
چال د کلاته کړه روانه وی.... په دا سے وخت کښے د بے بے بیا
نه پښے خوږیږی او نه سر۔ دا سے ایغ نیغ روانه وی،
لکه هرسئ...... او چه څه وخت د امبارکئ نه راشی، نو
بیا ورله د ماسختن لږے پښے چاپی کول هم ښه دی....
(خندا) وے نو ستړی شوی به نه وی غزیبه.... او چه خوابنے
ستړے شوی وی نو اینګیاندے به ورله پښے نه چاپی کوی؟
چه د کور دا دومره بامبیږ سنبالولے شی، چه دا دومره
سرخوږے کولے شی، نو خوابنے له سر لیټول، کټ نمرسوری

دا بالکل او پېښې چاپې کول ګنې دومره ګران کار ونه دی؟...
هیڅ ګران نه دی، خو که انګیانډ لږ غوندې زړونه لوئې
کړی. او چه څوک د خوابنې په کور د حیا او د عزت ژوند تیرول
غواړی نو هغوی له بیکار دی چه زړونه لوئې کړی ګنې خادرې
په ئې په سر او ایرې به ئې په ټوپل وی.... (خندا) کومه
اینګور چه هرې بناوئې له پخپله برقعه په سره وی، هغه
اینګور د خوابنې ډیره بدی شي. خو چه څنګه اینګور
برقعه په سر کړی، ورسره سم د خوابنې په زړه تیاره
راشي...... او چه د خوابنې په زړه تیاره راشي، نو بیا
د اینګور په وینو نه مړیږی. او چه څه وخت اینګور د
بناوئې نه سترې ستومانه راشي، نو خوابنې ورته لکه سره
مچۍ ناسته وی. په کوځه راننوتو سره ورپورې داسې
اونښلی چه د ورځې هغه ټوله خوشحالی ئې د مرګه تیره
کړی،...... (خندا) نو اے اینګیانډو تورسرو، داسې
خوشحالی څوک په تندر ولے نه اُولی. چه سحر دِ سرې
خوشحالی اوکړی او ماښام له دِ ئې تږې نه خوابنې اوباسی
...... په داسې خوشحالو پلا واچوی. هیڅ ضرورت نشته
بالکل چه قدم پورته نکړئ. پرېږدئ چه خوابنیانې
غریبانانې لږ څه زړونو له هوا ورکوی. د خوانانو زړونو

ته هم و دَ هرا خوړو ضرورت نشته. (خندا).....
ځوانانے ښځے اکثر په دے اخترونو کښے په لاسونو ښپو نکریزی
پورې کوی. او پکار ده چه پورے کړی. ځکه چه نکریزی
دَ ځوانانو ښځو دَ ښو لاسونو ښائسُت دے. نو هر کله چه
اینګیاندے دَ اختر په شپه نکریزے پورے کوی نو بے بے
ته دِے هم ست کوی. بے بے به ډیر وائی چه نشم پورے
کولے یخنی ده. زړهٔ مِ نه غواړی. وغیره وغیره. خو دَ
خوانښے په انکار پسے ګورے مننّ څئ. په ځُله خو نانا کوی
او زړهٔ ئے غواړی چه که په لاسونو ښپو نه وی، نو چه
سر له خو کم ازکم دَ نکریزو لیو ورکړی..... (خندا) یَه
خدایه خو نکریزے پورے کول دی، یا په لاسونو ښپواوُیا
په سر..... او صباله چه بے بے دا تک سور بمبل سر ینوے
دی، نو یو بل به ترے نه ضرور تپوس کوی. او دا به
لپے لپے دعاګانے اینګور ته کوی....."خدائۓ متوکئ
سره ډیر ښه اوکړه بچیه، ما خو نه پورے کولے، خو هغے
راله پورے کړے، اﷲ ئے دَ بچو دَ غمه اوساته!"....(خندا)
څه چلیږه بیو خوشحاله شوه..... لوائے واده کړو
دعو نړو دا وو هغه نوی چلونه چه درته مِ اوښودل
..... بس تا سو مِ ټول دَ لوئے مصیبت نه خلاص کړئ.

پاتے شوے اینګیانډے؟.... نو انګیانډے پوئے شه
وخوابنیانے پوئے شه.... ځما کار چل او طریقه بښودل وو
وس عمل کول او نهٔ کول د اینګیانډو کار دے.... ځنګه
منئ رم اوکه نه؟.... چه بیا اونهٔ وایئ.... ماسره
هم کرځئ لو دا مزے به کوئ....... (خندا)

○

کباب

(خندا) .... لاړو یوه مرچکې هم له خیره شاعرشو...
اوُ اوُ شاعرشوم . اوس خوموکه څما بدلے او چاړ بیتے
واورېدے نو غوږ ونه به او نیسئ غوږ ونه...... تاسو ته به
مرچکې هغه دغه څیز ښکارېدو..... خو هغه اُغه دغه مرچکې
لاړو په چل چل کښے شاعرشو..... او شاعری...... مړو
موږ ته هیسے دومره ګران څیز ښکارېدو..... خدائے شته
چه دومره آسان کار دے لکه چه څوک ډکاځرے نه خرپ
او باسي..... څما ډیرے مودے راسے دا هڅ وکې ډشاعرئ
ته خاربنتیدل، خو لونګ آشنا به راته وے چه هلکه مرچکیه
ځان مه ستړموه، شاعری څهٔ آسان کار نه دے، ډشاعرئ
ډیر لوازمات دی، ډیرے پابندئ دی او ځان له اصولئے
دی . قافیه، ردیف، تول وزن دا هر څه به په شعر کښے
راوړے، نو هله به دِ دے شعر، شعر وی او هله به ته شاعر
یئے...... یوه خدائے شته چه ډلونګ خبرے به رم واورېدے

ده خپله اراده بېرم بدله کړه. دا خو دِ چار ډېو شاعر بنهٔ وی
هغه راته هغه ورځ او وے چه مرچکیه دنیا ځ په ترقئ
روانه ده، شاعرئ هم رنګ بدل کړے دے. اوس دَ دے
دومره پابند و ضرورت نشته، قافیه او ردیف ته مڅ تسوَه
... پرواه نشته، دَ شعر یوه مصرعه که دوه ګزه او
دری لیشتے اوږده، او دوېمه مصرعه دَ ګوتے دَ بند هومره
لنډه وی نو هم دغه شعر به شعر وی ..... (خندا) اوڅ
خدائے شته چه مالہ خندا راغله، ځکه چه یوه مبئ مصرعه
دوه ګزه او دوه لیشتے اوږده شی، او دوېمه مصرعۓ
دَ ګوتے دَ بند هومره وړه شی، نو داخو داسے شوه لکه
چه څوک دَ مینے لاندے کښے پریږدی ..... خو آشنا راته
وی چه پرواه نشته، دے ته آزاده شاعری وئیلے شی
..... نو رونړو ما هم شاعری شروع کړے ده.... تاسوئ
هم واورئ. ے

اے رونړوا ے ملګرو
اے دَ حاله بے خبرو!
یو ورځ زهٔ دَ غرمے په وخت کښنے اوږدے ومه پرېر
دَ حد نه پرے ورتیر
او خته یوهو تېل تـه!

کښېنيا ستم نۀ يو تيبل ته
نوکر په منډه راغلو راتۀ ئې او وئې څۀ به خورے
کباب خوښ دے که تيکه
ورته ماوے تيکے پريږده غابښ مې نشته دے په خُله کښې
خو ند نشته دے تيکه کښے
کباب که راله راوړے نو مزه به اوکړی ډېر
دَ حدنه هم ورتيره

کباب ښه سوَزين لی !
ډلو کښے وو تلبيد لی !
په مخکښے مې پراتۀ وو خوشبوئی ترې نه ختله
خُله اوبۀ اوبۀ کيدله

دَ ډالډے يو تش ډبلے وو
او بو نه ډک لکه کوُٹے وو
په ميزئې راته کيښنو لکه زيږه شان پيپه
مرچکيه اوپه ښبنه

کتل مې دے ډبلی ته !
هم کبابو هم تالی ته
خوړلې مې لانۀ وو خو خولے وے په ما ماتې
اے کيډے ښۀ ميراتې

مرچکې په دے کبابو کښې څرګند وو ښکاریدلو
او تالو مې سوزیدلو
که دا کباب مې اوخوړهٔ اوبهٔ بهٔ څنګه څښنمه!
ډو لچه به په خُله بندمه؟
نو پاسیدمه ورغلم ماماله په تلواس!
ډیر زیات وومه په قار

ماما ماته اوکتل
ما ھغهٔ ته اوکتل
ھغهٔ ما ته وے څه چل دے
ما وے چه دا ئے چل دے
ډو لچه باندِ اوبهٔ ھم بنیادمو چیرے څښلی؟
دا چا درته وئیلی؟

ماما دَ غصے سُور شو!
تک سُور لکه تنور شو
نخرے دِ ډیرے زده کړے مرچکیه کور دِ خور شه
ھئ خو دِ په کور شه
هر څهٔ کښې نخرے دَ تا عادت دے کلانکاره!
روټۍ اوخوره په قلاره
ممنی په دے کب ھیو دِ دا کپره ماتوم!
خپل ځان زهٔ قیده وم

راشه اے هلکه تیله ورکړه چه ځي ورک شي
دے دِ په خدائے سپک شي
ټول عالمُ دَ دهٔ دَلاسه ګډ په هیځ سوران دے
داځنګه انسان دے؟"

(خندا) نو دوئړو چه کبابي ماما خیل نوکوته دا آرډرٔ اوکړو نو بیا مرچکي دوه ځیلے کړے اودوه پړدڅے، اوبیا داهغه نزاتې م اوو هلو چه دَ ورسک ادے ته م ځان وااو رسولو، اودلته دَ پښتو په سر کیناستم . په دوزیدلی زړهٔ په سوچونو کښے غرق شوم . سوچ م کولو چه خدایه پاکه نو اوس به څوک سمه خبره هم چاته نشي کولے . یهٔ دوئړو په هوټلونوداولاً اے دَ کبابو دَ کړهو مالکانو دا ستاسو دوکان ته چه کوم کسان راځي نو دا ګورے هم ستاسو ګاهکان دي او هم ستاسو میلمانهٔ . به زورٔ ورو نو میلمنو ته څوک په لوړو لوړو پیپو کښے اوبهٔ بړدي . دا ګلاس یا کټورے دومره قیمتي څیز دے چه تاسو یو څو ګلاسونه واخلئ او اوبهٔ پهٔ ګلاسونو کښے ورکړئ ...... دَ هرکار څهٔ طریقهٔ وی، څهٔ آداب وی، څهٔ اصول وی . وَهٔ کورآبادو نو دے خپلو ګاهکانو ته تاسو دومره سپک ولے ګورئ . راشئ دا خپل عمل موسم کړی . دا خپله طریقه مو بدله کړئ . دَ صفایئ عادت

په ځان کښې راپیدا کړی - پوارتوب پرېږدئ. دا اوس
خدائے روی او منه څه شان دے - چه ډکبابو کنړولے
چه یو ځل ډکلال ډکوره راغلے دے نو حرام شه که په
کلونو کلونو بیا دغه کنړولو ډاوبو څخ لیدلے وی..... هم
هغه پروسکې چکه سټوی ډل دی چه په کنړولی کښې تک
تور لکه ګریس پراته وی..... دغه ډل ډکوموا وبو سره
ویلی کیږی او بیا چکه کیږی...... (خندا) یره خدائے رم ډ
غاړه نه نیسی خو په هرکنړولی کښې به ډیوکال ډل پراته
وی. اوچه تر څو پورے کنړولے مات شوے نه وی تر هغے
پورے ډدغه ډلو بخت دے..... او چه کنړول مات شی
نو ایله ئے قصه تمامه شی...... بهرنو دا کوم الضاف دے
داولے ډدے انسانانو ډزړه نه داکرکه داسے اووته.
داولے انسان داسے ډانسان دشمن شو...... ډکبابو
کنړولی ډمودو مردو ناولی...... ډکبابو کړے ډمودو
مودو زنګ وهلے...... چه پیاز ګران شی او ټیپر ارزان شی
..... بیا نو هغه دے چه ټیپر کوتره کوی او ډپیازو کار ترې
نه اخلی..... نو اے دوښړو دا ګنی دهوکه نه ده..... دا ګنی
فریب نه دے..... دا حرکت ګنی غیر اسلامی نه دے. مه کوئ
رونړو خپله حلاله ګټه مه حراموئ - خوک چه حرام کوی

خندا ئُ شته که د ښځې ورځې ځ زانه اوویني .... اوُ اوُ حرام دی
حرام دی ، او څوک چه حرام کښتي ، حرام خوری . هغه مجرم
دے ، هغه ګناهګار دے ..... منع شئ کئ نو .... اولیکم
یوه بله چار بیته در پیسے ؟...... څه یره نن معاف . بله
چار بیته به بیا اولیکم . یوه دا سے چار بیته چه ستاسو پوره
نقشه به پکښې مرچکی بنده راښکلے وی . او بیا ؟.... بیا به
غصه کیږئ نه ښه ...... (خندا) اوکنه که تاسو غصه شوئ
نو کار به ټول خراب شی ، او چه کار خراب شی نو .....؟ (خندا

حمادِ توبه وی

(خندا) او نو چه کور ته راغلم په شیشه کښے مې اوکتل نو خدائے شته چه په ځان پورے راله خندا راغله. سرِ مې تول کیارئ کیارئ او دوبچے دوبچے وو. دا سے ښکاریده چه لکه مدین ماما راله سر په ټیکری خړیلے وی. یا حجامت راله نائی نه بلکه کور د هډکانو مور راله په چاړه کړے وی..... (خندا) او اؤ تاسو یقین اوکړئ چه د مدین ماما پاکی په ډېره ډېره ستهینونو نه اوډریږی...... څو څو ځله مې مدین ماما ته اووے چه ماما دا پاکی د بس دے لره کړه، زوړ وره د تا نه هم ځلور کاله مشره ده، نو اوس ترے نه څه غواړے .... خو مدین ماما راته په جواب کښے اووائی چه.... کینه مړه دومړه مه قرتیږه، ته ډیر نیازبین راغلے یې. ټولے دنیا له هم په دے پاکی سرونه کلوم غز. هم نه کوی او ته دومره کلانکار یې چه بس هر وخت به قرتے کوے. دا مې د پلار خدائے اوبخښی د هغه نخښه ده"..... (خندا)

یره واقعي چه ځما به نخرې ډېرې زده وې، ځکې دَ ټول
کلي خلق هم دے پاکئ ته سرونه ټیټوي او عزت قدر له نه
کوي. او خلق عزیزانان به څۀ عزت اوکړي. په دے ټول
کلي کښې هم دغه یو نائي دے..... نو او شوه چه ځه دَ مدین
ماما خوښه وې، هغه به راسره کوي او مونږ به دَ ځان
نه قربونج هم نۀ اوباسُو...... او که څوک ډېر قهرت پېرت
کوي نو بیا مدین ماما له هم چل ورځي،..... دَ کیارو او
دو بچو به ځائے په سر کښې سے کندے او ارابونه جوړ کړي
...... (خندا) خیر زۀ خوخپل ځائ چه څۀ وخت مدین ماما
ته سر ټیټ کړم. او مدین ماما دَ پښو په سرمانه کښېني، او
هغه دَ حجامت خیرن خیچن دَ خیرو لیسے څادر راله دَ
غاړے نه راچاپېره کړي، نو زۀ بیا په پوزه ساه نۀ اخلم
ترڅو پورے چه ماما حجامت کوي نو زۀ ساه په خُله راکاږم
ځکه چه دَ دغه څادر نه داسے سوړ سوړ بوږم خیږی لکه دَ
ماشوم اورنږے..... (خندا) او دَ حجامت دَ څادر نه دَ اورنړی
بوئ راځي. کیدے شي. چه دَ ورځے ماما په دے څادر کښې
حجامتونه کوي او دَ شپے پکښې بیو خپل ماشوم نغسے تړي.
...... نو څۀ بده خبره خو نه ده، دَ یو څادر نه دوه کاره
ځکنی هر څوک اخستے شي. او ولے په دے څادر خو څوک

خُو مخ لاس نهٔ اوچوی چه کنی پاک صاف او سپین دی
خو هم دغه دُ خلقو کپړے پکښے خړیږلے شی او هم دغه دُ
خلقو دُ کپړو وینښتهٔ پکښے راپریوځی۔ او دُ سر وینښتهٔ نهٔ
زبرګان دی او نهٔ معتبر، چه نیان ماماګان دِ وړلو خواه مخواه
پاک صاف او سپین څادر جوړکړی۔ چلیبږی یره، سپین
څادر ته هم خلق سروته پښتوی او خیرن څادرته هم، نو بیا
په ماما څهٔ چټي ده، چه دومره غمونه اؤ دومره
فکرونه دِ کوی ...... (خندا)...... ځما په دے زړهٔ
کښے ډیر ارمان لوئے ارمان وو چه یره یوه ورځ خو دے
قصه خوانئ بازارته لاړے او دُ شیشو په دوکان کښے
دُم حجامت اوکړے۔ چه هلته راله نیٔ ماما تک سپین څادر
دُ دے مرئی نه راچاپیره کړی او زهٔ ورته ښهٔ دُ مزے
په آرام کرسئ کښے ډډه اولګوم...... چه پاکی نے په سر
کښے کیارئ او دوبچے نهٔ جوړوی..... چه مشین ئے هر
څلورم وینښتهٔ دُ بیخ نه نهٔ راوباسی..... (خندا) اؤ اؤ
ځما دا سر چه تاسو ته تاکی تاکی ګنجے بنکاری نو دا ګورے
ګنجے نه دے۔ دا خو دُ مدین ماما مشین ترے نه اکثر څلورم
وینښتهٔ دُ بیخه راویستے دے..... دُ هغه مشین دا سے کوی،
بیکاره او بے مطلبه وینښتهٔ دُ سرنه دُ بیخه راؤباسی......

وے نو په دے پښتو کښې دا خلق دَ رشتے او شوتلو نه ګنډلے
دَ بیخه نهٔ اوباسی څه ؟.... (خندا) دا سے دَ مدین ماما
مشین هم بے کاره وینسته دَ بیخه راوٴباسی ـ او دا زمونږ
دَ کلی خلق چه ټول ګنجیان ښکاری، نو دا ګورے ګنجیان نهٔ
دی ـ دا دَ مدین ماما مشین ګنجیان کړی دی......
(خندا) خیر نو خبره مې دا کوله چه لاړم دَ قصه خوانئ
بازار ته..... دَ شیشو دوکان ته ورادختم......یوه اوچته
کرسئ بانده اوچت لکه بوډے کښینا ستم ـ تک سپین
څادر راله ماما دَ مرئ نه راچاپیره کړو.....په کرمو
اوبو ئے راله دَ سر ویښته پاسته کړه......پاکی ئے
راواخسته اوٴ په سرئے شروع اوکړه..... چه یوه پړه
ئے پکښې اووهله...... نو بهر څهٔ ګنړه ګونړه شوه.....
ناڅه ماما زهٔ هم دا سے په کرسئ کښې تړلے پریښودم اوٴ
بهر ته ئے شت وهلے.... نه دو.... نه دو..... نه دو.....
په لنډ منټ پس راغلو.....''وے ماما څهٔ وو''......؟
''هسے هلکانو بهر جنګ کولو''....''نو تا ئے تماشه کوله؟''
......''نه! ما وے چه څهٔ چل دے؟''.... (خندا)....خیر
ماما بیا دَ سر په خریلو شروع اوکړه.... چه یو دوه پړے
ئے نیولے کړے، په دے کښې دَ بده شامته یو سړے راغلو.

...." آشنا اخبارِ کتلے دے"..... نیٔ ماما سمدستي مخ
ورواړولو..." وے په اخبار کښے څۀ دی"؟ ..... څۀ چلیږه
زۀ بیا په ځائے پاتے شوم. نیٔ ماما دَ دغه سړی سره په
بحث اخته شو، لاړه خبره سیاسیاتو ته اووته.... په پارټو
بحثونه شروع شول ..... ووټونه پکښے اوشول، جنګ جګړے
اوشوے. چا ته پکښے ښه او چا ته پکښے بد اووئیلے شول......
او زۀ لکه بوړے په کرسئ ناست ووم. نیم سر خرئیلے او
نیم پاتے. چه په شیشه کښے به مے کتل نو په ځان
پورے به راله خندا راتله. (خندا) ډیره عجیبه غونډې
څیز ښکاریدم...... آخر خدائے پاک اوکړه چه بحث ختم
شو، او نائي ماما بیا خپله پاکی څماکیږئ ته اووئیوله......او
دے ځل دَ خدائے پاک فضل وو چه نه څوک راغلل او نه
بهر څه شور شغرب اوشو...... چه سر او خرئیلے شو، نو دَ
بده قسمته مے ورته اووے چه ماما په دے چنغړک مے
ویښته لوئے شوی دی، نو دا غړی راله هم لږ واخله.
نو اوشوه ماما به په اوبو کښے ګوتے لوند ولے او چنغړک
له به مے زوروونه ورکول..... څو څو ځله نے راله مرئ
خفه کړه، خو خدائے به خیر کړو. او چه څۀ وخت راله
دۀ مرئ چاپې کوله نو خبرے ئے هم راسره کولے...." آشنا

جوړ ډیرے مودے پس حجامت نه اوزګار شوے یۓ؟"....
"اً اً اً اً وُ"...." اوزګار به نه وے نو"..... مونږ ز... میندارانِ
خلق .... چرته اوزګاریږو"...... (خندا) مړو خو سپے دُ
پیښې نۓ راباندے اوکړے۔ او چه څه وخت ماما لاس
رابنګلو، پاکی نۓ راواخسته نو څما ایله په سترګو رنړا
شوه...... ماما په غړو شروع اوکړه..... چه پاکی نۓ راته
په دے چنغړک کیښوده نو......" آشنا ته کوے پارتئ
سره یئ؟"...... یه خدایه پاکه جواب څرنګ ورکړم. که
اوس خُکه خوزوم نو پاکی ړم چنغړک دوه ځایه کوی. نه
اؤ کولے شم نه نا...... ماما به راله چنغړک صفاکولو او
خبرے به نۓ راسره کولے..... خو دُیوے خبرے جواب ړم
هم ورنکړو، ځکه چه دُ ماما پاکی ډیره تیره وه، که
لږ حرکت ړم کولو نو دُحلق نه ړم تیریده...... اوُدا
سوالونه ړم کول چه خدایه تو ځے رامه وے. خدا یه پاکه
انتروشے رامهٔ وے......ګنی ژوندے مرچکے به څټ
پریکړے کورته یوړلے شی..... (خندا) خوخدائۓ پاک
خیر کړو...... دُ مرګ چپے راباندے تیرے شوے.....او
دُ هغه راسے ړم توبه اوویسته چه دُ ښار دُ شیشودوکان
کښے حجامت کول دُ مرګ دُ چړے دُ لاندے سملاستل دی

...... (خندا) نو دونږو دَ ښار دَ شیشو دَ دوکان نائی
مامام هم خوښ نهٔ شو. باس.... هیڅ ضرورت
نشته چه دَ شیشو دَ دوکان او دَ سپین څادر دَ پاره
دِے په ځان دَ مرګ چپے تیره وم ...... خو دَ کلی دَ
مدین ماما به منت زاری اوکړم چه دَ حجامت څادر
په دوه میاشتے پس یو ځل وینځی - او دا پاکیانے اوَ
مشین دِے په نورو بدل کړی. چه موښ دَ شیشو
دوکانونو ته نهٔ پسخیږو.....

نهٔ پوهیږم چه دا دَ دِے نایانو څهٔ عادت دے چه
خبرے به ډیرے کوی - ځلکه کورآبادو چه سړے
راګیر کړیٔ نو بیا مو دِے خُلو ته لږ. کوَرے واچوئ
...... او دا په ترت پرت خبرے پسے بهرته منږے
مهٔ وهئ .... دا په سیاسیاتو بحثونه پریږدیٔ.....
دَ کار په وخت کار کوئ ، او دَ خبرو په وخت خبرے
.... هم دا ځه به مویوه ورځ چیا ته په مرئ چاړهٔ
چاړهٔ ایښودلی وی. تا سو به ورسره خبرے کوی ،
هغه به دَ خبرے جواب درکړی .... او خرپ چه
پاکی به ئے دَ حلق نه تیره شوے وی .... او لکه حلال
کړے چرګ به درته بوړی بوړی په کرسئ کښے

پروت وی۔ نو بیا؟...... (خندا)...... بیا به مر هیڅ بے هیڅه دَ حوالات دَ دروازے په سیخونو کښے ملاقاتیانو ته دا حېل بوتاړونه راویستلی وی.......

(خندا).... ٭

خیرات

(خندا)…. هغه خلق مثل کوی چه انګی انګی مل دِ څوک… ! دَ ټولو دَ روستو، نو زهٔ هم په شتو خو یُم، خو دَ ټولو روستو یُم. او خدائے شته چه زهٔ هم خوشحاله یُم ځکه چه څومره دَ ټولو نه روستو یُے نو هومره به دِ غوبډونه په آرام وی. څومره چه په هر ځائے او هره موقع کښے مخکښے کیږے هومره به کړیږے….. یوه ورځ دوه کسان په جنګ وو. ټوله دنیائے تماشے ته ولاړه ده. هیچا هم غبر نه کولو. او زهٔ برناحق ورو ړاندِ شوم. دَ دواړو دَ خلاصی کوشش مِ شروع کړو. کله یوٗ، یوٗ خوا ته راکاږه. کله بل، بل خوا ته راکاږه. په دے کښے به غپ شو چه دَ ولو په دے مینځ کښے به یوٗ په سوٗک او وهلم. چه دهٔ ته به مِ ځت راواړولو نو درب شو چه هغه بل به په دے ځت کښے او وهلم….. (خندا) مړ وخو سر به موخړ خوږ دوم، خو چه خلاصے مِ کولو کولو

نو مخ سر را باندے یوُ پړسیدلی وو او جامے ئے بیل تار تار شوُے وے ..... وے نو خلاصے ئے نهٔ کولو. چه خلاصے ئے کولو نو دا حال خو به ئے کیدو نو...... نورو خلقو ښهٔ دَ مزے دَ جنګ تماشه اوکړه، روغ رمتې کورونو ته روان شول. او ما چه خلاصے اوکړو نو ټوټې ټوټې کور ته لاړم ..... نو هسے ئے داویل چه لکه چه لکه دَ نورو خلقو زړهٔ هم په آرام ولاړ وے او دَ جنګ تماشه ئے کولے نو نهٔ به ئے مخ سر پړسیدلے او نهٔ به ئے جامے تار تار کیدے. په خپل ځان خورانهٔ خدائے ښتهٔ چه ځان ډیر بدی ښکاری چه دوه کسان دِ په جنګ وی او زهٔ دِ ئے تماشه کوم. هلکه زوره وره هر یو کار خو دَ تماشو نه وی کنه. او س خدائے روئ اومنهٔ دَ دوؤ کسانو جنګ هم ګنی دَ تماشو کار دے چه دا خلق ورته ولاړ وی او خلاصے نه کوی ..... نه! دَ انسانیت او شرافت تقاضا داده چه دوه تنه په جنګ شی نو نور کسان دِ دَ هغوئ خلاصے اوکړی او یوازے مرچکے دِ دَ سنړګانو جنګ ته نهٔ ورځګینې کوی ..... خیر نو خبره ئے دا کوله چه مرچکے دَ خلقو په یاد کیږی اکثر نه وی خو خدائے خبر چه څه چل وو چه هغه ورځ سیقو ماما خیرات کړے وو، نو ماته ئے نصم په کلکه وینا کړے وه

چه خواه مخواه
به راځي ... داسے چل دو چه سیفور ماما نوے
کور جوړ کړو،
نو د هلکانو مور ورته اووے چه دے نوی
کورته به کډ
ه هله اوړو چه یو خیرات اوکړو. چه خدائے
پاک ئے زابانډ
ے بختور کړی. او بل د نظرنه به موهم خدائے
پاک په امان
ړی. د خلقو سترګے ځان ته شه داسے ئے
راته دا سترګے
بیوے دی که خیرات مو اونکړو نو تق به
مو اوچوئ ...
(خندا) او نو نظر خو حق دے ......او بیا د
کمزورو عقیـ
ـو په خاوندانو خو نظر داسے لګی چه تپوس
ئے مه کوه ...
.. سیفور ماما چه دا خبره واوریده، نو یو
ساعت خو غـ
ـلے غونډے شو ...... او بیا ئے سر راپورته کړو
.... "بنځے سلـ
په لالی پورے دا یوه پیرے د بنګړو" .... دادومره
دولت چه په
کور اوګیدو نو دا خیرات هم پکښے سهی .....
سیفور ماما
ـرض دار اوکړو، او د خیرات د پاره وریژے
غوړی راغلل
..... په ټول کلی کښے ویبا اوشوه ..... په لرو
لرو علاقو کـ
ـے خانانو مالدارانو وغیره ته ویبا اوشوه چه
د جمعے په ور
ځ خیرات دے راشئ ..... (خندا) او د جمعے
په ورځ خو
ـے په ټانګو څوک په موټرو نو او څوک په
رکشو کښے
خیرات د خوړو د پاره راغلل .... او اوس تا
یقین اوکړه
، چه د موټرو نو او ټانګو خاوندانو ئے د خیرات

دُپاره راغوښتلی وو ...... ولې دا خیرات یوازې پهٔ غریبانانو کیږی څهٔ ؟..... نه ...... خیرات پهٔ غریبانانو نهٔ کیږی ..... غریبانان خو ..... الګئ الګئ مل دِخوک ! دُ ټولو دُ روستو ..... غریبانان خو دُ ټولو دُ روستو وو ـ اوکه دښتیارا باندې وایئ نو سیفور ماما خو دُ خیرات دُ پاره غریبانانو ته هم و ویناوه نهٔ وه کړې ـ هم دغه دُ موټرونو او دُ ټانګو خاوندان به راتلل ـ کښیناستل ، ډکیدل او بیا به پاسیدل ..... سیفور ماما مالدارو او خانانو ته لاس په نامه ولاړ وو ..." او صوبه دارصیب په خیر خیر ښه دِ اوکړل چه راغلې ؟..... " او خان په خیر په خیر ..... یره والله کمال دِ اوکړو چه راغلې ؟..... وَه شیرینه ! اوشره هلکه دا پقیران ، دا دوئ څه غوبل جوړ کړې دې ؟..... (خندا) ..... او شیرینې به چوکه په لاس په فقیرانو راشیره شو ، یو ترات به ئې فقیرانو له ورکړو او ورسره به ئې ورته یو خو پوچ کنځل هم اوکړل ...... زهٔ یو خواته ولاړ وم دا ټوله ننداره مې کتله ..... دُ سیفور ماما دې خیرات ته حیران وم ـ دُ سیفور ماما هغه جوئی جان او خوشامندې مې کتې کومې چه هغه دُ خانانو او مالدارانو کولې ـ او دُ هغهٔ دُ تندی هغه ګونجې مې هم کتې کومې به ئې چه دُ چا

غریب یا فقیر په کتو په تندی کښې را پیدا شوے۔ حق حیران دم ..... رونړو تاسو یقین اوکړئ چه په ټول خیرات کښې مایوُ فقیر یا غریب په ټالی ناست او نهٔ لیدو۔ البته چه دَ خلقو نه به کومے وریژے او ملبه پاتے شوه هغه به ئے موټے موټے غریبانانو ته په جولو کښې واچوله او په چوکه به ئے ورله یو درب ورکړو .....“ څهٔ ورک شه چه بیا رانښے۔ یو خو دے فقیرانو پوزے له راوستو سرېیا..... (خندا) واقعی چه سیفور ماما فقیرانو او غریبانو پوزے له راوستے وو..... دَ هغه ټول پوزیشن ئے خراب کړے وو۔ په دے کښې دَ سیفور ماما ماته پام شو .....“ هلکه مرچکیه وے؟ روټئ دِ اوخوړه؟ څهٔ کینه روټئ اوخوره هسے نه چه بیاراپسے په کور مالت کښې د ماسے غږوے تهٔ خو هم دا یسے یئے“ اُورونړو تاسو نهٔ څهٔ پوهه زهٔ هم لاړم، ما هم دَ ناسے دُ خیرات په دغه وریژو څان ډیره کړو او راغلم په کټ پریوتم .... (خندا) نه نه ډیره رم نه وه خوړلے۔ خوراک خو سړے دومره کوی چه څومره ئے زړهٔ ته کیږی۔ زهٔ په کټ کښې پریوتم۔ او دَ فکرونو او سوچونو په سمندر لاهو شوم۔ او سوچ رم کولو چه آیا دا ګنی سیفور ماما خیرات کړے دو..... دا خیرات روګنی؟ ..... دا خیرات دے نه ویټلے شی؟ ..... نه خدائے شته چه

زۀ خو ورته هیڅکله خیرات او نه وایم ..... دَ خیرات په حقله خو په کتابونو کښې لیکلي دي، چه خیرات به غریبانانو مسکینانو له دومره پټ او دومره پرده کښې ورکوے چه په بنی لاس ئے ورکړے چه گس لاس درته خبر نه شي..... په اسلام کښې داسے خیرات هډو شته نه چه دیګونه دِ پکښې اوکړنګیږي. چه غوا میښې دِ پکښې حلالے شي. چه ماړۀ پټ ماموره دِ پکښې رااوغوښتے شي. چه ټوله دنیا دِ پرے خبر کړے شي. چه فلانی خیرات اوکړو..... نه..... په اسلام کښې دے ته خیرات نشي ویلے. دا صرف نمائش دے. صرف نام ونمود دے. صرف دَ څان بښودل دي. او په اسلام کښې نمائش منع دے په اسلام کښې دَ داسے خیرات دَ پاره هډو ګنجائش نشته. داسے خیرات الله پاک هیڅکله نه قبلوي..... خیرات صرف په غریبانانو کیږي. دَ سیفور ماما په رنګ خیرات نه چه موړ پټ او مالداره خلق راغلل. وریژے ئے اوخوړے او غریبانانو ته مشیرے چوکه په لاس ولاړ وو، دروازے ته ئے هم نه پرېښودل ..... په رونړو دَ خدائے خاطر اوکړئ. راشئ دا نمائشي خیراتونه پریږدئ. دا دَ وریژو او دَ پلاوونو خیراتونه پریږدئ. دا خیراتونه دَ قبلیدو نه دي...... دا ګورے هسے نمائش دے او الله پاک دَ نمائش په کارونو هیڅکله نه خوشحالیږي... بلکه

خفه کیږي پرے ...... نو یُه زړه ورو یو خوا ته خو په ورېړو
غوړو په سوونو روپئ سیند ته لاهو کړئ، او بل خوا ته
الله پاک ته منظوره هم نشي، بلکه هغه پرے ناراضه شي - نو
د دابے خیرات نه څهٔ فائده ؟..... راځئ چه خیراتونه کوو
راځئ چه د الله تعالیٰ په نامه ورکړه کوو - راځئ چه د
خپل خدائے ج د وینا مطابق د هغه په نوم ورکړه اوکړو - خو
په دابے طریقه چه یو لاس بل لاس ترے خبر نه شي - په دابے
طریقه چه صرف ورکوونکے او آخستونکے او یو الله تعالیٰ ترې نه
خبر وي ..... چه زمونږ په خیراتونو کښے نمائش رانشي - چه
ریا کاري پکښے را نه شي - چه دنیاداري پکښے را نه شي - او د دے
ټولو نه ښه طریقه داده چه د خیرات مال د نغدو په شکل کښے
پټ په پټه حقدارو له ورکړو - چه د حاجتمندو حاجت
روا شي او الله تعالیٰ راځنې خوشحاله شي - په اسلام کښے د خیراتي
دیګونو پخولو هیڅ ګنجائش نشته - ځکه چه د دے نه نمائش
جوړیږي - او الله تعالیٰ نمائش هیڅکله نه خوښوي - +

آسمان سره خبرې

باس ...رونړو، چپ خاموش، مرچڪے راغلو..... (خندا)
اؤ اؤ چه مرچڪے راشي نو بيا هرچاله پکار دي چه ساه راکاږي
..... او د خُلے په ځائے په پوزه ساه آخلي. چه نه خرش
خيږي او نه پرش..... يو خو خدائے نه خارښم، زمونږ دخلقو
دا سے کنده عادت دے چه همېشه به ساه په خُله راکاږو،
حالانکه خُله د ساه آخستو د پاره نه ده، بلکه خُله د خوراک
د څښاک او د خبرو د پاره ده..... او د ساه آخستو د پاره
خدائے پاک پوزه جوړه کړے ده. او په پوزه ساه آخستو
کښې د قدرت دا راز دے..... چه په هوا کښې چه کوم گردونه
دوړے او ذرے وي نو هغه چه څه وخت د هوا سره په پوزه
کښې ننوزي نو په پوزه کښې چه کوم ويښتهٔ وي په هغو پورے
دا گردونه او خاورے او نبلي او پاکه صفا هوا دننه تالو
او لړمون ته لاړه شي..... (خندا) او چه څوک د پوزے په
ځائے تله د گوگوشتو په خُله ساه آخلي،..... نو دا گردونه او

خاوړے نیغ تالو او لړمون ته لاړے شی او هلته غوبل جوړ کړی ـ کله ئے مرئ خرابه، کله زکام او کله تبه ـ نو ځکه زهٔ درته وایم چه اے رونړو ساه همیشه په پوزه اخلئ او خُله صرف خوراک څښاک او خبرو ته پریښ دئ ...... کهٔ دے خلقو په خُله دَ ساه آخستو عادت هیر نکړو ـ نو کیدے شی چه په څهٔ موده پس ټول خلق ګُنګړیان شی، ځکه چه پوزه استعمالیږی نه نو آخر به تپیږی او چه پوزے تپے شی نو ټول خلق به ګونګړیان شی ـ نو ځکه درته وئیم چه ساه دَ خُلے په ځائے پوزه آخلئ ـ او مانه غوږ کیږدئ ..... (خندا) یره دا ښے معلومیږی چه دَ قصابانو ماماګانو ارادے بیا ښے نه دی ـ او زړونه ئے دا غواړی چه دَ غوښه نرخ که هیڅ نه وی هیڅ نه دی نو چه دَ سیر په سر خو یو څلور آنیز نور هم زیات کړی ـ ولے؟ ..... ځکه چه دَ قربانئ مخه ده، هر څوک دَ قربانئ دَپاره څاروے آخلی ..... نو څاروی لږ ګران شوی دی ـ او چه څاروی ګران شوی نو دَ غوښے نرخ هم پکار ده چه اردو مرو سیوا شی ـ یره زهٔ خو پکښے څه نه شم وئیلے ځکه چه "خدایه بد م کړے خو بدنام م مکړے" نو زهٔ خو هسے هم بد نام یم ـ که او س څه وایم نو بیا به قصابان ماماګان

وائی چه مرچکې هغسې او مرچکې دغسې ـ نو د هغسې او دغسې نه دا ښه ده چه په دې خپله خُله لږ برغولې کېږم او هیڅ نهٔ وایم ـ خو بیا به هم دومره اووېم چه الله پاک دې خیر کوی دا سې معلومیږی چه د قصابانو ماماګانو نیتونه خراب دی ـ او نن صبا؟ نن صبا خو چه د کوم قصاب دوکان ته نژدې کېږې نو ډیوې نه دویمه خبره ورسره نشئ کولې ..... څه څه مړه ـ منښ هغۀ ته لاړ شه چه لږ په پته شې پوښتنه شې، د قربانۍ محمد ده، ځاروی آسمان سره خبرې کوی ....." (خندا) یره ..... زموږ نه خو ځاروی هم ښهٔ شول چه د آسمان سره خو خبرې کوی ـ موږ بنیادمان یُو او تراوسه مو د آسمان سره خبرې او نه کړې شوې ـ او ځاروی هرکال د قربانۍ نه څو ورځې آګاهو د آسمان سره خبرې کوی ـ البته د قربانۍ په ورځو شپو کښې قصابان ماماګان هم د آسمان سره خبرې کول شروع کړی ..... (خندا) وې نو چه د هغوئ ځاروی د آسمان سره خبرې کوی نو قصابان ماماګان خو به ارو مرو د هغوئ سره سیالی کوی نو ..... (خندا) د آسمان سره خبرې څهٔ بده خبره نه ده ـ خو مصیبت دا دې چه قصابان ماماګان د آسمان سره خبرې شروع کړی، نو بده ورځ پکښې زموږ د خلقو جوړه شی ـ

دوئ آسمان ته خیژی ، او موږ ډ بدے ورځے په مزکه
ښوځو..... ښه ، م یاد شی چه تیرکال ډ قربانئ په اختر کښے
هم دے قصابانو ماماګانو داسے غوښې جوړے کړے دو اوه
چا ته به ئے دے چه......" منږ هیڅ نه لا ړ شه چه په پته
ئے پوئے شے ، ښاروی سم آسمان سره خبرے کوی".... او
تش قوش چه چاړو به ئے په هغه میرات مړی کټ مال
راښکلو..... (خندا) نو په چا خو چیچی وه چه منږ هیڅ ته
تلل - او نه خوک دومره اوزګار دی چه ډ منږ هیڅ ډ دلالانو
په غوښه کښے ځان راګیره وی - خو هرچا ډ قصاب ماما
په ویناا عتبار اوکړو - او پروسه کال هم په دے هلکه کښے
قصابانو ماماګانو غوښه ډ روپئ نه په پاو بانده او ډ
پاو بانده نه په یوه نیمه روپئ سیر لګولے وه...... او
لاړو ډ قربانئ ډ اختر دا دے کال پوره شو، خو نه ښاروی
بیا زمکے ته راکوز شول او نه ډ غوښے نرخ بیا خپل اصلی
ځائے ته راغلو..... او سږکال بیا چه ښاروی آسمان ته ختلی
دی نو خدائے دِ خیر کوی چه موږ ته به څه خیفت
راپیښیږی - چه دے ځل به ډ غوښے نرخ په سیر پیسے څو
آنے زیاتوی -.... حقیقت دا دے چه دا هسے یوه بهانه ده....
که بهانه نه وے نو هلکه چه اختر تیر شی ، نو بیا خو به ښاروی

خواه مخواه دَ آسمان نه زمکے ته راکوزیږی - نو هلکو چه خاروی راکوز شی نو پکار ده چه دَ غوښے قیمت کم شی ..... خو..... خاروی خو راکوز شی او قصابان ماماګان هم هغسے دَ آسمان سره خبرے کوی ..... (خندا) دا سے آورو چه دا آسمانو نه په شمیر کیښے اووه دی ...... نو قصابان ماماګان لا فی الحال دریم آسمان ته رسیدلی دی ..... لا ورته ډیره لاره پاتے ده ، اووم آسمان ته چه رسیږی رسیږی نو که خیری زمونږ به ئے ژبئ کړے وی ...... خیر هرڅهٔ چه کیږی کیږی که به شی . مونږ هم بے دَ غوښے خدائے شته که ګذاره کوے شو ..... هسے کله کله چه دَ ځان سره سوچ کوم نو دَ انسان دے فطرت ته حق حیران شم ، چه دا څنګه نیم انسان دَ خپل غرض دَ پاره څومره چیلے او بهانے جوړه وی . اصلی خبره دا ده چه دَ خدائے ډیره دَ زړونو نه اوځی نو انسان بیا هم دغسے دَ بل دَ دینو دَ ښندلو دَ پاره بهانے لټوی . خو آخر ترڅو مره ..... هم دغسے به دَ قربانئ یو اختر وی..... خاروی به پاس ختلی وی دَ آسمان سره به خبرے کوی. ..... قصاب ماما به په خپله کوډئ ناست وی .... دَ خاروی په بخښتئ به ئے راپرزولے وی .... نبر به ئے پورته کړے ، او چه بخښتئ له ئے را خلاصوی نو دلته به ئے قرت چه ساه ختلی وی

..... ځې دَ دهٔ ساه به هم بیا لکه دَ ښارونو په رنګ دَ آسمان سره خبرے کوی ..... (خندا) بښه نو څه ترے جوړه شوه ..... تېر به په ځانهٔ پاتے شی، چاړهٔ به په وینو ګنده پاتے شی کتمال به په بړه پورے زوړند پاتے شی ..... او دَ ښارونو ګنبتی به ورپورته په خپ خپ خاندی، چه ښګه ښارونو به دَ آسمان سره خبرے کولے یا نه، خو ته څهٔ اوس دَ آسمانونو سیل کوه ..... (خندا) یَه رونړو مهٔ کوئ ..... بهانے راته مهٔ جوړه وئ - باس ډیره موده ستاسو په بهانو تیر دتو - نور پرے خدائے شته کهٔ تیر وو خو .....

..... ښاروی غریبانان دَ آسمان سره بالکل خبرے نه کوی نغد چغد په دے زمکه ګرځی او ګیا ګانے خوری چه دلته په زمکه ګیاه شته نو ښاروی لیونی دی چه پاس آسمانونو ته خیژی - او اے قصابانو ماماګانو تاسو هم دریم آسمان ته خو رسیدلی یئ - خو ګورے نور دَ پاس ختو کوشش مهٔ کوئ - چرته خدائے مکړه خپه به مو خطا شوے وی، او تم تراق چه دَ قصه خوانئ دے مینځ له به را خطا شوی یئ .... (خندا) او رشتیا ویم درته - مرچکے چرے غلط خبره نه کوی - دَ مرچکی هره خبره دَ کاڼی کربنه وی - ګنی نو ورشئ دَ باچامیر کالا نټپوس اوکړی ...... (خندا) .....

دَ خپلوَغلُ

(خندا) .... لکه څرنګ چه دا دنیا عجیبه ده، دغه رنګ دَ دے دنیا اوسیدونکی هم څهٔ عجیبه شان دی. عجیبه په دے دی چه دَ دے دنیا په مخ په کروړونو انسانان اوسیږی. څو نول دَ یو بل نه مختلف شکلونه، مختلف نقشونه، مختلف خوئونه عادتونه او خصلتو لری.... (خندا) هغه دَ چا خبره چه دنیا څه ده سم چارنقل دے.... دَ چا به تور خوښ وی دَ چا به سپین، دَ چا به شپه خوښه وی او دَ چا ورځ...... دَ چا ګرمی خوښه وی. دَ چا یخنی. دَ چا به خواږهٔ خوښ وی دَ چا تراخهٔ..... څهٔ؟ تراخهٔ دَ هیچا نه وی خوښ؟ (خندا) زهٔ خو ویم چه دَ خوږو نه دَ ترخو عاشقان ډیر دی. او مثال ئے دا دے چه تهٔ دوه ورځے دَ نشاسته خلوا اوخوره نو څهٔ دِ خیال دے چه په دریمه ورځ به دِ ورته زړهٔ اوشی؟...... په دریمه ورځ؟ او په دریمه ورځ.... یره.... یره.... (خندا) یره یره مه کوه سم یارشه او اووایه چه نه،.... نو په دریمه ورځ خو به دَ

نشاستې حلوا ته او هم نه ګورے هن؟..... اوکه ښځه ډ مرچکو ډکه ترسکوڼه سره کړے غوښه هره ورځ خورے، نو درے ورځے نه که درے میاشتے ئے هم شپه ورځ خورے نو زړه به دِ پرے دروند نشي. نو دَ ترخو عاشقان ډیر شو کنه؟..

اے ښځه دا به پریږدو. دا راته اووایه چه په کریلو او پمنکو کښے سوائے دَ ترېخوالی نه نور څه خوند دے چه په ستو ستو او منو نو منو نو هره ورځ بازار ته راځی او داخلق یاران ئے دَ تالونه وربنکته کوی..... داسے ډیر مثالونه او ثبوتو شته چه هغه دا ثابتوی چه که دَ خوږو عاشقان لږ دَ ترخو عاشقان هم څه کم نه دی. په دے کښے شک نشته چه په دے دنیا کښے ښځه خلق هم شته او خراب هم. دا اوس نشم ویلے چه ښه خلق ډیر دی که خراب. په شتو دواړه شته..... (خندا) داسے چل وو چه په هغه تیره جمعه دَ جمیع دَ مونځ دَ پاره لاړم دَ مهابت خان صیب جماعت ته. زۀ چه دَ کله راسے په ښه بده پوځ شوے یم نو ترخیله وسه دَ جمیع مونځ دَ مهابت خان صیب جمات ته رسوم...

په دے جمعه هم ما پاکے سپینے جامے واغوستے پنزے م را په خپو کړے خو..... بیا م دَ هدکالو مور ته اووے چه.....

"ښځے دَ جمیع ورځ ده را واخله هغه تورے نزے خپلئ چه

په دے بختوره ورځ ئے په خپو کړم چه بختورے شی.
هلکانو مور کوټے ته منډے کړے ، ښځلیٔ ئے د صندوق نه
راؤ ویستے ، د لوپټے په پیسکی ئے زر زر صفا کړے او ما ته
ئے په مخکښے کیښودے .....” واخله وائے چوه سړیه د خمٔ
د پاره دِ ایښی دی بلا توره وریسے ، چه دا زړه شی خدای
به درله نورے درکړی“..... (خندا) نو دونړو تورے چغنړی
ښځلیٔ رم را په خپو کړے . څادر رم په اوږه راواچولو اؤ
نیغ لاړم د مهابت خان صیب جماعت ته ..... زر زر رم
ښځلیٔ اؤ ویستے ، یو ے ډډے ته رم کیښودے او په تالاؤ رم
چار اندام شروع کړو ..... چه په مخ رم یوه لپه واچوله
او د بلے پسے د پاره رم چه د لاسو لو نه کتنې وے جوړولو .....
”دیٔ څما ښځلیٔ ؟“..... نو دونړو اودس رم په ځائے پریښود
راپاسیدم او چه اورم کتل نو د بیزاریو سړے په منډه
بهرته خلاص وو ..... ماهم وریسے منډے کړے او آواز
رم اوکړو چه ”نیسیٔ ئے غل دے، څما ښځلیٔ ئے یوړے“.....
غل مخکښے ارزۀ وریسے . په ټول بازار کښے یو شور شو چه
چور چور ، ماته خدائے شته که هیڅ بشکاریدل ..... سترګے
راباندے تورے وے، خو د چور چور آوازونه به رم په
غوږو نو کښے کړنګیدل . آخر یو سړے را مخکښے شو او زۀ ئے

کلک ـ ډ کریوان نه اوښولم .....» اودریږه! خوارشې هم ډغلا وکړه او هم منړے وښه. دے سپینې ږیرے ته خوډ اوګوره شرم نه درځي«........» وه سړو ډ خدائ خاطر اوکړئ، زهٔ غل نهٔ یم، غل هاغه مخکښے چه منړے وهي هغه دے«..... خو څما په خبره چا باور کولو، ډ خلقو دا خیال وو چه دا هُم ډ غلویو چال دے. دوؤ کسانو زهٔ کلک اونیوم او نور په هغه بل سړی پسے خلاص شول. آخر ئے رالاندے کړو. غل ئے اونیوو او راغے وستو..... (خندا) زهٔ او غل دواړه خلقو ګیپ ینولی وو. په سوونو خلق راجمع شول..... ماوویے چه دا ښپلئ څما دی، او غل وے چه نه خدائ راستی چه ښپلئ څما دی..... خلق حیران وو چه اوس څهٔ چل اوکړو.....آخر یو تماشبین پکښے اووے چه هلکو ښپلئ ورته په خپو کړئ چه ډ چا په پښو برابرے شوے، بس ښپلئ به ډ هغهٔ وی او بل به غل وی..... ښپلئ ډ غل ډ ترخ نه رااوویستے شوے. په مزکه کیښودے شوے او ماته حکم اوشو چه په خپوئے کړه ..... یه رونړو چه دا څما زړهٔ په دغه وخت کښے په دړزاړی شو اوٗ دا سوالونهٔ م شروع کړل .....« یه خدایه ښپلئ م په خپو برابرے او خیژوے. یه خدایه په دومره ساعت کښے دا ښپلئ چرته ارتے شوے یا تنګے شوے نه وی ـ کهٔ دا

ښځې ځما په پښو ارتې یا تنګې اوختې نو بیا؟"...... (خندا)
بیا ځما په تصور کښې د ماشومانو یو لوئې لښکر اوځان
راته د دغه لښکر په مخکښې روان ښکاره شو. د ټوا ټو
نارې راپسې ختې. تهانړه، هتکړئ، سپاهیان، عدالت
قید او داسې نورې ډیرې شرمندګئ راته را په مخکښې
شوې. چه په دې کښې را باندې یو ماما آواز اوکړو.....
"واچوه کنه ځه نه ګورې....؟ رښتیا وئ کنه کدو، ځه
نه ګورې؟ که ستا وی نو پښه پکښې ورا ومنړه چه اوس
رښتیا او دروغ معلوم شی"...... (خندا) او زه لکه چه
د خوب نه رابیدار شوم. زد زدم کلمه اوویله او پښه
م په څپلئ کښې وردننه کړه. د الله تعالیٰ فضلونه وو
چه څپلئ نه ارته شوې وه او نه تنګه شوې وه، بلکه په
پښو م پوره وه، ایله م په سترګو رڼا شوه. په زړه
کښې خوشحاله شوم چه ځه که خیری څپلئ نه ارتې شوی
دی او نه تنګې شویدی ..... خو د خلقو تسلّی لا نه وه شوې
یو پکښې آواز اوکړو چه د دې بل سړی په څپو نې هم
اوګوری که د هغه په پښو برابرې شوې نو بیا؟(خندا)
خبره معقوله وه، که د هغه په پښو هم څپلئ برابرې
شوې..... نو بیا؟...... او دلته ځمازیږه بیا بې واره یه

درزاري شو. مرئ رم او چه شوه او په زړهٔ ذرهٔ کښې رم سوالونه شروع کړل چه ....."يه خدايه ذدهٔ په خپوخوځ برابر ے مه کړے، يه خدايه پاکه....." او په دے کښې يو سړي را باندے آواز اوکړو....."اوباسه کنه بيا خهٔ کوړے." (خندا) اؤ رونړو تاسو نه څه پړده ده يو په مات زړهٔ رم د ښپلئ پيړمس پړا انستر، او چپلے ښپلئ رم غل ته په مخکښے کيښودے. غل ښپلے په خپو کوے. او زهٔ دَ ځان سره بنړيدم "يه خدايه ارتے نے کړے. يا خدايه تنګے نے کړے، يا خدايه ارتے نے کړے، يا خدايه تنګے نے کړے"... (خندا) خلقو را پورے په برق برق اوخندل، زهٔ هم دا سے کچه عونډے شوم. غل په ښپلے کښے پښه دننه کړه.....ځما د زړهٔ حرکت لکه چه بند شو. "ا....ے...اے.... ښپلئ تنګے او ختے" (خندا) ځما د خلے نه يوه بے واره چغه او خته، اے قړانګو غل دے.....غل واقعي چه غل وو. ښپلے د هغهٔ نه بلکه ځما وے. غل خلقو لاس نيوے تهانړے ته روان کړو. او زهٔ هم ورسره تهانړے ته روان شوم. ځکه چه د ثبوت دَپاره ځما تهانړے ته تګ ضروري وو..... نو اوشوه لاړو تهانړے ته. تهانړيدار ناست وو..... هغه ځه نوم دے؟ "جي مرچکے" مرچکے؟

.... او جي خاورے مرچکے ....." دا د سړو نوم دے"..... جي
او زه سړے يم او ځما نوم مرچکے دے ..... (خندا) تهانړيد
صيب ډير اوخندل ..... او رپورټ ليکل ئے شروع کړل...
ځما نوم کلے او د غل نوم کلے اوليکلے شول - خو چه د ګواهئ
دپاره تهانړيدارصاحب اووے نو دے دومره خلقو نه يو
کس هم را وړاندے نه شو. په دے دومره خلقو کښے چا
هم دا اونه وے چه ګنی دا غل ، غل دے - حق حيران شوم.
دا خو شکر دے چه غل ما پخپله ليدلے وو ، ګنی نو ګواهئ
ورکولو ته هيڅوک هم تيار نه وو - لنډه دا چه غل د ننه
کړے شو حوالات ته او زه په منډه منډه راغلم جمات
ته ، خو.... چه راغلم نو مونځ زانه شوے وو -
څومره د افسوس خبره ده څومره غلط کار دے ،
د اسلامي اصولو نه خلاف ، د انسانيت او شرافت د دائرے
نه بهر - غلا او بيا د جماعت نه د خدائے د کور نه؟.....
په د نامے مسلمانانو دا څه کوئ ؟- د اسلام نوم مو
په څان پورے اوشرمولو..... وه کورآبادو دا څه کوئ....
اے د څپلو او پيزارو نو غلاګرکو هم ستاسو د ويرے خو
نمونځ ګذار د پيزار غونډے ناپاک څيز د مونځ په وخت
ځان ته مخامخ ايږدی - دغه پيزار په جماعت کښے مونږ ته

مخامخ پروت وی او موږ ورته سجدے لګوو.....راځئ چه په شریکه د خپلے معاشرے نه د پیزار د غلاګوګو دا ناسور ورک کړو. راځئ چه په خپلے مسلمانئ دا دنیا نوره نه خنده وو. غلا هسے هم سپک کار دے او بیا د پیزار غلا خو د حد نه پریوتے سپک کار دے. څومره خوند به کوی چه هر مسلمان د مونځ په وخت خپل پیزار په خپل مخکښے د ایښودو په ځائے یو خوا ته یو طرفته پروی او د غل غدو ویره نه وی، څومره خوند به کوی چه بیا په مونځ کښے د پیزرو او څپلو په خهتو او سوټونا ولی تلی زموږ په مسلمانئ پورے خندا نه کوی.:

حکیم صاحب

(خندا) ... نه خدائے شته که درته دروغ وائیم ... نو آخر په ما څه ناکام دے چه زهٔ دے خواه مخواه دروغ ویم ـ دروغ دِ رابانددے خدائے پاک هیڅکله نهٔ وائی ـ ځکه دروغ خو بے ایمانه سړے وائی ، دروغ خو منافق سړے وائی ، دروغ خو دَ کمزوری ایمان خښتن وائی ، نو زهٔ خو شکر دے نهٔ بےایمانه یم ، نهٔ منافق یم او نهٔ مې ایمان کمزورے دے ، نو بیا به دروغ ولے وائیم ـ په دے کښے شک نشته چه ډیرے کمزورئ راکښے شته، ډیر عیبونه راکښے شته ، ډیرے خامئ راکښے شته ، ځکه چه زهٔ هم انسان یم ـ خو دا دَ خدائے پاک فضل دے چه دروغ راکښے نشته ـ او ما ته خو دروغژن سړے ډیر سپک ښکاری ، نو ځکه هر وخت دا دعا کوم چه خدایه پاکه دَ دروغو نه مې او ساتے ، یوازے ما نه بلکه هر مسلمان آمین ـ نو خبره مې دا کوله چه خدائے شته که درته

دروغ وایئم چه دے قصه خوانئ بازار کښے هره تماشه مشته، که څوک دَ دنیا دَلاندی باندی، چل ول او دهوکو دهاکو نه ځان خبرول غواړی نو لاړ دِ شی دَ قصه خوانئ بازار ته، او دَ یو ساعت دَ پاره دِ دَ بازار په دے مینځ کښے دَ فلیټ فارم دَ پاسه او دریږی چه ټوله اندازه ورته اوشی ..... (خندا) زهٔ هم هغه ورځ تلے وم قصه خوانئ ته۔ نو رونړو .... سه

دَ قصه خوانئ په دے بازار کښے
وم ولاړ څهٔ انتظار کښے!

خلق وے چلید ے!
ټانګے وے تیرید ے
رکشے دے غرید ے!
موټرے زغلید ے

یو شور وو یو غوغاوه
هر طرف نه واویلا وه

دَ قصه خوانئ په دے بازار کښے
وم ولاړ څهٔ انتظار کښے!

نو دا هرڅهٔ تیریدل، دا هرڅهٔ کیدل، او ماتهٔ سیل کولو په دے کښے لږ دراخوا کښے خلق ولاړ وو او یو سړے پکښے

د په چغه چغه لګيا وو..... سه

ما وېښل اے مرچکے!

کور دِ خور شه لیونیه

دلته څه کړے چه اوردیږے

هسے خواه مخواه ګرځیږے

که دِ سيل ته چرے نیت وی

او سیل دَ تا عادت وی

نو هم دے غونډے له ورشه

په حال ئے لږ خبر شه

نو ورغلم غونډے له ..... خلق بے شمیره ولاړ وو، خو

لکه دَ پښتی رم دَ خلقو په دے ټرخونو کښے سر وردننه کړو

او رو رو رم ځان له ځائے پیدا کړو..... چه رم اوکتل

اَ ذیو سړے دے چه مَلا ئے بربنړه کړے ده، اویو حکیم

صيب ورله په مَلا څه دارو مبتلي دی. لوګی دی چه

دَ سړی دَ ملا نه خیژی ..... خدائے شته چه وارخطا

غونډے شوم، ما وے که دَ سړی ملا اور آخستے دے

خو چه سړی ماما عزیز نه کولو نو ځما هم بیا زړه لږ په

ځائے شو، دَ سړی ماما دَ مَلا نه لوخړے خئے او دا کتر

صاحب په لویه ژبه په هندکوکښے لګیا وو، خبر زهٔ خو په

هندکو څهٔ لږ لږ پوهیږم خو دا ولاړ خلق چه وو، نو هغوی ټول د کلو نه راغلی وو، نو دوئ خو یقیناً چه په هندکو نهٔ پوهیدل۔ خو ډاکټر صیب دا کمال کړے وو چه ځان سره ئے ترجمان ساتلے وو...... (خندا) او اوترجمان .... یعنی ډاکټر صیب به په چغ چغه په هندکو کښے لګیا وو او ترجمان به ئے په پښتو کښے ترجمه کوله۔ د ډاکټر صاحب او د ترجمان خبرے څهٔ داسے وے ....:-

اگر کمر میں درد ہو
که چرے په ملا کښے دِ درد وی۔
کاندھے میں درد ہو
په ؤلی کښے درد وی
ایک دِن کا نہیں
دَیوے ورځے درد نه
ایک ماہ کا نہیں
دَیوے میاشتے هم نه
اگر ایک سال کا درد ہو
که دَیو کال درد وی
یہ دوائی ایک دِن لگائیں
دا دارو پرے یوه ورځ اولګوئ

انشاء اللہ!
کهٔ خدائے ته منظوره وی۔
پھر کبھی عمر بھر بھی
بیا به په ټول عمر کښے هم
درد کی شکایت پیدا نہ ہوگی
د درد شکایت به درته پیدا نه شی۔
آزمودہ نسخہ ہے
آزمائیلے شوے نسخه ده
جھوٹ نہیں
دروغ نه دی
فریب نہیں
دهوکه نه ده
اگر میں جھوٹ بولوں
که چرے زهٔ دروغ وایم
تو خدا میرا بیڑہ غرق کرے
نو خدائے دِ زما بیړئ غرقه کړی۔

(خندا)...... نو دو نړو او موکتو د ترجمان کمال ښکلے بښه ترجمه ئے اوکړه...... په توده زمکه هیڅوک پښه نه ږدی۔ او نو هلکه په چا خنه چتی ده چه د بل د پاره چپل

بیخ اوباسی ..... ولے د ترجمان د دے مطلبی خبرے کولو نه پس هم چه هغه څه وخت واړهٔ واړهٔ بوتلونه راواخستل او..... "ایک روپیہ۔ ایک روپیہ صرف ایک روپیہ میں"...... نو دلته پرے د دے خلقو غوبل شو،..... "ډاکټرصیب یوُ ماله راکړه"... "ماله هم یو راکړه".. "ماله هم".. "یوه ماله هم"... (خندا) د سټرکو په رپ کښے بے شمیره بوتلونه خرڅ شول۔ کلی وال خلق لاړل، خپلو خپلو کارونو پسے او او ډاکټر صیب خپل لَډ کوپړئ شا ته راواچول لاړو دبلے بازار ته۔ ماچه دا نقشه اوکته نو د سر نه م یوه لمبه پورته شوه۔ ته ګوره ورته دا زمونږ ډاکټري او دا زمونږ علاج راتلو راتلو نو اوس لاړو کوڅو ته رارسی، او اوس به ډاکټران په لاړو کوڅو کښے لوغړیږی او زمونږ علاجونه به کوی۔ دوه خپل ژوند پورے ستومانه رونړو هم کوئ خدائے شته چه دا په لاړو کوڅو او بازارونو کښے ګرځیدونکی نه طبیبان دی او نه ډاکټران، دا ګنړکیان دی ګنړکیان۔ یو خو د خدائے د نامے نه ځار شم، مونږ چه هسے د حکیم یا ډاکټر نوم واورو، نو شل بیمارئ راکښے راپیدا شی په سر د خدائے خاطر اوکړئ دا څه کوی۔ دے کوڅه ډب حکیمانو نه ځانو نه ساتئ۔ خدائے شته چه د دے حکیمانو

په علاج د رکښې دومره کوچو نه راپيدا شي چه سمه د مرضونو جاله درنه جوړه شي. دهٔ زوړ ورو نو په تاسو دا خپل ځانونه ولې داسې پڼيتي دي چه اوچ لونده به نه ګورئ او ځان به زمکې له راخلاصوئ ...... (خدا) دهغه د چا خبره ...... سه

افسوس افسوس ارمان ارمان دے

خوشې ميدان دے سترګې چاته واړومه

سه

ناپوهه روندو خبردار شئ!

دنيا ټګ ځنه ده پړه مکړئ اِعتبار ونه

اوس خوړم درته تپې هم او وے زدوړ ورد نو اوس هم

که ځما په خبره عمل نه کوئ، نو خدائے شته چه ډير بد به کوئ - ؛

دَ متوګۍ مور

(خندا) ..... دَ متوګۍ پلار دَ پټې نه سنترے ستومانه راغلو۔ دَ رشقې پنړ ئے په دالان کښے ګذار کړو،..... دَ متوګۍ مور ورته اووے چې یو خسنړے خشاک نشته په کټوئ پیسے رم سپیاکے لوګے کړې دی خو په سپیاکو هم چرے کټوئ پخه شوے ده؟..... دَ متوګۍ پلار تبر راواخستو په غوږلی کښے یو لوئے ډک پروت وو،..... دَ متوګۍ مور ماشوم خوږے په ډوډی راغله دَ متوګۍ دَ پلار په تماشه اودریده ..... دَ متوګۍ پلار تبر پورته کړو او چې ډک له ئے راخلاص کړو، نو یو کړنګ ئے نارے کړل..... دَ ډک نه یو توټے والوتو، او ترق شو دَ متوګۍ ماشوم رور پړے په تندی اولګیدو..... دَ وینو یوه داره دَ ماشوم دَ تند ی نه روانه شوه..... دَ متوګۍ مور خپل تندی له لاس ورکړو.....،، وئی ته ما خدائے اووهه چې راتلم او تاته اودریدم،،..... (خندا) اؤ اؤ خدائے پاک دِ دَ متوګۍ دَ مور

په ډنګه بنځه بالکل اوده ..... وَلا زوروره نو په تاخه
چېتي وه چه ماشوم ځوے په ړو ډی راتلے او دَ ړو سیل
ته اودریدے ..... دا جوړ دَ متوکی پلار دړے نه کولی
اننړ ئے اچولے وو چه ته ئے تماشے ته اودریدے ..... روندړو
اوخوږندو ! دا خبره رښ واورئ چه سړے له نه دی
چه دَ غولی په مینځ کښے دَ لرګی ځته راګیره کړی او نیغ نیغ
پرے کیږی. ځکه چه دَ تبر دَ ځُلے نه الوتلے تو تے سمه تیره
چاړه وی ..... او بنځو له نه دی پکار چه دَ ډرو په وخت
دَ خاوند انو تماشے ته اودریږی - یوه ورځ به په توتنی په
بوتارے لګیدلے وی نو بیا به دَ اوبو ډیښے کوی ..... (خندا)
دا خو مو شوه یوه ..... !

دَ متوکی مور سحر وختی په توره خره جارو راخستے
وه ، انګنړ ئے جارو کولو ، چه نمر خړیکه وهلو نو دے بیا
ځائے جارو کړے وو . دَ متوکی پلار کټ په کټ په لوړ
پیسے او متوکے کټ په کټ په خپل چاقو پیسے کړځیدو خو نه
لوړ وو او نه چاقو . خدائے خبر چه څه شو نو ؟ ..... دلته په
دے غولی کښے لور پروت وو ، او دلته دَ نغری سره چاقو ،
خواوس یو هم نه ښکاری نو . " متوکیه ورشه بچیه ته ئے
لټوه په ډیران اوګوره ، ما سحر ځائے جارو کړے دے ، هسے نه

چه په ډېران م غورزولی وي"...... او چه متوکې ډېران له لاړو، نو ډ خزے نه ئے یو لوړ، یو چاقو، یوه قاشوغه، یو د ماشوم جنجړے، یوه چوسنی، یوه جرابه او یوه ټیپئ رااوویستل - او چه دا هرڅه ئے راوړل او مورته ئے په مخکښے ډیرے کړل نو......" وئ نه ما خدائے اووهه ماوے کنه چه مابه جارو کړے وي"...... (خندا) اوُ اوُ خدائے پاک دِ د متوکی د مور په ریگے بنځے بالکل او وهی چه ځایونه جارو کوی او ځیزونو ته به نهٔ گوری ...... یه خوبینه وداسے نهٔ کوئ..... چه څائے جارو کوئ نو د کور لوښو لرګو ته لږ پام کوئ دسے نه چه د متوکی پلار خبریږی خبریږی چه د کور ټول لوښی لرګی ډیران ته رسیدلی وی ... (خندا) دا مو شوه دوئیمه!

د متوکی پلار یوه چیلئ ډېره په مینه آخستے وه - د جُمعے په ورځ چه بنارته لاړو نو د ځان سره ئے د وه سپیره چنړه راوړه - هره ورځ ماښام به ئے یوه لپه چنړه چیلئ له په خپل لاس ورکوله...... پرون د متوکی مور اوزګاره وه، د متوکی د پلار د راتلونه اګاهو پاسیده، یوه ډکه شکروتئ چنړه ئے راواخسته او په خپل لاس ئے چیلئ له ورکړه او د څهٔ کار د پاره د مرجانے ببو کره په

دیوال واوړینه ..... په دے کښے دَ متوګی پلار راغلو، ټیټ لاړو کوټے ته، چینړه ئے راواخسته اوچیلئ له ئے ورکړه..... دا ماسختن چه کید و، نو چیلئ بغارے شروع کړے ..... په ګیړه کښے دړد شو...... دَ متوګی موراودَمتوګی پلار دواړو رامنړے کړے. حق حیران دو چه په چیلئ څهٔ چل اوشو؟ دَ متوګی پلار اووے چه اوس ہم ورله چینړه ورکړه سمه دمه وه اوَ......"دئ ماخدائے اووهی دے له خو ماهم یوه شکرو تئ چینړه ورکړے وه اوَ تا هم ورله ورکړه؟"...... (خندا) اوَ اوَ دَ متوګی دَ مور په دیګے بنیڅے دِ بالکل خدائے پاک اووهی، چه په یو کار کښے به ئے نه کار وی او دابه ئے کوی. لاړه چیلئ دَ متوګی دَ مور دَ سره ځار شوه...... نو اے خوښند و ایمانو نه مولضیب شه، هر یو کار چه کوئ نو خاوندان پرے لږ خبره وئ کنی نو چیلئ به موهم لکو ترق شی اوَ دَ خاوندانو څوکے به موهم په ملا ګانو باندے کوتره کیږی..... (خندا)

دا خو مو شوه درئیمه!

دَ متوګی مور سم دَ مازیګره تنور لمبه کړو چه دَ روټئ دَ غمه ځان خلاص کړی. تنور سور شو، ټپه ټپه چه پیړے ئے په تنور پورے کړے..... اور ئے ورته تازه کړو

میګے ئے په تنور کیښودو او چپیله لاړه مرجانے ښو سره
په دیوال اووریده ، چه روټئ سرے کیږی سرے کیږی
دے به ډ مرجانے سره یو ښغرے ګپ لګولے وی.... خو ګپ
ډیو ښغرئ نه دوه درے ښغرئ ته اورسیدو، او چه په
ټول کور کښے ډ سوزیدلو روټو بوئی خور شو نو ډ متوګی مور
ډ دیوال نه راټوپ کړو او تنور له ئے رامنډے کړے، چه ډ
تنور نه ئے میګے پورته کړو نو ډ لوګو یو دنډ وګار ترے
راپورته شو۔ روټئ ټولے پکوړه شوے وے او تور تور
سکاره په تنور پورے انښتے وے۔ ډ متوګی مور ښدی
له ټس ورکړو..... " وئی ته خدائے ماووهے چه روټئ رم
په تنور کښے پریښودے او زهٔ لاړم مرجانے ته په دیوال
اووریدم".... (خندا) اؤ اؤ خدائے پاک دِ ډ متوګی ډ مور
په ریګے ښخے بالکل اووهی، چه روټئ به په تنور پریږدی
او دا به ډ مرجانے سره په دیوال ګپونه لګوی..... لے خوینډو
خدائے ته اوګورئ چه ډ دے ګپونو دپاره څه وخت مقرر
کړی، دا وخت بے وخته په دیوالونو ډ ګپونو لګولو عادت
ډ خان نه لرے کړئ ګنئ نو بیا به ډ متوګی ډ مور په ریګے
په تور ما سختن ناستے یئ سُکړکان به درَبوئی.....(خندا)
دا خو شوه خلورمه!

دَ متوکئ پلار چه ماسختن دَ حجرے نه راغلو په کټ کښې سملاستو نو دَ متوکئ مور ته ئے آواز اوکړو چه هغه رشقه په دالان کښې پرته ده۔ څه لږ خرخوړے پرے واچوه هسے نه چه دَ شپے څاروے راخلاص شی، ځان پرے اونه پړسوی ...... دَ متوکئ مور ورته اووے چه ته بے غمه اوسه زهٔ بهٔ ئے پټه کړم ...... خو په څهٔ ساعت پس پرے سترغلی درانه شول، په زړهٔ کښې ئے سوچ اوکړو چه څهٔ یره تول څاروی تړلی دی وے به ځان راخلاصوی ...... او دو ئے سهٔر کیښودو اوده شو ...... او چه سحرله دَ متوکئ پلار راپاسیدٔ نو په برګی غوئی کیږه داسے ولاړه وه لکه شناز ...... ډیرے شو ملے مومړے ئے ورته په خُله کښې ورواړولے ...... ډیرے دَ بکیانړو ډنړے ئے ورله په وښکو کښے ورکړے خو څه تړے چوړه نه شوه، او چه کله عزمه کیده نو دَ برګی غوښے په کنډولو کښې په کوروبو کښې ویشلے شوے ...... دَ متوکئ مور په ژړا ژړا سترغلی پړسولی وو ......"وئ ته ماخدائے اووهه چه مارشقه پټول نه؟ ......(خندا) او اُو خدائے پاک دِ دَ متوکئ دَمور په ریګے ښځے بالکل اووهی چه اول ناراستی اوکړی او روستو بیا اوبنکے څڅوی ...... لوائے خوېندو چه دَ چاکره څاروی وی نو هغوئ له پکار دی چه دَ ماسختن

کټ ته دَ ختو نه ځکښې رشقے او شوتلونه هرخه پټ کړی گنی نو دَ متوکی دَ مور په رنگ به مو برگیان په کنړ ولوشی وسترغلی به مو په ځان راپړ سولی وی.... (خندا) دا مو شوه پېښمه....!

دَ متوکی دَ مور غوا لنگه وه..... څلور سیره دَ وخت به ئے کول..... هرماسختن به چه دے غوا غوجل ته دننه کوله نو دَ متوکی پلار به ورته وے چه سخے بنه کلک اوتړه چه دَ شپے راخلاص نه شی..... دَ متوکی مور به دَ متوکی دَ پلار خبره په غوږ اووهله..... اونن سحر چه دَ متوکی مور دَوُ نړئ راوا خسته او په دانگو غوجل ته دَ غوا دَ لوشلو دَ پاره لاړه نو څهٔ گوری چه سخے بنه دَ مزے دَ مور سره په ترخ کښے ملاسست دے. ټوله شپه ئے دَ مور په پیُو مزے کړے وے..... دَ متوکی مور تندی له ټس ورکړو...." وئ ته ما خدائے اووهه چه ما سخے کلک نه تړلو، ته اوگوره چه غوائے زانه رودلے ده"..... (خندا) اوُ اوُ! دَ متوکی دَ مور په رنگے بنځے دِ خدائے پاک بالکل اووهی چه دَ رنگے غوا سره به سخے سخئ په غوجل کښے یو ځائے تړی او بیا به ورته مضبوط نهٔ اچوی..... نواے خویندو! ایمانونه مو نصیب شه سخے سخئ چه په غوجل کښے دَ غوا سره یو ځائے تړئ نو دا ستلی

کوي چه موږ سره ئې مضبوط دے، رسئ ئې کلکه دهٔ.....
که کيدے شي نو دَ سخا سنئ دَ پاره يو کوړے هم جوړ کړئ شئ
چه کوړے ئې څټُ ته پروت وي نو که بيا را خلاص هم شئ
خو موږ به رودے نه شي..... که دا ئے مو او نکړل نو بيا به
لکه دَ منتوکي دَ موږ سرتند ے وهئ او جوړيږي به ترے
څه نه..... (خندا) نو دا موشوه شپږ مه...!

بس دے يره ترڅو به مردا ناړامے سشميرم، څه يو خبر
خونهٔ دهٔ چه زهٔ ئې بيان کړم، څه يوه ناړامه نه دهٔ چه زهٔ
ئې درته په ګوته کړم. زموږ زنانه په هر قدم غلطي کوي، په
هر قدم کښے غفلت کوي. او دغه وجه ده چه ټول عمر ئې
په "وئ ډوبه شوم" "وئ ميراته شوم" کښے تيرشي......
ځان به ډوبوي، ځان به ميراته وي، او لږ دَ سوچ او
دَ فکر نه به کار نهٔ اَخلي. څکه خو مرچکے هم شپه ورځ په
دے بنځو پسے ډمامے غږوي..... بنځے دِ خپل ځانونه سم
کړي، دا ناړامے دِ نه کوي، بيا که مرچکي در پسے خبره اوکړه
نو ځانئ ئې زهٔ عبدالله جان مغموم..... (خندا)

دوکانداران

(خندا) .... پره خو چار دِ دَ دے دوکاندارانو ښه وي، دوئ سره دَ موږ والو خلقو ډیر غم وي ـ هرڅه راله په وخت وخت تیار کړي ـ په وخت وخت ئے راله جوړ کړي او چه څه وخت زموږ ضرورت پیښ شي نو تیار سنبال څیز را واخلي او موږ له ئے را کړي..... وے کني دروغ م اووے ؟ نه خدائے شته چه بالکل رشتیا خبره م او کړه، چه دَ دوکاندارانو ماماګانو سره دَ موږ والو خلقو ډیر غم او ډیر فکر وي ...... دے بجازیانو غریبانانو دَ روژو نه مخکښے کني زموږ دَ جامو غم نه وو کړے ؟..... او دَ پیزارونو والو کني یوه میاشت آګاهو شپه ورځ په ځان نه وه یوه کړے او زموږ دَ پاره ئے پیزار نهٔ جوړول ...... ؟ مړو خو دغسے ځئ وریسے هرچا ترڅنګه وسه پورے زموږ غم کړے وو او بیائے راته ترڅنګه وسه پورے راته په دے روژو کښے پوستکے اووبیستو..... (خندا) وے نو...... دَ اختر مخه نه وه، او وے

داهغوئ دا زموږ غم څه دَ خدائے په نامه کولو څه ؟......
نه مړو تاسو دَ هاتهي په غوږ کښے اودهٔ يئ...... په دے
روژه اواخترونو کښے خو خدائے خبر چه څه چل دے خو دَ
دوکاندارانو حرص ډېر زيات غونډے شي ، دَ هر څيز قيمتونه
يک دم اوچت شي . دَ روپئ څيز په پاؤ باندے اودَ پاؤ
باندے څيز په يوه نيمه ..... (خندا) چه بازار ته سړے
لاړ شي نو دوکاندار به درته په داسے سترګه ګوري چه ته
به صفا پوهيږے چه دَ دوکاندار نيت راته خراب دے (خندا)
يره ..... دوکانداران غريبانان هم ملامته نهٔ دي نو .....
ځکه چه نه هره ورځ روژه وي او نه هره ورځ اختر وي
په کال کښے يوه مياشت روژه . او ايله بيله دوه اخترونه
وي...... نو دَ شمير په دے ورځو کښے ډير دوکانداران دَ
ځان دَ پاره دَ کال خرڅ برابر کړي ...... دوکانداران خپل
ځان ته دَ کال راشن واچوي او موږ دَ يو کال دَ پاره بيا دَ
قرضونو دَ لاسه په بازار کښے پټ ځ ګرځو..... ځيني موږ
که پټ ګرځو او که پټ نهٔ ګرځو، ګرځو به ، خو دَ دوکاندارانو
غريبانانو کار خو اوشي کنه ..... ځکه په دے اعتراض نشته.
بلکه دَ هيچا په دے خبره څهٔ اعتراض نشته چه کني دوکاندارانو
دِ ګټه نه کوي ...... نه ! ګټه دِ کوي ، ضرور دِ کوي خو....

لږه په اندازه، لږه دَ انصاف او لږه دَ شرافت کښته پکار ده ـ په يوه ورځ ځان مړول نه دي پکار ـ زمونږ دَ مجبورئ نه ناجائزه فائده آخستل نه دي پکار ـ آخر مونږ خو هم دَخدائے بنيادمان يُو..... څهٔ دَ دوکاندارانو دشمنان خو نهٔ يُو چه دوئ دانه داسے چړے تيرے کړے وی.... (خندا) تاسو يقين اوکړئ چه په دے روژه کښے هر دوکاندار دا پيسے داسے په لپو لپو راغونډے کړی چه.... زهٔ به ئے درته څهٔ اووايم؟ خو چه لکه دَ هر څهٔ موسم وی داسے دَ بجاړيانو موچيانو، اچاروالو، سبزی وغيره وُ په موسم کښے باقی دوه يا درے ورځے پاتے شوے، دَ دوئ موسم ختم او دَ حلوايانو او کبابيانو موسم شروع شو..... دَ حلوايانو دِ چار بنه دی چه دَ روژے دَ سوند ئے متهايانے جوړول شروع کړی دی، حلويئ پخول ئے شروع کړی دی...... او دا متهايانے دا امرسے او دا حُلوبئ دَ حلوايانو په دوکانونو کښے قط په قط دَيوے ميا شتے راسے پرتے دی..... نن صبا دَ شپے مړے او منړکان دَ متهايانو او امرسو په دے تالو کښے ټوله شپه کشتی کيږی، پټ پټونړی او ډب ټپ کوی...... (خندا) اوُ اوُ رشتيا وئيم درته، خدائے شته چه نن صبا دَ حلوايانو ماماګانو دَ دوکانونو منړکان دومره خوشحاله دی چه راشه کنه ئے ګوره ـ

اوزهٔ خو وئیم چه ډیر ښه کوی ، ځکه چه آخر مېږے او
مېږګان خو هم ژړونه لری ، پریږدئ چه هغوئ زموږ
نه خپل اختر او خپله میله اوکړی..... خیر دَ اختر په ورځ
هم دغه مټهایانے ، امریسے او ځلوبئ په شکرونو او تالو کښے
میلے ته راوړی..... او موږ دَ کلو ساده ګان چه ټوله ورځ په
میله کښے اګئ اوجنګوو ، نو مازیګر له دغه ملبه مټهائ دَ
اګو په ځائے په رومالونو کښے واچوو او کورونو ته ئے یوسو ،
دا داسے مټهائ او امریسے وی چه پرو سږکال متوکی دَ مور دَ
پاره دَ میلے نه مټهائ راوړے وه ،.... متوکی ته مور ډیرے
دعاګانے اوکړے...... او په تلوارئے یوه دانه مټهائ خلے ته
واچوله..... او په دے کښے ......" آ آ آ غابښ م مات شو"......
(خندا) او دَ دلته دَ ډیو یوه داره دَ متوکی دَ مور دَ خلے نه
روانه شوه...... هغه ورځ شوه او نن ورځ شوه دَ متوکی
مور بیا متوکی ته اونهٔ وے چه......" بچیه لږه غونډ مټهائ
خو دَ ځان سره راوړه....... (خندا) او نو څه لیونئ خو
نه ده ......که په ځله کښے ئے غابښونه پکار وی خو بیا به مټهائ
نهٔ غواړی . او که نه غابښونو ته ئے نیت خراب وی نو دوه
ورځے پرله پسے دِ دَ میلے مټهائ اوخوری چه له خیره دَ غابښونو
نه بے غمه کیږی او که نه...... (خندا) نور دو نږدو تکړه شئ

حلوایانو ماماګانو درله سره سره متهائي .... زیړے زیړے امرسے او نارنجي نارنجي حلوبئ ډیره موده کیږی چه تیارے کړی دی .... ماخو درته خبره خلاصه کړے ده. چه ذ دے دوکاندارانو دِ چاربنۀ وی ذ دوئ سره ذ مونږ والوخلقو ډیر فکر وی ..... نو زمونږ فکر حلوایانو ماماګانو له خیره کړے دے ..... او کبابیانو آشنایانو هم ذ میلے ذ کبابوډپاره غاروی ذ پخوا نه آخستی دی ..... خو غریبانان شپه ورځے لګیادی ذ سر خیراتو نه ئے غواړی، چه خدایه پاکه ذ میلے تر ورځ پورے ئے اورسوے ..... (خندا) او نو ذ میلے ذپاره خو څوک څو غاربۀ غاروی نه آخلی ..... هم دغه چابخو پانجو ذ هډوکو ترنګو غاروی اخلی.....چلیږی مړو به میله کښے هر څه خاشیږی .... او ذ کبابو څو پته لګی، ذپیازو دِ چاربنۀ وی ذ خراب ټیمزخوند هم په خپل خوند کښے راواخاړی .... او بناسته تر سکون غونډے کباب تِر جوړ کړی ..... او بیائے مونږ وال خلق بنۀ په مزے سره خورو ..... (خندا) ائی ته کورئے خور کړے؛ دا انسان څومره خود غرضه شو، دایو انسان بل انسان ته څومره بد نیته شو. هرانسان ذبل انسان دښمن شو، هرانسان ذبل انسان وینه څښل غواړی خو چه خپل تنورئے ډک شي.... داهغه

دَ قیامت علامے دی ۔ دا ځان ځانی ، دا نفسا نفسی او دا
خود غرضی دَ قیامت نخښے دی ..... الله پاک دِ زموږ په
زړونو کښے انسانی همدردی واچوی، الله پاک دِ زموږ دَ
سترګو نه دَ حرص پړدے لرے کړی، الله پاک دے موږ دَ
انسانیت په تقاضو پوهٔ کړی، الله پاک دِ زموږ په زړونو
کښے دَ انسان او انسانیت سره مینه راپیدا کړی، چه انسان
دَ ژوند په خوږ و، او انسانیت په خوږو پوهٔ شی...... ؛

دکیلے پوستکے

(حنندا) .... په قصه خوانئ بازار کښے روان وم. کنړه کونړه ډیره وه ..... اصلی خبره دا ده چه قصه خوانئ خو دَ پیښور بنار زړهٔ دے کنه ..... نوکنړه کونړه خو به پکښے ضرور وی ..... په دے کنړه کونړه کښے زهٔ هم په حپل ترنگ کښے روان وم ...... خُمانه مخکښے یو سړے روان وو، ټوکری ئے په سر وه. لوئے لوئے بازوکان برسنړے پکښے پراتے وے ..... ناګهانه بے لکه دَ چیلئ آواز اوکړو " پیئ "..... حق حیران شوم ورته چه په هلکه سم دم سړے ولے دَ چیلئ آوازونه کوی. په دے کښے بیا سړی آواز اوکړو" پیئ ".... یو دوه درے ځله ئے چه" پیئ پیئ " اوکړل نو یقین رم پوخ شو، چه سړے لیونے دے. حُکه چه په خود سړے به ولے دَ چیلئ آوازونه کوی ..... مخکښے روستو، لاندے باندے ورته رم بنه اوکتل .... خو خدائے شته چه سړے روغ رمته بنکاریدو ..... په دے کښے ئے بیا یو پیئ نارے کړے ......

او خدائے شتہ چہ کما زیرۂ خفہ شو..... تہ گورہ ورتہ سم دم څوان دے، خو چہ مازغۀ ئے خراب دی نو ډېلئ آوازونہ کوی.... (خندا) پہ دے کښے ہم چہ کتل نو ولے بخش پہ دا نګو داخلاص وو..... او راتلو سرہ ئے.. "اولا ئے مرچ خیری تال"... "گورہ بخش یو خو خدائے تہ اوگورہ چہ ماتہ مرچ هم وایہ. سم دم مرچکے نوم ہم دے خو تا راتہ مرچ جوړ کړو؟

(خندا) بخش خپ خپ چہ پہ خندا شو...." او تاتہ خدائے موړ کړی مرچکی تہ هندکو کښے مرچ وائی کنہ؟

"یرہ هر څہ چہ وائی ورتہ خو ماتہ سم دم مرچکے وایہ، مرچ راتہ مۀ وایہ۔ پہ ما دا نوم ډیر بد لگی؟

(خندا) اللہ اللہ یار۔ بیا تا تہ سرخ مرچ ویم بس۔

" بس یار پریږدہ دا سرے چہ څنګہ روان دے او ټوکرئ ئے پہ سر دہ، او ډېلئ آوازونہ کوی، دا هم لیونے نۀ دے...."

(خندا) او تاتہ خدائے خوار کړی، چلا ځنگا۔ پیڼ خرچ کوی پیڼ۔

"پیڼ"؟..... پیڼ څہ تہ وائی؟

"او دا ټوکرئ کښے پیڼ تا تہ نظر بانڈے نۀ راځی؟"

"برسنڼ ے ؟ ..... په هلکو برسنڼ وته تاسو پیڼ وایئ ؟ دَ سمو دمو برسنڼو نه موراته پیڼ جوړے کړے (خندا) یره خدائے شته چه داخو ډیره زیاتی ده۔

" او چھوڑ یار اناں کلاں نوں لالے مرچ ۔ تا بانډ چائے او څښنوم ؟....."

" نه یار مهربانی چائے نه څښنم ۔ ځم ځما تادی ده۔"

" او یار څا نا تاته بیتهخ بانډے کینوم ، هلنه تابانډ چائے او څښنوم ۔"

(خندا) نه نه مهربانی بیتهخ بانډے ما مه کښینوه زه چائے نه څښنم ۔

" ښه ده سلام علیکم ۔"

" وعلیکم السلام الله دے حوالے لالے مرچ ۔"

(مسکا) نو روښو لالے بخښش م په ځائے پریښودو او زهٔ تړے مخ په وړاندے روان شوم ..... چه څو قدمه مخکښے لاړم نو څهٔ گورم چه دَ برسنڼو ما ما بورۍ بورۍ په سړک پروت دے ، او برسنډے ئے لکه دَ کټ بازوگانو په بازار کښے شیندلے شوی دی ..... خلق دی چه دَ ما ما نه راچاپیره شوی دی ..... زهٔ هم ورنږدے شوم ....." هلکه ماملے څهٔ چل دے ." ماملے خټ خټ چه په خندا شو

......"یره مرچکیه: ارمان دے چه ګړ غونډے مخکښې راغلے وے عجیبه ډرامه وه کنه"...... "ته حال اووایه چه څه چل شوے دے"...... مرچکیه ته په خدائے باور اوکړه چه دا غټ سړی په دے سړک داسے بازیګرے اوو هلے چه لکه د ماشومانو ئے خرپوسے اوکړے"...... (خندا) "یره مامړے دا عادت رم د ډیر بدی شی چه نه به د خبرے سروی اونه لګی او ته به چرچټې وهے، وه زورورهٔ سمه خبره اوکړه".... "مړه دا برسنړے والا نه دے؟ ته ګوره ورته چه داسے پړے سترګے پټے دی چه په لاره ځی نو هر و زمکے ته نه ګوری. هلکه کور آبادو چه په لاره ځی نو لږ زمکے ته خو هم ګوری کنه...... دا دے چه زمکے ته ئے نه کتل نو د کیلې په پوستکی ئے پښه راغله...... ته په رب باور اوکړه مرچکیه چه دا یوه پښه ئے لاړه باچا بامخیلو ته اورسیده او دا بله پښه ئے د قصه خوانئ په دے مینځ کښے پاتے شوه او تم تړاق شو چه د سړک دے مینځ له راخطا شو...... (خندا) نو مرچکیه آشنا چه دا غټ پیټ سړے په ډک بازار کښے لکه د ماشومانو په خرپوسو شی نو دا خو ژوندی دی زهٔ ویرم چه مړو له به هم ورپورے خندا ورشی......

ما مړه ده چه دا خبره اوکړه نو ډ ده سره زما يوه لمبه پوره شو. دا اوس خدائے روئ او منه ډ خندا خبره ده. وه کور آبادو دا موږ به کله ډ ژوند طريقے زده کوو. دا موږ به کله په ښه بد کښے تميز کوو. دا موږ به کله ډ ژوند ډ اصولو نه ځان خبروو. دا اوس خدائے روئ او منه انصاف دے چه هر څوک به په لاره په بازار کښے روان وي او لکه ډاوښ به شخوند وهي. کيله خوړلے پوستکے ډ بازار مينځ ته لرې کړے. مالته خوړلے، پوستکے لکه ډ فټ بال په لته وهلے ...... په دغه پوستکي ته راځه پښه پرے ابزده او خرانګے درانګے په بازار کښے راغورزيږه بل راځه په پوستکي پښه خويږدلے او بوړی بوړی په بازار کښے په خرپو سوکيږه ...... ډ چا سر مات. ډ چا لاس او ډ چا پښه .... نو آخر دا کوم انصاف دے. انسان خو هله انسان بللے شي چه ډ انسانيت چارے کوي. کني نو په انسان او حيوان کښے فرق څه پاتے شو؟...... راشئ رونړو چه لږ غونډے ډ سوچ او فکر نه کار واخلو او ډ ژوند ډ آدابو نه ځان خبر کړو...... په لاره کوڅه او بازار کښے په ولاړے يا په روانه خوراک کول ښه عادت نه دے، پوستکي په لاره په سړک غورزول

ښه خصلت نه دے ...... هرڅه چه اوخوړئ نوپوستے
ئے یو خوانه یوے ډډے ته غورځوئ. اوس خو شکر
دے موږ آزاد قوم یوُ، نو دا سپکے چارے زموږ سره نه
ښائی. دا سپک عادتونه به اوس پریښودل غواړی. که
موږ دا عادتونه هیر نه کړل نو د مهذبے دنیا اوسیدونکی
به راپورے خندا کانے کوی ...... !

هم په دے سوچونو کښے ډوب ولاړ وم چه په دے
کښے لالے بخش بیاراغلو....

"کیوں لالے مرچ کیوں کلوتیں."

"بخیر بخش. وے هلکه ته خو بیاراغلے."

"هاں یار کورنه سوال جواب شوی دی چه څاخوے
نه اښوُاں ډنګ وهلے دی."

"اښوُاں ؟..... اښوُاں څه ته وائی بخش."

"نه اښوُاں نه پیژنے."

"نه خدائے واستے که ئے پیژنم."

"او بچهو بچهو ته پیژنے نه پیژنے."

"لړم ؟......

"او او لړم. لړم."

(خندا) "یه خدایه پاکه. تا سو اوس لړم ته اښوُاں

وایئ .... ؟ سم دم لږم نه مو اخوتان جوړ کړو؟ "....

"او نو نه خدائے خوار کړی، هره ژبه کښے الګ الګ نام دی نو...."

"یره الګ الګ نام به وی، خو دا اخوتان لوم خو زم بالکل نه دے خوښی..... لږم نه... لو اخوتان - یره خو ...... (خندا)

جوارګر

(خندا)…. يره دا ښے آورم چه دا غله چه دی نو ددئ ډير زړه وروی، او د زړهٔ ورتيا سره سره ډيرے کرکے هم دی، دا خبرهِ به خدائے خبر چه صحيح وی يا غلطه…. په دے رم څه کار نشته …… خو زهٔ خو چه دے جوارګرو ته فکر اوکړم نو زهٔ ويم چه د ددئ نه زيات زړه ور اوسپين سترګی غلهٔ خو به هم و د خدائے په مخلوق کښے نور هم و څوک وی نه….. تا سو خو به وايئ چه هلکه جوارګر خو جوارګر دی خو ورسره غلهٔ خو نه دی….. او! زهٔ هم دا منم چه جوارګر جوارګر دی خو ورسره غلهٔ هم دی …… او غلهٔ هم دا ښے چه ډير زړهٔ ور او ډير سپين سترګی …… دا جوارګر چه څهٔ وخت پيښړهٔ جوړه کړی او جوارئ ته د پښو په سر کښينی….. او چه څه وخت دا نه ميدان ته راپره شی،….. نو هر جوارګر دا نه پوره نه کوی، شهيد بابا ته سلام کوی، او دا سوال کوی چه

خدایه په جولئ کښې م خیر واچوه ..... (خندا) یعنې د
خدائے پاک نه دا سوال کوی، چه اے خدایه پاکه نه راباندې
جواری اوکړې ..... د جوارئ د کړے سوال د خدائے پاک نه؟
نعوذ بالله . یعنې د ګناه په کار کښې د خدائے پاک نه د امداد
سوال کول؟ .... د ګناه په کار کښې شهید بابا ته سلام
کول؟ .... دا سپین سترګ توب نه شو نو څه شو،.....
نه خدائے شته که د جوارګرو هومره غټې سترګے خو به د
بل مخلوق وی ...... اے بنده څه دا به نه پریږدو .....
دا جوارګر به په یوه پینډه کښې ناست وی، نو دوئ کښې
د یو بل جیبونو ته غله نه وی؟ ولے نه وی؟.... خدائے
شته چه د هر جوارګر زړه داغواړی چه د دے بل جوارګر
جیبونه م راتش کړے، او خپل جیب م ډک کړے......
هر جوارګر بل ته غل وی. هر جوارګر به په بل جوارګر
پوهه وی چه دے څما جیب ته غل دے، ولے بیا هم
په یوه پینډه کښې ناست وی د دانے په چکر او تری خپل
قسمتونه جنګوی...... (خندا) نو دا کښی سپین سترګتوب
نه شو، دا کښی نه شوه؟ ...... په عزیز لوسترګو غلا...
...... د دیځے مور نه څوځے تښتول ...... ائی نه کورئے خور
کړے چه دا خلق څه په بلا آوریدلی دی، دا خلق څه د

خدائے په قهر آوریدلی دی، ښځه پوهیږی وے بیا هم پوهیږی، چه پوهیږی او بیائے هم ځانونه ناجانړه کړی دی نو دَ دا سے مخلوق سره به سړے څه اوکړی..... اے دادی جوارګر ناست دی، نشَ کسان دی..... دَ سحر نمرخاته نه ناست دی..... دَ پښو په سرپه مزکه، یخه لکه واوره زمکه...... اوږدی تږی او نهر..... نه دَ ځانه خبر دی نهٔ دَجهانه...... نه دَ خوراک غم، نه دَ څښاک فکر..... دانه ده چه بے واره میدان ته راڅره کیږی..... کنځل دی چه دانے ته کیږی...... هر ځل چه دانه غورزیږی نو ورسره سم دا آواز راځی....." چک ! ائی ستا..."(خندا) ....." ششش، ائی ستا"..... (خندا) "تری، ائ ته..... ته.... !" یاران دانه راپورته کوی، او دا نه لړه کوی.... اوَ هر نوے چکر چه شروع کیږی، نو دَ پینډے نه یو ټنګ تور لاس راوړاندے شی او دَ روپو دَ ډیری نه دَ بینځو یا لسو روپو نوټ دَ غوږه او نیسی او ځان ته ئے راکاږی ..... او کمال دادے چه یو جوارګر هم ورته غږ نه کوی یو جوارګر هم پرے اعتراض نهٔ کوی، چه هلکه کډ وسریه وے ؟ هلکه خیرخو دے؟..... (خندا) خو جوارګر آشنایان غږ نه شی کولے ځکه چه دغه دَ ټک تور لاس خاوند ته پوَی

یا "نالی" ویٔیلے شی - پړی به دَ هر چکر نه یو نوټ را کاږی که دَ پنځو روپو وی که دَ لسو روپو وی ، داد هغهٔ حق دے دادَ هغه دَ مور پئ دی ...... جوارگر غوبیانان ټوله ورځ دَ چیو په سر په ناستے ، ټوله ورځ دَ زمکے په دربولو، دَلاده باده اوځی - ټوله ورځ ئے په چکه او تږی دَ خلے وښکی اوشلیږی او چه ماښام له دَ هر جوارگر نه ټپوس اوکړے نو ...... "یار واﷲ سل رم بیالودے ، ..... یار واﷲ پنځوس رم گټلی دی نو هغهٔ یو قسم پوره نه کوی او بل راخلاصوی چه ایله شل روپئ رم اوگټلے .... (غندا) نو یا هلکه داختۂ چل دے ، یو سل ، یو پنځوس او یو شل بیالودے اوگټو نکی صرف شل اوگټلے - نو هغه باقی اووه نیمے شلے روپئ څه شوے؟ ..... هغهٔ لاړے دَ پړی ما ما جیب ته - خو مره په آسانه ئے واخستے ، خو مره په آسانه ئے غلا اوکړه ، او چه دَ چا غلا ئے کوله هغوئ ورته په غټو غټو کتل ، ولے بیائے هم ورته څهٔ ویٔیلے نه شو ...... نو ځکه زهٔ وئیم چه اے دَ یو بل جیبو نه غلو رونړو ، جواری غلا ده ، تاسو ټول دَ یو بل جیبونو نه غلی یئ ، نو ځکه خو ټول داسے خوارو زاریئ کنه ، هغه دَ رحمان بابا خبره چه سه

کوهے مه کنه ذَ بل سری په لار کښې
چرے سنا به ذَ کوهي په غاړه لار شي

(خندا) خو دا جوارګر دومره زوَرور عالم دے چه هره
ورځ بل نه کوهے کنی ، هره ورځ په دغه کوهي کښې پخپله
وریږیږي وے بیا هم ذَ چپل عادت څخه مجبوره دی .....
بیا هم چه ترڅو پورے دوئ ذَ سحر نه تر ماښامه پورے
ذَ چیو په سر نهر نهور کښې نې ، او دا ناروا ګټل او نه
غزه وی نو په دوئ ساعت نه تیریږی - یه دونړو!
یه جوارګرو رونړو ، یه مسلمانانو رونړو ، دا څه کوی؟
دا وے ذَ ځان سره دشمنی کوئ ..... کوم جوارګر
بلډنګونه جوړ کړل ؟ کوم جوارګر موټرونه واخستل ؟.....
نه خدائے شته که یو جوارګر هم ذَ ښه ورځے مخ لیدلے دَے
..... او ضم چه ذَ جوارګرو په خوَلے ذَ پړ خاوندانو بلډنګونه
جوړ کړل ، موټرونه ئے واخستل ، عیشونه عشرتونه کوی -
او جوارګر چه څنګه خوار وو دا سے به خوار وی ..... دنیا ئے
خرابه ، آخرت ئے خراب ، په معاشره کښې ورته خلق په
سپک نظر ګوری ، او ذَ خدائے په نزد هم ګنهګار او مجرمان
..... (خندا) نو بیا ذَ داسے جوارئ فائده څه ،..... ذَداسے
خوارئ میوه څه ؟..... نه خاورے نه ایرے ..... هسے ذَ بل

دپاره ځان کړوك او خاورے په سر نوستل دی..... نوځکه درته زۀ وايم چه اے جوارګرو رونړو! راشئ دا جواری پريږدئ. راشئ دا خواری پريږدئ، شکر دے خدائے پاک درله لاس پښے درکړی دی. شکر دے صحتونه ئے درله درکړی دی، شکر دے دچا نه کم نه يئ. هرڅۀ شته خو صرف احساس مو مړ شوے دے. ضميرونه مو مړۀ شوی دی..... دلاس پښو محنت درته مړګ ښکاری..... په مزدورئ درته ځان بد ی ښکاری. په محنت درته ځان بد ی ښکاری..... تاسو وايئ چه په ناسته ناسته مالداره شوے. تاسو وايئ چه په يو ورځ کښے موجيبونه د روپو نه ډک شوے. خواے رونړو، ستاسو ډير رونړه په دے ارمان دګور تورو خاورو ته تلی دی..... تاسو به هم يوه ورځ دجوارئ په پينړه کښے ناست يئ، شتش به مو دخلے نه وتلی وی، او تږی به مو په ځنګه کښے پا تے شوے وی، نه به مالداره شئ او نه به موجيبونه ډک شی او بوری بوړی به ددانے دپاسه پراته يئ.....نو بيا؟ ..... بيا دا سے چل اوکړئ چه دا کومے پيسے چه تاسو هره ورځ په جوارئ دړه کوئ، په دغه پيسو څۀ کار روزګار شروع کړئ،..... دحلالو ګټه به وی، خدائے پاک به پکښے

برکت واچوی بیئهٔ گذاره به مو پرې کیږی. یهٔ زورَور دوراشئ
تا سو خولې ، دَ دے حلالے ګټے خوند واخلئ ، راشئ تاسو خو
لږ دَ محنت دَ ګټے خوند واخلئ چه په اندازه ئے پوهه شئ
چه په حلاله ګټه کښے څومره خوند دے ...... نه پوهیږم
چه تاسو به دے خبرو به څوک عمل اوکړی او که نه ؟.... خو
اے خدایه ته په خپل فضل او مهربانئ سره دَ جوارګرو رونړو
زړونه دَ جوارئ نه تور کړے ، حلالے ګټے ته ئے پام کړے ،
چه څنګه دا په معاشره کښے سپک رونړه دَ عزت او قدر ځائے
بیامومی . آمین !

○

حلوايان

(خندا) ..... دَ اختر په ورځ چه دا ماښام
ماښام کيدو نو دَ ټولو خلقو معدے او خيټے خرابے وے
دَ چا اکرے خراب وو، او دَ چا په ګيډه کښے نرے نرے
درد کيدو، ځما دا عادت دے چه زهٔ دَ ځان سره دَ خيټے
خوږ، دَ غابښ دَ درد، دَ هاضمے او دَ زکام وغيره داګولۍ
ساتم۔ او ټول کلے ځما دَ دے عادت نه خبر دے، چه دَ
مرچکي کره دَ هر قسم ګولۍ هر وخت موجودوي.....
نو چه دَ ماښام او ماسختن دا علاج کيده نو.......
ډبه ډبه ډبه چه دروازه او ټکيده ...... دو ټپی نه
ناست وم، خو روټئ م په ځائے پريښوده او بهر ته
راغلم......" ماما دَ پلار م په ګيډه کښے درد دے که يو
دوه ګولۍ درکړه وی نو پلار م وے چه در دِ کړی".....
او..... راغلم هغه له م دَ ګيډے دَ درد ګولۍ ورکړے
..... او چه روټئ ته کښيناستم۔ نو په دے کښے بيا

ډېر ډېر ډېر چه دروازه اوډبېده..... زوېټۍ مه بیا پرېښېبنوده او ورغلم ......" مرچکیه یار هاضمه مې خرابه ده، داسې اکرمې راځي لکه چه چا اګنۍ خوړلی وی.....

اوخدائۍ شته که هیڅ مې هم خوړلی دی خو اکرمې مې خراب دے، نو که ډ هاضمې څه ګولئ مولئ"..... (خندا)

او هغه چه سحره راسې عزیب هیڅ هم نه وو خوړلی هغه لهٔ مې ډ هاضمې ګولئ ورکړے ...... مړو خو سړبه موڅه خوړوم، هغه روېټۍ نه چا په آرام پرے نښودم. ډ چا هاضمه خرابه وه، او ډ چا به ګیډه کښې نرے نرے دړد کیدو..... او کمال دا دے چه هرچا به داوے چه خوړلی مې هیڅ نه دی، خو داچل راباندے شوے دے نو ...... (خندا) او واقعي چه عزیبانانو ډ سحره راسې هیڅ هم نه وو خوړلی ...... نهر نهور ګرځیدل خو بیائې هم ګیډه خوږه او هاضمه خرابه وه...... داګنۍ او س ډ منلو خبره ده، چه زهٔ ئې اومنم، هلکه ګیډه لیونۍ ده چه هسې برناحقه به خرابیږی. دا ګیډے په روژه کښې ولې نه خوږیږے، دا هاضمه په روژه کښې ولې نهٔ خرابیده..... خو چه څنګه روژه تیره شوه نو معدو اوګیډو ولې ځېل کار پرېښودو؟..... (خندا) یرهٔ خو.....

هغه دَ چا خبره چه هيڅ به نهٔ ويم نو...... ولے دا زهٔ
کنی خبر نه يم چه دَ اختر په سحی باندے په توره خره
دَ هر چا کره يو خوا ته دَ چائيو خوتکونړے او بل خوا ته
دَ مينځو ديګچے په نغری سور وو...... نهر يو ماما دَ مينځو
دَ تالی نه پيښے راچاپيره کړے وے....... هرچا دَ غلے نه
پيکو جوړه کړے وه. خو پيکو خو مخ په لاندے مينځے راوُباسی
او دَ غلے پيکو مخ په بره مينځے رابنکلے. دَ مينځو يو سر به
تالی کښے او بل سر دَ غلے په پيکو کښے .... مينځے وے چه
لکه دَ تنستے دَ تارونو مخ په بره دَ غلے پيکو ته روانے وے
...... او هرچا چه به مينځو ځان ډيره کړو نو يو دوه
پيالئ چائے ورپسے اووهلے ...... او دَ اختر دَ مونځ دَ پاره
به ئے جماعت ته شت وهلے ...... دَ اختر مونځ ئے ختم
نيمګړے نيم خوره کړے...... اختر اُمبارکی کړے ......
او چه دَ جماعت نه بهر ته راوُوتو نو......

"ګلابيه اګئ دِ اوکنډلے ؟ راکړه ته يوه ماله"....(خندا)
او دَ سترګو په رپ کښے به دَ ماما په وښکو کښے دَ اغځے
اګئ زيړے رابنکاره شول...... او چه تر خپله کوره پورے
هر سړے راتلو نو دَ ګلابی، کنجی، لاتُو او مامدے نه
ئے په راتلو راتلو کښے لس اګئ دَ خپل کومی نه ورتيرے

کړے وے ..... هر ماما چه هرچاکره اخترمُبارکئ له
تلے دے نو دوه پیالئ چائے، څلور دانے لډوان، لس اته
دانے مِتهائی، څه چنړے چلغوزی، (خندا) دالږه خشکه
میوه کنه ...... نو دا هرڅه دے خلقو دے خپلو تنورونو
ته ورواچول ..... دَ غرمے ئے وریژے پلاوُونه اووهل۔
هرو خو هرچا دومره خوراک اوکړو چه څومره ئے دَ
ګیډے په کند و کینے راتلو۔ او اوس چه دَ هرچا نه تپوس
کوے نو هم دا قسم به خوری چه یار قسم دے که هیڅ
م خوړلی دی، خو بس دَ روژے کُلے دی، لږ ے اوبهٔ
ورته بهانه دی ..... (خندا) ته به وے چه په روژه کښے
چا په خوراک باندے صرفه کړے وه۔

دَ اختر ورځ هم دغه رنګ په غوټیمو تیره شوه۔ په
هیڅ څیز باندے موږ صرفه اونکړه، دَ هرڅیز خوند
موږ واخستو۔ او اوس دَ هرچاګیډه خرابه او هاضمه
بے خونده شوے ده، دَ ګیډے دَ درد ګولئ دی، چه
هر سړے ئے خوری۔ دَ هاضمے ګولئ دی چه هرسړے
ئے کړیوی ..... (خندا) نو یهٔ روږد و! یه کورآبادو، دَ
اختر مطلب خودا نه دے چه موږ دِ ګنی په خوراک ښنباک
باندے ځان دَ لاده باده اوباسو ..... نا ..... خوراک به کوو

خو چې څومره زمونږ په دې منوني کښې راځي ....
څښناک به کوو خو چې څومره زمونږ په لرمون کښې ځائې
وي ، دا سې خوراک نه چې بیا مو پرې کیږې خرابې او
هاضمې مو پرې بې توله شي ..... دا بې توله خوراک خو
خدائې شته که څاروي هم کوي ، نو مونږ کښې دَ څارو
نه هم زیات حرصیان شو ؟ پریږدئ مړو هسې مو دَ
ځان نه څه جوړ کړي دي (خندا) ..... دَ روژې داشلمه
ورځ چې شي ، نو دَ قصه خوانۍ بازار دَ متهایانو دوکانونه
رو رو دَ خپل ځائې نه مخ په بازار راخوښېدل شروع کړي
..... هره شپه یوَ یوَ سپق دَ خپل ځائې نه راخوښیږي
..... او چې دَ اختر په ورځ سحر کورې نو دَ خدائې په
قدرتو نو دَ حلوائۍ هریو دوکان دَ سړک مینځ ته رارسیدلې
وي ..... نو په دې اختر کښې هم چې دَ حلوایانو کوم
دوکانونه دَ سړک مینځ ته رارسیدلی وو ، هغه اوس
دو روځ په شا هره شپه یوَ یوَ قدم روستو کیږي .
او که خیري چې دَ اختر میاشت خلاصیږي نو هیله دا
دوکانونه به خپل ځائې ته اورسي ..... (خندا) تاسو به
وایئ چې هلکه مرچکیه را مخکښې شوې خو په لسو ورځو
کښې وو او روستو کیږي به چرته په یو میاشت کښې

.... (خندا) نو اوُ ! دَ روستو کيدو ميعاد ئے يوه مياشته
دے ، ځکه چه خدائے شته که دَ يو حلوائی ماماهم روستو
کيدو ته زړهٔ کيږی - هر حلوائی وائی چه داخلق ليونی
دی چه نور څه خوری خو مٹهايانے دِ خوری کنه ......
خير لاړو اختر تير شو ، حلوايانو ماما ګانو مٹهايانے بنهٔ
په درزګنې خرڅے کړے - دَ چا شکرونه او ٹالی خوداسے صفا
شول لکه چه چا په ژبه څټلی وی ، او چه چا ته څه لږه
ډيره مٹهائی پاتے شوه نو هغه ئے يوړه دَ دوکان په څلورم
کُټ کښې ئے کيښوده - په لوئے اختر کښې به که خيری
خرڅه شی ...... (خندا) ولے نو لوئے اختر څهٔ لرے دے
څهٔ ؟ خو دغه دوه مياشتے دی ورته ، او په دوه
مياشتو کښې مٹهائی هيڅ بلا نه وهی ، صرف رنګ به ئے
دو بړ غونډے شی ، خو دَ لوئے اختر په ورځ چه پر ے
ماماګان دا سپينه پٹئی اوګوی نو خدائے شته چه دَ مړو
ورنه هم په زړهٔ اوشی پاتے لا دَ ژوندو ...... اوُ اوُ په
ميلو کښې خلق په څيزونو کښې دومره چينجی نهٔ لټوی
هرڅهٔ پکښې تيله کيږی ...... دا بيله خبره ده چه بياد
چا په ګيډه کښې دړد وی او دَ چا هاضمه خرابه وی
...... (خندا) توبه خدايه توبه - تاسوبه وايئ چه هلکه

مرچکیه په دے کښې ملامته څوک دی، نو زونږ وزهٔ پکښې یو هم نهٔ ملامته کوم. هغه د پښتو متل دے، چه څه چرنده وراته او څه دانے لونډے..... څهٔ زمونږ قصور چه مونږ د ښهٔ او بد تمیز نه کوو، خواخلوګے، او څهٔ د دوکاندارانو ګناه چه هغوئ زمونږ د بے پرواهئ نه ناجائزه فائده اخلی. مونږ ورسره په راستئ او هغوئ راسره په ناراستئ چلیږی. مونږ ورله کره پیسے ورکوو، هغه راله کوټه څیز راکوی ..... مونږ ورله پوره پیسے ورکوو هغه راله کم څیز راکوی ...... دا بیله خبره ده چه نهٔ هغهٔ شل کړے او نه زمونږ نولس اتلس شوے..... دغه معامله هم دغسے روانه ده،..... تر قیامته پورے به دوکاندار هم دغسے دوکاندار وی او مونږ به دغسے آخستونکی یو..... دُوکاندار به خپل آخرت درنوی، او مونږ به د دوکاندار په ذریعه د آخرت د پاره توښه ورلیږو.....
الله پاک دے په مونږ کښې خصوصًا په دوکاندارانو کښې د حرامو حلالو تمیز راپیدا کړی.....

او پس له دے نه په حلوایانو ماماګانو پسے مرچکے نورے هم د ماے نهٔ غږدی...... ځکه چه هسے نه حلوایان ماماګان په غصه شی او یوه ورځ م په دے

کب‌کمیر پہ دے کپړئ اووهي ...... (خندا) اوُ! اوُ! ربښتیا وئیل تراخهٔ دي. او خدائے خبر چہ ډُحلوایانو ماماګانو ترېخے بہ څومره ترېخ وي. اللّٰہ رم دِ ساتي آمین!

دَاوزګارے نه بیکار ښهٔ دے

(خاندی) یره خو مشران دِ خدائے او بخښی، څهٔ دَ مزے خلق وو. هره خبره ئے دَ کانړی کرښه وه، هر متل ئے دَ کتاب دَ مینځ خبره وه...... خدائے دِ هغوئ په جنت کړی، ډیرے کوټلے کوټلے خبرے به ئے کولے...... هر متل ئے چه راواخلے، ته به وائے چه اوُ یره منم...... هره خبره ئے چه په مخکښے کیږدے نو ته به وے چه یره اوُ واقعی هم داسے ده...... مشرانو وئیلی دی چه دَ اوزګارے نه بیکار ښهٔ دے...... ما به دَ یو بل دَ څُلے نه اکثر دا متل آوریدو او په زړهٔ کښے رم سوچ کولو، چه یره دا لاڅنګه متل دے، زمونږ په اوزګارے ورځے پیسے ژبئ شوه او خلق وائی چه دَ اوزګارے نه بیکار ښهٔ دے...... (خاندی) یره څه اوویم نو...... ما به په دے خپل زړهٔ کښے همیشه دا وئیل، چه یره چه سړے بالکل اوزګار وی، هیڅ کارے نهٔ وی، سم دَ سحره پتا وی ته کټ دا کاږی، سپین دَ

پاغونډے بالښت سرته کیښودی، چلم ئے سرته ولاړ وی، او بوډی بوډی په کټ کښے پریوتٔ .... چه یوه ډډه ئے نظر ته گرمه شي، نو دوغونډے دا بل اړخ ټه ته مخامخ کړی، او هم دغه رنگ په کټ کښے په آوړیدو راوړیدو، ماسپخین شي، روټئ اوخوړے شي، بیا په کټ کښے پریوتٔ، چه دوه اړخه بدلوی چه مازیگر شي، چائے اوڅښی او بیا تر هغے پورے نظر ته پروت وی، چه نظر خپله مبارکه څهره ڈ عزة نه پناه کړی نه وی ...... دا څما ڈ ډیرے مودے راسے یوارمان وو- چه په دے زړهٔ کښے به م هر وخت چوکه کیدو- خو موقعه نه برابریده- دا سے اوزگاره ورځ م په قسمت کښے نه وه- دا ارمان م خدائے نهٔ پوره کولو...... او چه خدائے پاک نه پوره کولو، نو ما به څرنگ پوره کړے وے...... آخر پرون..... په دومره موده پس م خدائے پاک سوال قبول کړو.....پرون زهٔ بالکل اوزگار وم، داسے اوزگار چه هیڅ و هیڅ کارم هم نهٔ وو....... سم ڈ سحره م کټ بهرته راوویستو پټاوی ته م واچولو...... بالخت م سرته کیښودو- چلم م ڈ کټ بازو سره نژدے اودرولو او زهٔ لکه ڈ شاهجهانی لټ په کټ کښے پریوتم...... کله

ښځې ډېره نمر ته..... چه هغه ګرمه شوه، نو کسه ډېره نمر ته مخامخ کړې.....يو ځل، دوه ځل، درې ځل..... هسې بې شميره ځل واډېډيدم رادواډېډيدم..... په هر پنځه منټه پس به رم پکښې په چلم تيلې لګولو.....چه ډېر ساعت تېر شو، په اړخونو اړولو رااړولو ستړې شوم، نو ماوې ځکه خيري بس ماسپخين نژدې شو...... او چه روټۍ اوخوړو...... پاسيدم، کور ته لاړم . او د کوټې نه مې آواز اوکړو چه "ښځې روټۍ پخه ده؟"..... "روټۍ؟ (خندا) اخله خوره لاخو چه غرمه هم نه ده او ستا په ګيډه بيا اوګيده - ځما په خيال چه نن دې هډو کيږې ته فکر دې - د دغه ديوال سورې چه دې جارګي ته رااورسي نو که خيري تنور به لمبه کوم، ځه په آرام پټاوي ته پريوځه"..... (ځان سره) چه د ديوال سورې جارګي ته راورسي؟ - د نر لور داخو پکښې لا درې ګهنټې شته"..... مرې نن به دې لږ وختي تنور لمبه کړې وو - د ديوال سورې چه جارګي ته رارسي رارسي، نو سم ماسپخين به وي"..... "سر په ځنګه وختي لمبه کړم، نو کاروته مې لږ دې ځنه، شمله مې اوکړې، ځاڅه مې جارو کړو، لوښي لوګي مې اوويځل اوس مې هغه دې پيشترې ساګ په نغري سور کړې دې"

او زهٔ دا دے ناسته یم دَ زرغونې قمیص ګنډم، زهٔ عقربه څه اوکړم، څهٔ یوازے روټئ خو نه ده چه زر زر ئے تپه تپه په تنور ورپورے کړم، او تاته ئے په مخکښے کیږدم۔ څه ایماندار ه په آرام پتاوی ته کښینه، چه روټئ تیاره شي، زهٔ به پخپله هلک دراولیږم۔ (خندا) ...... نوتاسو نه څه پرده خدائے شته خدائے شته چه خړے روزے دَ کوره راؤوتم۔ کټ ته رم اوکتل خو ...... خوند ئے اونکړو ...... بیا رم ورته ډډے نه ټکیدے چه ډډه پکښے اونکوم ...... اخوا دیخوا رم اوکتل چه که څوک دَ خبرو پیدا شي، خو دَ خبرو هم څوک نهٔ وو...... ...... په خدایه څهٔ اوکړم ...... ماشومان هم نشته چه ډنډا ګولئ یا غزان ورسره اوکړم۔ چه ساعت رم ورسره تیر شي ...... خدائے شته په ځان پورے خندا راغله ...... چه هلکه مرچکیه په دے سپینه ږیره به اوس دَ ماشومانو سره ډنډا ګولئ کوے ...... ډیر به ښه ښکارے چه ...... یره خو ...... خدائے دِ بیخ دَ اوزګارے اوباسی، دا څه غم دے ...... نو څه اوکړم۔ آخر دَ یو دیوال بوتاړګی ترم ډډه اووهله۔ سر رم په زنګنونو کښے ورکړو، دَ سوچونو او فکرونو په تیال سور شوم او چه یو دوه جوتے رم اووهلے ...... نو رو شیطان راغلو......

په خوا کښې راسره جوخت کښېناستو، او راته ئې اووے چه مرچکه ! زوم خو دِ مرچکے دے، خو تریخے دے بالکل نشته ته خو دَ سره هډو سرے نه يې ...... ته ګوره خومره ورځې اوشوے، چه سيد امير ستا ډېټي پوله وهلے ده او تا ورته ګيله قدر له هم اونکړه ...... دا ستا پښتو ده، دا ستا غيرت دے ..... پښتون چه په جائيداد جنګ او نه کړي، په جائيداد غيرت او نه خوري، نو دغه بيا خان نه پښتون څنګه وائی ...... ده دَ ناسے پښتونه پاسه په خان کښې غيرت پيدا کړه ..... سيد امير ستا ډيو پټي پوله وهلے ده ته لا پرشه دَ هغه دَ دوؤ پټو پولے اووهه ..... او که هغه څه ټرت پرت کول نو شپږ دزے دے په بڼوه يو سه سمد سق ئې دے مغزو ته اونيسه، او شپږ واړه ګولئ ترے نه اوباسه، ..... دَ ده هغه بے دغيے کړي ..... چه بيا دَ چا پولې او نه وهي ......

يره ..... ستا سو نه څه پرده ...... دا شيطان ميرات مړے خو اَن لکه چه ځما په زړه کښې ناست وو، ...... دَ ډيرو ورځو راسے دا خبره ځما په دے زړه کښې خوسيدهٔ ..... خو دومره وخت راته نه ملاويدو، چه ما پرے چرے سوچ کړے وے ..... او آخر نن راته خدائے دَ سوچ موقعه

په لاس راکړه ...... او چه سوچ مې پرے اوکړو نو واقعي
چه سید امیر ډیر بد کړي دو..... ډیر د بے غیرتئ کارئے
کړے دو..... هلکه نامرده سید امیره، پوے هم څوک
وهي..... پوے خو چه څومره غټ او څومره لوئے وي نو
بنه وي ..... او ته خوار پړق اوس د پوڅو وهلو ته
کېنینا ستے. زه به تاسره پوئے شم. زه به دے سم کړم.
دا سے به دِ سم کړم چه بیا به د چاپوله نه وهے......

وینې مې جوش اووهلو ..... سترګے مې سرے شوے....
بدن مې د غصے نه زیګ شو..... بیره نشته سید امیر
چه نه پوهو اوس ورسره تور سپین معلوم کړم......

هم په دے خیالاتو کښې د غصے نه ځل پُل کیدم.....
چه په دے کښې هلک راغلو. آوازئے راته اوکړو چه (ماشوم)
....."بابا مول مې وئ چه لاشه لوټئ پکه شوه"..... بنه دوټئ
پخه شوه، څه شکر دے چه دا دوټئ خو پخه شوه.... چه
دوټئ اوخورم نو بیا به د سید امیر سره دا کار.... چه
کور ته لاړم نو بنځے مې چه مخ ته اوکتل نو راته ئے اووے،
"د زرغن پلاره دا دربانده څه اوشو، بهردِ د چا سره
جنګ اوکړو څه؟"...... جنګ؟...... نه ما خو د چا سره
جنګ نه دے کړے، ولے؟..... (خاندي) هسے داغوږونه

خو دِ دا سې سرهٔ دی لکه چه ډَچاسره دے جنګ کړے وی؟ ..... جنګ ہم نه دے کړے ..... خو جنګ به اوکړم ....." سړیه خدائے ته اوګوره جنګو نه منګونه راله مه کوه، نه ہم شته ډَزړهٔ زور۔ خدائے دِ تهانړے کوتېئ راته نهٔ بناځی۔ په دے سپین سر په تهانړو تحصیلونو ګښے نه شم لوغړیدے ..... ډَچاسره دِ جنګ ته خوړلے ده؟... اوزګار مهٔ شه چه اوزګار شے نو څه پسات به جوړیږی؟ .....

یره بنځے خو دینه ہم خوتکیږی ته اوس دے سیدامیر ته اوګوره، چه دهٔ څما ډَپتی پوله وهلے ده، او بیا دومره غټے سترګے ئے دی چه هغه عذر قدر له ئے هم راته اونکړو، چه یره ګنی غلطی رانه شوے ده، خیر دے بیا به دا سے نه کوم۔ بنځے ہم چه خبره واوریده نو پوئے شوه چه ډَسړی کړهٔ وړهٔ بنهٔ نه دی۔ روغوندے ئے راته اووے چه تا پوله په خپلو سترګو لیدلے ده چه سیدامیر وهلے ده؟..... نه په خپلو سترګو ہم نه ده لیدلے، خو شمروزی راته په هغه ترق خبره راوُرسوله چه سیدامیر ستا پوله اووهله..... زهٔ اوزګار نه وم ګنی په هغه وخت به ما سیدامیر ته چل بنودلے وو......

(بنځه) څهٔ ته بیخ ډَشمروزی شیطان اوځهٔ، ډَهغهٔ

خو سیبوائے دَ شیطانئ نه هیڅ و بالکل کار نشته، اۍ ته دُدهٔ بو نسپټې اوځه، زوړ شو، خو دَ شیطانئ نه منع نهٔ شو...... دَ شمروزی په خبرو پسے مهٔ ځه، ډیر شیطان سړے دے، پخپله پټې ته لاړ شه، خپله پوُله اوګوره، که سید امیر پوله وهلې دی، نو په قلار به حوصله ورسره خبره اوکړه چه دا دِ بیا نه دی کړی. جنګ جهګړے ته ضرورت نشته، سید امیر خو ډیر ښه سړے دے اوُ......

بس بس بس ښځې خبره رِم مغزو ته ورپریوته...... روټئ خورم نو ورځم چه اول خپله پوله اوګورم، که دَ شمروزی خبره رښتیا وی نو بیا به دَ سید امیر سره خبره اوکړم، که وے منله نو ښه په ښه، او که وے نه منله نو بیا به ګورو....

...." اۍ ایماندار شه، اول خپل غوږ کتل پکار دی، بیا که په سپی پسے منړے وهے نو خیر دے!"....(خاندی) ښځې په جنت شه نن خو دا سے پخے خبرے کوے.... را وړه چه روټئ اوخورم......

روټئ رِم اوخوړه..... په بړو رِم ګوتے اووهلے پټې ته لاړم چه پټې ته اورسیدم، روغونډ ے سید امیر دَ ګنو دَ پټې نه راوُوتو، بره کړه ئے راسره اوکړهٔ، او ځما دَ خبرے نه مخکښے ئے خبره شروع کړه چه دا سے ځما هلک ستا پوله وهلے وه،

هغه رم پریږي عزت کوو، پوله رم بیا واچوله، خو هسې نه چه ته خفه نه شې، هلک دې پوهٔ شوې نه دې......
سید امیر خبرې کولې او په ما باندې یخې یخې اوبهٔ توئیدې په خپل زړهٔ کښې ملامته ملامته کیدم..... د پتي نه ینیغ راغلم کور ته، بهر په کټ کښې کښیناستم، او سوچ رم کولو چه اوزګار تیا څو مره لوئې لعنت دې. اوزګار مازغهٔ د شیطان جاله وي، دومره ورځې چه اوزګار نه وم، لو نهٔ راسره د پوهٔ غم وو او نهٔ د سید امیر...... خو چه اوزګار شوم نو جنګ جهګړې ته تیار شوم..... هم په هغه ساعت رم لاس پورته کړه چه" اے خدایه د اوزګارے ورځې نه رم ساتې"..... لاسونه رم په مخ راښکل (خاندي) او وم منله چه یره د مشرانو خبره واقعي چه رشتیا ده چه....." د اوزګارے نه بیګار هم ښهٔ دې".

○

دَ مرګ ځانګوکانے

(خندا) یره مرګ خو حق دے کنه ؟..... او په دے کښے شک نشته چه مرګ خو حق دے،.... دَ مرګ نه خوخلاصے نشته. هر دَ ساه څښتن به یوه ورځ دا دَ مرګ څپیره څکی. نو چه دا ژوند او مرګ دا سے لازم او ملزوم څیزونه دی، نو بیا پکار ده چه هر دَ ساه خاوند په ژوند باندے یوځل دَ مرګ خوند واخلی، او که دَ مرګ خوند نه شی آخستے نو دَ مرګ چپے خو دے ارو مرو په ځان تیرے کړی.....(خندا) تاسو به وایئ چه هلکه مرچکیه دَ مرګ چپے څنګه په ځان تیرے کړو ؟..... نو..... ما ته هم چه ګلاب ماما یوځل صلاح راکړے وه، چه مرچکیه دَ مرګ نه آګاهو په ځان دَ مرګ چپے تیرے کړه، نو خدائے شته چه زهٔ هم ستاسو په رنګ حیرانه شوے غوندِ ووم. او ما هم دَ ګلاب ماما نه تپوس کړے وو چه ماما

دَ مرګ چپې څنګه په ځان تیرے کړم؟..... نو هغه راته مُسکے غونډے شو...... او نو زئے هیڅ او نهٔ وے خودومره قدرله ئے اووے چه ویګن کښې لاړ شه کاکاصاحب ته، .....یا مردانۍ ډهوبیانو ته، نو پخپله به پوئے شے......

دَ ګلاب ماما داخبره ما په پیسکی پورے تړلے وه او دارم کلک نیت کړے وو چه دَ مرګ دَ چپو خوند به ضرور اخلم....... (خندا) نو رونړو دَ تاسو نه څهٔ پړده ما په ویګن کښې دَ کاکاصاحب او دَ مردانۍ ډهوبیانو چکر اونکولو....... او تاسو یقین اوکړئ چه دَ ګلاب ماما خبره په روپئ کښې تل پیسے کره وه. ګلاب ماما خو صرف چپې یادوُلے او زهٔ خو وئیم چه دَ مرګ چپې نه بلکه دَ مرګ سیلابونه راباندے تیرشول....... دَ نوښار نه چه په ځانګو کښې کښیني... (خندا) نه خدائے شته که ورته ویګن اووییم.......ولے دا ویګن داسے وی څه، لکه چه دا دَ کاکاصاحب په لاره چلیږی....... زهٔ خو به پرے هیڅکله دَ ویګن نوم او نهٔ شرموم،..... نو رونړو دَ نوښار نه چه په دغه کړکیچو کښې کښیناستم،...... نو داخلق وو چه لکه دَ قلنګی

چرګانو ئے په دے ځانګو کښے رامنډل. او چه څه وخت
د خلقو په اوږدو باندے ئے هم خلق سوارهٔ کړل، نو
ځانګو د نوښارته د کاکا صیب په لور روانه شوه....
.... خلقو بِسْمِ الله کانړے او ما قل هو اَلْحَمْدُ په ځان چُف
کړل ...... وے نو د کاکا صیب په لاره تګ څه داسے
آسان کار دے. او بیا په ځانګو کښے؟....... نه خدائے
شته مړو چه دا دعا ګانے تاسو په ځان چف نکړئ
چه کاکا صاحب ته خوداسے په آسانه صحیح سالم اونه رسئ
...... د ویکن، نه رشتیا د ځانګو خاوند ان خو هسے
هم د سرنه دنکلی وی ...... او بله خبره داده چه د
خدائے قدرت دے چه چرته هم ایکسی ډنټ اوشی
نو ډرائیور او کلینر دواړه پکښ غټ بچ شی او د سورلو
پکښے د چالاس مات، د چا پښه ماته او د چا ساه
وتلے ......

(خندا)..... نو دا ډرائیوران او کلینران په دے
هم بډ داړه وی نو ځکه ئے د سرونو نه هم داسے
په آسانه دنکلی وی......

خیر سر به موخځه خوږوم ..... ځانګو د کاکا صیب
په لوری روانه شوه،..... فریاد دنه وو چه ځانګو به

کول...... زبیرګی وو چه دَ ځانګو نه به راپورته کیدل
......یو چړقارے او چنګارے وو چه دَ ویګن دَ اړخونو
..... تشو...... ښپښتو او پایو نه به راختو...... او چه
څه وخت ویګن دَ بدرشو په خوا کښے دَ خوړ نه مخ
په بره اوختو نو...... فریادونه نور هم سیوا شو..
...... او په ویګن کښے دننه دندوکار شو..... حق حیران
ووم چه یه خدایه پاکه دا لوګے دَ کومه راغلو.....
دا دوړے او ګردونه دَ کوم ځائے راخوارهٔ شول.....
...بهرخو سیلئ هم نشته چه دا دومره دوړے په دے
خیز کښے رادننه شوے..... (خندا) یو دَ ویګن فریادونه
او بل دَ خلقو ټوخې مزکه او آسمان سره یو کړی وو،
سورلئ دَ یو بل په عوږونو کښے ټوخیدے...... دَ
یو بل په خُلو کښے یه بوغیدے...... دَ کاکاصیب پُښ
غږونو کښے به دا ویګن څو څو ځله داسے په یو طرف
کوږ شو، چه ماوے لاړه چوړ مرچکیه دَ ژوندا اوریشه
دے پوره شوه۔ اوس به ویګن لکه دَ لټ سنړا په
ګسه څنړه سوملی...... او دَ ده سملاستل زمونږ دَ
ټولو سورلو په قبر کښے سملاستل وو...... خو خدائے
پاک به خیر کړو...... هم دغه رنګ په ټیلو په دیکو

او شرمندګو کاکا صیب ته اورسیدو...... او چه څه وخت سورلئ ذ ویګن نه کوزے شوے نو ذ چا په مخ کښے تپکے وینه نهٔ وه........ وے نو ذ مرګ چپے پرے تیوے نهٔ شوے څهٔ........ دا ذ مرګ چپے دا سے آسان کار دے ؟...... په کاکا صیب کښے رم چه ذ ویګن جائزه واخسته،...... ذ ویګن مخوکه،...... سپیږمے...... غابښونه او لکئ رم اوکتل، نو ذ خدائے قدرتونو ته حیران شوم،....... یو اندام ئے هم سالم نهٔ وو...... یو ځائے هم جوړ نهٔ وو...... ټول جاجوپاچو وو..... (خندا) او ماته ذ قصابانو ماماګانو ذ حلالے هغه څاروے رایاد شو، کوم چه قصابان په منړ هغے کښے ډیر په خوارئ راپیدا کوی، او بیائے په اړمونو او دربولو ترکوره پورے رارسوی...... دا هم ویګن نهٔ وو، بلکه ذ حلالے ذ څاروی په رنګ جاجو پاچو اوذ هډ وکو ترنګړ وه......

ما خو چه په دے ویګن کښے دا لیکلی اولیدل چه :
"ویگن میں سوار ہونے سے پہلے اپنے گناہوں کی معافی مانگ لے۔ شاید یہ تیرا آخری سفر ہو"... (خندا) نو خدائے شته چه خولے رابانده راماتے شوے۔ او دا یقین رم پیدا شو

چه دَ ویګنې دَ مالک هم په خپل ویګنې دا اعتبار نشته
چه دے به کاکا صاحب ته صحیح سالم اورسیږی.....
(خندا)......

نهٔ پوهیږم چه دَ کاکا صاحب په لیکه چه دا کوم
"څیزونه" چلیږی او سورلئ بوزی، راپوزی، چه دا دِ
آشنایانو دَکوم ځائے نه راپیدا کړی دی..... ځکه چه نهٔ
ئے دَ ماډل پته لګی، او نهٔ ئے دَ ملک پته لګی......
(خندا) ځما خو دا سے خیال راځی چه دا ویګنونه دے
آشنایانو چرته پخپله جوړ کړی دی....... چرته به
ډیران دَ موټر یا ویګن خپه موندلے..... چرته لاره
کوڅه کښے کمانئ موندلے...... چرته په کباړی بازار
کښے ټاپ او ټائروننه موندلی...... دا ټول څیزونه یو
یو راجمع کړی...... او چه دَ ویګن ټوټے پرزے رابرابر
شی، نو دا رونړه ترے نه دغه څیز جوړ کړی، چه
نوم ورله ویګن کیږدی....... خیر دوئ ورله کهٔ
ویګن نوم ایږدی. که موټر نوم ایږدی، که تیز رفتار
نوم ورله ایږدی که هوائی جهاز ورله ایږدی، هرڅهٔ
نوم چه ورله یږدی ایښودے شی، ځکه چه مالکان
دی...... خو زهٔ به ورته هیڅکله نهٔ ویګن اووایم او

نهٔ موتږ...... بلکه ځانګو به ورته ویم..... ځانګو
هم هغه ځانګو چه په سورلو دَ مرګ چپې تیروی
...... (خندا)......

توبه خدایه توبه - دے حرص اوخودغرضۍ مونږ
داسے په مخه راخستی یُو، چه دَ انسان دادومره قیمتی
ژوند هم راته هیڅ هیڅ نه ښکاری..... دَخپل
غرض دَپاره دَ نورو انسانانو دَ ژوند سره لوبے کوو.....
دَ نورو انسانانو دَ سرونو سره لوبے کوو........ که
انسانان مړهٔ شی، خیر دے...خو چه زمونږ تنوروننه ډک
شی،.....که په انسانانو دَ مرګ چپے تیریږی خیر دے
خو چه زمونږ جیبونه ډک شی...... ضروری خیز دَ
خودغرضو تنوروننه او جیبونه دی، او دَ انسانانو
ژوند او سرونه څه دومره اهمیت نهٔ لری - ای
تهٔ کور دِ خورکړے، چه دَ کاکا صاحب دَ بیګے دَ ویګنونو
خاوندان به دَ خدائے پاک نه کله ویریږی...... دَ
مرګ نه خو نهٔ ویریږی.... خو خدائے پاک دِ ئے
په زړونو کښې څه کرکه راپیدا کړی، چه دَ انسانانو
دَ ژوند سره دَ دے لوبو نه لاس په سرشی.....

اے دَ ویګنونو خاوندانو! زهٔ دامنم چه تاسو

خلق دَ مرګ چپو سره بلد ه وی ـ خو لږ دَ کاکا صیب په خلقو باندے دم رحم اوکړیَ. آخردوئ غریبانان به ترکومه دغه دَ مرګ چپے زغمی. آخر اسانان دی داسختیَ به ټول عمر تیره وی او غېږ به نهٔ کوی.

یه زوره ورو بنه بنه ویګنونه خو آخستی دی دَ پنړیَ او لاهور پس لیکه مو اچولی دی. او دا کباړی مال مو دَ کاکا صاحب په لیکه راروان کړے دے......

یره خو ډیر بنه خلق دی دَ کاکا صاحب نو....څنګ دَ مرګ په دے ځانګو کښے نے خدائے شته که قدم هم ایښودے وے.

نو اے دَ ویګنونو خاوندانو! راشئ لږ دَ خلقو ژوند سره لوبے پریږدئ، او دا دَ مرګ ځانګو ګانے یوسئ کباړی بازار ته ...... نه نه خدائے ته اوګورئ چه کباړی بازار ته ئے مه اوړئ......ځکه چه هسے نه چه په کباړی بازار کښے درته دَ چارسدے دَ لیکے دَ ویګنونو دَ خاوندانو پام شی، او دا دَ فریادونو او زبیرګو باجے چرته هغوئ واخلی..... دا سے چل اوکړئ چه ټول په شریکه په یو قطار دغه ویګنونه راروان کړئ او دَ نوښار سیمنټ ته ئے ورلیږه کړئ

...... هم به ستاسو ځانونه په آرام شي او هم به دَ
خلقو دَ سرونو نه دَ مرګ سورے اخوا شي..... څنګه
خوښه مو ده ؟...... اې ته خدائ مو او بخښه.....
(خند() انساني همدردي دے ته ویلے شي۔ ٭

(ختم شد)